لا اله الا الله محمد رسول الله

# جهاد

# او

# د اُمت ځوانان

جهاد او د اُمت ځوانان

لیکوال: استاذ همت الله (حقمل)

نېټه: ۱۴۴۶/۴/۳ هـ.ق

بسم الله الرحمن الرحیم

# د کتاب په اړه

نوم: جهاد او د اُمت ځوانان

ليکوال: استاذ همت الله حقمل (خادم المؤمنين)

کمپوز او ترتيب: خپله ليکوال

چاپ: نه دی چاپ شوی

اړيکه

ايميل: hhaqmal600@gmail.com

واتساف: 93706004042+

**پاملرنه:** کتاب د الله تعالی د رضا لپار ليکل شوی، نشرول يې خپله جهادي دنده وګڼئ، په دې ثواب کښې ځانونه راسره شريکان کړئ او هيله ده چې الله تعالی تاسې ته هم د دې کتاب د ليکلو په اندازه ثواب درکړي.

کتاب د مبارزينو وروڼو سره، ډېره همکاري کوي، هيله ده چې په خپلو ليکنو کښې به استفاده ورڅخه وکړي.

# اهداء

- هغه غيرتي ځوانانو ته يې اهداء کوم چې د اسلامي اُمت د برم لپاره خپل ځانونه په وينو کښې لړي او د قربانۍ لپاره تيار دي.
- د تاريخ هغه اتلانو ته يې اهداء کوم چې د دين لپاره يې قربانۍ ورکړې دي.
- هغه مخلصو ځوانانو ته يې اهداء کوم چې جهاد کوي او محبت ورسره لري.
- هغه رجالو ته يې اهداء کوم چې له کفارو سره په دښمنۍ کښې سختي کوي.

# زمونږ هيله!

يوازينۍ هيله مو د اسلامي اُمت لوړول او كفري نظامونو رانسكورول دي، په دنيا كښې بله هيله نه لرو، مونږ د الله تعالی د دين لپاره پيدا شوي يو، ترڅو يې په نړۍ كښې لوړ كړو؛ مونږ د خپل رب جل جلاله څخه ډېر خوشحاله يو چې د خپل دين لپاره يې انتخاب كړي يو، د دنيا او آخرت لپاره يې په دې اساس د كاميابۍ او پرمختګ لاره راته پرانيستې ده.

# مونږ به د خپل دین لپاره جهاد کوو

مونږ به تر هغه وخته د حق دین لپاره جنګیږو، تر څو چې یا شهیدان شو او یا په ټوله نړۍ کښې د الله تعالی دین تطبیق شي او خلک غاړه ورته کیږدي، د جهاد مقصد تر یو خاص ملک، قوم او خاورې پورې نه دی چې ورپورې خاص شي، بلکې جهاد د الله تعالی د دین رسولو او ساتلو لپاره باید په ټوله ځمکه کښې وشي؛ تر څو پورې چې ټولې اسلامي خاورې له کفري ښکېلاک څخه نه وي خلاصې شوې، مونږ به خپل مقدس جهاد ته ادامه ورکوو، مونږ پیدا شوي د همدې دین لپاره یو، ژمونږ دنده د دین ساتل او خپرول دي، ژمونږ مسلماني د همدې لپاره ده، چې له کفارو سره دښمني او جهاد وکړو.

# جهاد مو د اسلام ساتنه کوي

له رسول الله صلی الله علیه وسلم  څخه وروسته الله تعالی د نبوت لړۍ ختمه کړه او پوره دین یې د مسلمانانو لپاره پرېښؤدو، د دین د ساتلو او خپرولو لپاره یې په دې اُمت باندې جـهاد  فرض کړو، تر څو مسلمانانو ته وروسته کفار مشکلات جوړ نه کړي او له خپل دین څخه یې محروم نه کړي؛ نو اؤس مسلمانانو ته په کار ده چې هېڅ کله د دې سترې دندې (جهاد) څخه لاس وانخلي، ځکه چې همدا د مسلمانانو لپاره د دین د ساتلو او په خپل ایمان د پاتې کېدلو لاره ده؛ مسلمانان به تر هغه وخته کامیاب او په دین باندې ثابت وي ترڅو چې د جـهاد مقدسې دندې ته په ایماني قـوّت روزل شوي ځوانان ولري او د دښمن په مقابل کښې جـهاد  وکړي.

## خپل قلمونه هم په جهاد کښې استعمال کړئ

ګرانو قلموالو! خپل قلمونه د اسلام په دايره کښې استعمال کړئ؛ د اسلام او مسلمانانو د خدمت لپاره خپله پوهه، استعداد او قلمونه وقف کړئ؛ د حق بيانولو لپاره د غيرت، صبر او استقاُمت غرونه جوړ شئ؛ د اسلام د بلنې لپاره د حکمت څخه ډک دوعتګران له ځانونو څخه جوړ کړئ؛ په ژبه کښې نرموالی خو حقانيت پيدا کړئ؛ خپل اعمال ټول له نبوي سنتو سره برابر کړئ؛ د مظلوم له حقونو څخه دفاع وکړئ؛ د ظالمانو د مخنوي لپاره په هره ممکنه لاره کښې کوښښ وکړئ.

# د مـوضـوعاتو لړليک


مقدمه ........ 1
د ځوانانو ارزښت او مسئوليتونه ........ 5
کفار د مسلمانانو وحدت له منځه وړي ........ 9
له ماشومتوب څخه يې مجاهد رالوی کړئ! ........ 18
اې ځوانه وروره! ........ 19
د ځوانانو سيالۍ او افتخارات ........ 21
مونږ د اسلام بچيان يو ........ 22
زمونږ په خير او بريا الله تعالی ښه پوهېږي ........ 23
د مجاهد صفات ........ 24
په استعمار او اشغال کښې فکري ځواک اصل دی ........ 29
مونږ تيار يو چې يو ځل د اُمت برم راتازه کړو! ........ 30
جهاد به نه پرېږدو ........ 32
اې ځوانانو! پاڅئ ........ 33
د نفسونو مشکلات قيادتونه له منځه وړي ........ 34
نن ورځ سرلارو ته اړتيا ده! ........ 37
له سختيو څخه مه وېرېږئ ........ 37
د الله تعالی بندګي زمونږ د بريا راز دی ........ 38
مسلمانان اتحاد نه لري ........ 39
زمونږ لپاره د الله تعالی مرسته کفايت کوي ........ 39
خپلې حورې مه شرموئ! ........ 40
کفار زمونږ له اسلامي فکر سره دښمني کوي ........ 41
مونږ ته دين تر هرڅه زيات ارزښت لري ........ 42
د عزت او برم تاريخ ثبت کړئ! ........ 43
يهود د تاريخ ذليله قوم وو ........ 45
رسول الله صلی الله عليه وسلم د قربانۍ نمونه ده ........ 47
اسباب په جهاد سره ترلاسه کړئ! ........ 48

خپل رزق د غنمیت مال وګرځوئ! ........ 50
قبولیت داسې وي! ........ 51
زمونږ ذلالت به زمونږ د عملونو نتیجه وي ........ 52
صحابه کرام زمونږ مقتدایان دي ........ 54
بې اطاعتي ........ 55
ځوانان د جهاد او قربانۍ لپاره دي ........ 57
د غټ هدف لپاره مو بچان وروزئ! ........ 57
په جهاد کښې ډېر زېري دي ........ 59
مسلمانان په جهاد ژوندي وي ........ 60
زمونږ او کفارو تر منځ دښمني الهي امر دی ........ 62
سختۍ تېرول د پخوانیو مسلمانانو سنت دي ........ 64
سرحدونه زمونږ لپاره د تقسیم پلمه ده ........ 67
که څوک جهاد نه کوي د کومې سزا وړ دي؟ ........ 71
ښه اخلاق نبوي سنت او د اسلام تقاضا ده ........ 72
مونږ پر خپل دین عزتمند یو ........ 73
د اُمت جهادي ځوانان د پیغمبرانو په پلونو ........ 73
سرحدونه او پولې د مسلمانانو اتحاد له منځه وړي ........ 74
د عمر رضي الله عنه په خلافت کښې د یو مسلمان ارزښت ........ 75
د فکري جګړې لپار باید کار وشي ........ 76
الله تعالی ته د قرب لنډه لاره ........ 76
د فساد خوښوونکو علماو انجام بد وي ........ 77
غیرت اساسي ماده ده ........ 77
خپلو بچیانو ته د تاریخ غزوات بیا کړئ ........ 78
د فکري جګړې اساسي موخه ........ 79
د ځوانانو فکرونه څومره منحرف شوي؟ ........ 79
کرکېټ او که جهاد؟ ........ 80
د مسجد نبوي ممبر ........ 93
ګرانو ځوانانو! ........ 95
په ټولو برخو کښې جهاد وکړئ ........ 97

زمونږ وينې او ځان دې تر دين قربان شي ........................................ 97
علماء دې خپل مسئوليت ترسره کړي........................................ 98
بهترين او د قدر وړ جسدونه ........................................ 98
د فکري جګړې تاثيرات څه وخت زياتېږي؟ ........................................ 99
افکار مهم دي........................................ 99
کفار خپل فکرونه زمونږ په ټولنه کښې ترويج کوي........................................ 100
د نن ورځې حاکمان دې خبر وي!........................................ 100
د قيامت په ورځ شهيد بې غمه وي ........................................ 101
کفار زمونږ له اسلامي فکر سره دښمني کوي........................................ 101
مونږ به بريالي يو........................................ 102
شهادت يو ښه هدف دی........................................ 102
شهادت د الله تعالی پېرزوينه ده ........................................ 102
دين خپرول قربانۍ غواړي........................................ 103
د جهاد پايله هېڅکله بده نه وي ........................................ 103
قېمتي وينې........................................ 104
عزتمند روح........................................ 104
د جنګ په وخت کښې د جنت تصور ........................................ 104
ترک الجهاد عامه وبا ده ........................................ 105
مسلمانان جهاد په مينه کوي ........................................ 105
جنت په سختيو ترلاسه کېږي ........................................ 106
د يو مسلمان ځوان په صفت........................................ 106
خواهشات ........................................ 107
قلموال دې اړين موضوعات تشريح کړي........................................ 107
جهادي احساس غنيمت وګڼه ........................................ 107
ځوانان دې د نړۍ مظلومان نه هېروي........................................ 108
د الله تعالی رضا ترلاسه کړه........................................ 109
خپلې ارادې کلکې کړئ ........................................ 109
ځوانان څنګه وروزو؟........................................ 109
استقامت مهم دی........................................ 110

د ځوانانو قرباني د تاريخ سنت دي ........................................ 110
يوازې په نفلونو تقواء دار نه يې ........................................ 111
د يو مجاهد په حيث وېره نه لرم ........................................ 111
فرض عين جهاد بايد تعطيل نشي ........................................ 111
دا امکان لري؟ ........................................ 112
د دين کارونه غيرت غواړي ........................................ 113
اې د سختيو مجاهده! ........................................ 113
اې د نړۍ بې غمه مسلمانانو! ........................................ 114
نن ورځ اُمت او جهاد سره لرې شوي ........................................ 114
چې نن ځوانان جهاد ونه کړي بيا نو کله؟ ........................................ 115
امت نن يو بدن نه دی ........................................ 116
د ايمان کړۍ مو قوي کړئ ........................................ 116
مونږ ځانونه دين ته وقف کړي ........................................ 116
ځوانان دې خپل مسئوليت وپېژني ........................................ 117
د اسلامي اُمت ځوانانو څوک دي؟ ........................................ 118
د ځوانانو شمېرنه د جهاد په صف کښې کېږي ........................................ 118
خپل فکر مجاهد کړئ ........................................ 119
د نفس غوښتنې د دنيا دي ........................................ 119
دښمن نور هم قوي کېږي ........................................ 120
د آخرت هيله لرو نو ځکه د قربانۍ لاره نيسو ........................................ 120
پوهېږې؟ ........................................ 120
ځوانان دې يو ځل تاريخ مطالعه کړي ........................................ 121
جهاد تر څه وخته دی؟ ........................................ 121
له هغه کارونو څخه مه وېرېږه چې ثواب لري ........................................ 122
يا الله تعالی کفار په قـوّت کښې دي ........................................ 122
جنت ترلاسه کړه! ........................................ 123
د جنت نعمتونه څنګه زمونږ حق دی؟ ........................................ 123
قرباني خو نيکبختي ده ........................................ 124
کفار د مسلمانانو دوستان نشي کېدای ........................................ 124

زمونږ مرګ دې د شهادت شي ........................ 125
ګرانه لوستونکيه! ........................ 125
مسلماني په جـهاد سره کېږي ........................ 125
کفار غواړي چې له جـهاد څخه مؤ منعه کړي ........................ 126
د ځوان عزم ........................ 126
د وفاداره خلکو ملګرتيا وکړه ........................ 127
ځوانان د اُمت قـوّت دی ........................ 127
خپل تاريخ مطالعه کړئ ........................ 128
مسلمانان بايد جـهاد د لمانځه په شان ادا کړي ........................ 128
بچيان مو د دين په ارزښت پوه کړئ ........................ 128
زمونږ بريا زمونږ په عقيده کښې ده ........................ 129
د جـهاد عبادت خوند لري ........................ 129
قلم او توره مه پرېږدئ ........................ 130
د الله تعالی لپاره د قربانۍ لاره ونيسئ ........................ 130
په صبر د الله تعالی مرسته ترلاسه کړئ ........................ 131
مسلمانان الله تعالی کامياب کوي ........................ 131
نېک بندګان الله تعالی جـهاد ته انتخابوي ........................ 132
د جـهاد ارزښت پېژندل مهم دي ........................ 132
څوک چې جهادي نظريه نه لري فکري اشغال دي ........................ 133
مسلمانان بايد فخر ونه کړي ........................ 133
مسلمانانو ته له خپل لاس ورپېښه ده ........................ 134
د قرآن کريم تعليم بچيانو ته ورکړئ ........................ 134
په دين عمل مو کاميابي ده ........................ 135
په الله تعالی يقين په کار دی ........................ 135
د جـهاد کولو بدله درک کړئ ........................ 136
د الله تعالی رضا ترلاسه کړئ ........................ 136
مونږ بايد د جنت ژوند درک کړو ........................ 137
مسلمانان بايد خپله د پرمختګ دنده وپېژني ........................ 137
سياسي او اقتصادي اړيکو مو دښمني کمه کړه ........................ 137

غيرت مهم دی........................................................................................ 138
جهاد وکړئ ........................................................................................ 138
د دښمن څخه د دوست هیله نه کېږي ........................................................ 139
د مسلمان لپاره مرګ بې غمي ده........................................................... 139
جهاد ته الله تعالی قدر ورکړی ............................................................... 140
جهاد د څه لاره ده؟ ............................................................................ 140
عمیر رضي الله عنه ۱۶ کلن شهید شو....................................................... 141
د کشرانو صحابه کرامو له جهاد سره مینه .................................................. 142
مرګ په جهاد کښې نه دی ..................................................................... 143
حق وایه چې په هر قیمت وي .................................................................. 145
غيرت څنګه وي؟................................................................................. 154
د کفارو د ذلت ورځې لرې نه دي ............................................................. 154
عاقبت هر وخت د مسلمانانو دی ............................................................. 155
کفار د مسلمانانو دوستان نشي کېدای ........................................................ 155
بیت المقدس زمونږ ټولو مسلمانانو دی ..................................................... 156
نن د اُمت د امتحان مرحله ده ................................................................ 156
زمونږ ایمان زمونږ د کامیابی نخښه ده ...................................................... 157
د دین خدمت د الله تعالی پېرزوینه ده........................................................ 157
د اسلامي امت ځوانان څوک دي؟ ............................................................ 158
دښمن خپل ظلم نه پرېږدي ..................................................................... 158
د دین لاره سختی لري........................................................................... 159
کفار زمونږ له دښمنی څخه نه غافل کېږي.................................................. 160

# مقدمه

**الحمد لله الذي جعل الجهاد فريضة على المسلمين، ورتب فيه الاجر والدرجات، والصلاة والسلام على قائد المجاهدين الانصار والمهاجرين وعلى آله واصحابه ومن جاهد في سبيله الى يوم الدين.**

امابعد: الله تعالی چې انسان ته کوم نعمت ورکوي، د هغه په اړه بیا پوښتنه هم ورڅخه کوي، مخکې له دې چې الله تعالی د یو نعمت په اړه پوښتنه راڅخه وکړي مونږ یې باید شُکر ادا کړو، د نعمت شُکر دا دی چې د الله تعالی د رضا لپاره د هغه نعمت څخه استفاده وشي؛ نو په همدې اساس دا د الله تعالی یو لوی نعمت ګڼم چې زما په ګوتو او قلم کښې یې د لیکلو توفیق ایښی دی، نو د دې لپاره ترڅو د دې لوی نعمت شُکر ادا کړم، ومې غوښتل چې د الله تعالی د رضا لپاره د جهاد په موضوع داسې لیکنې وکړم چې ځوانان دې مقدسې لارې ته تشویق شي او په دې پاکه لاره کښې زما کمزوري شخص هم یو څه برخه وشي؛ دا چې زه خو دومره استعداد او پوهه نه لرم، چې علمي او تحقیقي کتاب ولیکم، خو زما د ځنګ ملګري او دوستان چې زما لیکنې خوښوي او تشویق کوي مې، نو په همدې خاطر مې دا لاره انتخاب کړه چې خپلو لیکنو ته د یو کتاب بڼه ورکړم، ترڅو بااحساسه لیکوالان په خپلو لیکنو کښې ورڅخه استفاده وکړي،

لوستونکي یې په لوستلو له خپل تاریخ څخه خبر شي او په اوس حالت کښې خپل مسئولیت ته تشویق شي. د کتاب موضوعات ټؤل په جهاد باندې راڅرخي، دا ځکه چې د اسلامي اُمت روح جهاد بلل کېږي، که په اسلامي اُمت کښې د جهاد لپاره ځوانان موجود وو، جهاد روان وو، له کفر سره دښمني او مبارزه روانه وه، نو اُمت به هم ژوندی وي او که په اسلامي اُمت کښې د جهاد څخه خلک غافل شول، جهاد ترک شو، له جهاد سره آشنایی ختمه شوه، بیا نو اسلامي اُمت پاتې کېدل امکان نه لري، بیا به اسلامي اُمت او مسلمانان تل د کفارو او ظالمانو په پنجو کښې ښکېل وي د مظلومیت او محکومیت اوښکې به تویوي. هغه وخت چې افغانستان نه وو فتحه شوی، د جهاد کاروانه په افغانستان کښې روان وو، مجاهدین به په تشکیل تلل او سنګرونه په مجاهدینو ډک وو، هغه وخت مجاهدینو دا هیله لرله چې د الله تعالی په لاره کښې د سپېڅلي شهادت مقام ترلاسه کړي، د دنیا، پیسو او چوکۍ هېڅ فکر ورسره نه وو؛ کله چې فتحه راغله هغه د سنګر غیرتي مجاهدین وو، راغلل د اسلامي نظام د ساتنې، نفاذ او استحکام لپاره یې متې راونغاړلې، په حکومتي تشکیلاتو کښې ثبت او منظم شول، الحمد لله چې دا اسلامي نظام یې اوس هم ساتلی او محکم کړی دی، خو

دا ځای مې ډېر ځوروي، چې په مجاهدینو کښې اوس هغه د پخوا په شان د جهاد، قربانۍ او شهادت جذبې نه دي پاتې، بلکې ټکېدلې او کمزورې شوي دي، دا چې له فتحې څخه وروسته په نظامي ارګانونو کښې مې وخت تېر کړی او د استاذ په حیث هم پاتې شوی یم، دا یو شی چې ما درک کړي هغه دا دي چې په مجاهدینو کښې د جهاد کولو محبت، سختۍ تېرول، د شهادت شوق او مینه، ډېر کمزوري شوي، مجاهدین اوس له بست، چوکۍ او معاش سره آشنا شوي، د آخرت فکر چې انسان ته غیرت ورکوي ختم شوی؛ دا هر څه په مجاهدینو کښې په تدریجي ډول کمزوري شوي دي، که چېرې دې برخې ته خاص توجو ونشي، لرې نه ده چې مجاهدین به په پوره ډول خپل جهادي فکر له لاسه ورکړي چې بیا د قربانۍ لاره نیول به ورته ډېر سخت او ستونزمن وي؛ د ټولنې عام ځوانان خو په داسې حال کښې دي چې نور یې خپل فرهنګ او خپل تاریخ هېر کړی دی، د نورو پردیو فرهنګ خوښوي او په هغه پسې روان دي، عام ځوانان مو له جهاد څخه پوره بې خبره او لرې شوي دي، جهاد خپله دنده نه ګڼي او نه هم فکر کوي چې مسئولیت ورته متوجې دی، د ټولنې ځوانان مو اوس د نړۍ مظلوم مسلمانان ویني خو دا فکر نه کوي چې مونږ یې په اړه کلک مسئولیت لرو؛ د دې کتاب څخه مې هدف همدا دی

چې د اسلامي اُمت ځوانان یو ځل بیا خپل اصلي مسئولیت ته متوجې کړم او دا ورته روښانه کړم چې په اسلامي تاریخ کښې د ځوانانو مسئولیت څه دی او ځوانان باید کوم کارونه ترسره کړي؟

په کتاب کښې که کوم موضوعات په سختو الفاظو یاد شوي وي، یا کتاب کومه غلطي ولري هغه زمونږ سهوه او د علم کموالی وګڼئ، که بیا هم ډېر اړین وو زمونږ سره یې شریک کړئ، ترڅو د راروان وخت لپاره ورځخه ځانونه وساتو او اصلاح یې کړو.

په پای کښې له ټولو هغه دوستانو او ملګرو څخه ډېر قدردانی او کور ودانی کوم چې زما سره یې په دې برخه کښې خپلې مشورې/نظرونه شریک کړي او تشویق کړی یې یم؛ د الله تعالی له درباره څخه ورته د جنت الفردوس غوښتونکی یم.

په درنښت

استاذ همت الله (حقمل)(خادم المؤمنین)

د اُمت د برم په هیله!

## د ځوانانو ارزښت او مسئولیتونه

ځوانان د ټولنې لپاره د روح حیثیت لري، ځوانان ټولنې ته ژوند ورکوي، د ټولنې ثبات په ځوانانو سره راځي، هغه ځوانان دي چې ملتونه پورته کوي او د کامیابۍ لوړو پوړیو ته یې رسوي، ځوانان دي چې انقلابونه راولي، ځوانان د اُمت عملي قوه ده چې د دښمن په مقابل کښې د سپر او ډال په حیث کار ورڅخه اخلي او له خپلې ټولنې څخه ساتنه کوي، ځوانان دي چې د الله تعالی په ځمکه د دین د نفاذ لپاره په پوره مېړانه قتال او جهاد کوي او د قربانۍ په لاره د زولنو، زخمونو او شهادتونو څخه خوند اخلي. رسول الله صلی الله علیه وسلم ځوانانو ته ډېر ارزښت ورکولو، کله به چې د جنګ لپاره صفونه برابرېدل هغه ځوانان صحابه کرام به یې مخې ته کول، ځکه چې د هغه جذبات او احساسات ډېر قوي وي او له دښمن څخه لاره ورکوي. کله چې د احد په غزا کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم له صحابه کرامو څخه نظر اخیستو چې د جنګ لپاره په مدینه کښې پاتې شو او که د باندې ورسره وجنګېږو؟ نو ځوانانو دا نظر ورکړو چې د باندې باید ورسره وجنګېږو، رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د ځوانانو په رایه عمل وکړو چې بیا وروسته عبدالله بن ابی ابن سلول منافق خوابدی شو او له جنګ څخه وګرځېدو ویل یې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ پر ځای د ځوانانو رایې ته اعتبار ورکړو، خو هغه منافق وو، صرف

غوښتل يې چې د مسلمانانو په منځ کښې بې اتفاقي رامنځ ته کړي او د جنګ له قدرت څخه يې وغورځوي. کله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم کوم ځای ته د اسلام لښکر استولو نو د لښکر مشران او جنګ سالاران به يې زياتره وخت ځوانان انتخابول، همداسې که په تاريخ کښې ځير شو کومې کارنامې چې په تاريخ کښې ثبت شوې دي زياتره يې ځوانان وو، لکه خالد بن وليد رضي الله عنه، محمد بن قاسم رحمه الله، محمد الفاتح رحمه الله او داسې نور د اسلام اتلان.

د اسلام په تاريخ کښې که ځير شو زياتره جهادي کارنامې د اُمت ځوانانو کړې دي.

ځوانان بايد خپل ارزښت ته په کتلو سره په ټولنه کښې خپل مسئوليتونه درک او په مېړانه يې ترسره کړي.

۱- ځوانان بايد د صحابه کرامو صفتونه په ځان کښې پيدا کړي لکه څرنګه الله تعالى فرمايي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم ملګري هغه څوک دي چې له کفارو سره ډېر سخت او په خپل منځ کښې ډېر د رحم او مهربانۍ واله دي. صحابه کرامو رضي الله عنهم د دين خپرولو لپاره ټول عمر د جهاد په سفرونو کښې تېر کړ چې زيات يې په نورو ملکونو کښې شهيدان او وفات شوي، صحابه کرامو د مېړانې

یو زرین تاریخ تر شاه مونږ ته پریښی، چې مونږ یې د لارې په تعقیب سره کولای شو د بریالیتوب او برم تر حده ورسېږو.

۲- ځوانان باید د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سیرت او صورت ځانونه برابر کړي، ځکه چې کامیابي په همدې کښې ده؛ د رسول الله صلی الله علیه وسلم اخلاق او شکل د یو مسلمان ځوان لپاره نمونه ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم په ټوّل ژوند کښې زمونږ لپاره نمونه ده چې باید د ژوند په هره برخه کښې د هغه په طریقه ځانونه برابر کړو.

۳- ځوانان باید د جهاد او قتال لپاره پوره چمتو او روزل شوي وي، زمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنګونو رسول وو او اُمت یې هم د جنګونو او قتال اُمت دی، نو په اُمت کښې د جنګ لپاره تر ټولو لمړی ډله چې کامیابي او فتحه ترلاسه کوي او په پوره ځواک سره قتال کوي هغه ځوانان دي.

۴- ځوانان باید خپل ټوّل استعدادونه په کار واچوي ځکه چې په ځوانی کښې د انسان قدرت او طاقت ډېر وي، په هره برخه کښې باید په پوره اندازه کوښښ وکړي؛ ټولنه باید د علم څخه ډکه کړي خپله یې ترلاسه کړي او نورو ته یې ورسوي.

۵- ځوانان باید خپل وخت بې ځایه ضایع نه کړي، ټول وخت باید په خپلو کارونو باندې فکر وکړي هغه کارونه وکړي چې خپل ځان او ټولنې ته په ګټه تمامیږي.

۶- ځوانان باید سیرت نبي صلی الله علیه وسلم، د صحابه کرامو تاریخ او د اسلام تاریخ پوره مطالعه کړي او د اسلام د اتلانو په نقش قدم باید روان وي.

۷- ځوانان باید په ټولنه کښې د مشرانو احترام، مرسته او قدردانی وکړي؛ په ماشومانو رحم، شفقت او مهرباني وکړي او همېشه یې باید د روزنې او اصلاح کوښښ وکړي.

۸- ځوانان باید د اُمت په تېر، حال او راتلونکي کښې فکر وکړي؛ د تېر څخه عبرت واخلي، په حال کښې عملي مبارزه او کوښښ وکړي او د راتلونکي پرمختګ هیله وکړي او هدف وټاکي؛ ځوانانو ته په کار ده چې خپل تېر د برم حالات وګوري او په اوس وخت کښې هم اُمت یو ځل د کامیابۍ په لور روان کړي او له محکومیت څخه یې وساتي.

۹- ځوانان باید همېشه د اُمت د پخواني برم د اعادې فکر وکړي او عملي هڅې وکړي؛ دوی دې د خپل اُمت تاریخ مطالعه کړي چې مسلمانانو څنګه د همت او مېړانې ژوند تېر کړی.

۱۰- ځوانان باید د جهاد او قتال دنده خپل مسئولیت وګڼي او ترسره يې کړي، ځکه چې په تاریخ کښې د ځوانانو اصلي دنده جهاد او عملي ډګر وو. په اندلس کښې به هغه ځوانانو سره ښځو نکاح نه کوله چې جهاد به يې نه وو کړی.

۱۱- ځوانان باید په فکري، علمي او عملي ډګر کښې د دین او حق لپاره پوره مبارزه وکړي، ترڅو دا دین لوړ او د نړۍ هرې برخې ته ورسېږي.

## کفار د مسلمانانو وحدت له منځه وړي

کفار ډېر کوښښ کوي چې د مسلمانانو ترمنځ اختلافات او جنجالونه رامنځته کړي او په خپلو منځو کښې يې سره وجنګوي، ترڅو هغه هدف چې دوی يې په مستقیم ډول ترلاسه کوي، د خپل ځان او مال په مصرف کولو يې ترلاسه کوي، په داسې ډول ترلاسه کړي چې مصرف هم د مسلمانانو وي او جنګ يې هم په خپل منځ کښې وي، دې ته فکري جګړه وايي چې کفار غواړي په داسې ډول مسلمانان له منځه یوسي او مسلمانان کمزوري کړي چې خپله دوی عملي مداخله نه وي پکښې کړې. د یهودو یو سپینږیري(شاس بن قیس) چې کله ولیدل، د أوس او خزرج د قبیلو ځوانان یو د بل سره خاندي او ساعت تېري کوي، یو له بل سره يې زیات محبت دی، نو شاس بن قیس یهودي ته د دوی ترمنځ هغه پخوانۍ دښمني ورپه یاد شوه، مخ يې

سور شو او د دې هڅه يې وکړه چې د دوی ترمنځ يو ځل بيا هغه پخوانۍ دښمني راتازه کړي، نو يو يهودي هلک ته يې د بعاث د جګړې(بعاث د اوس او خزرج ترمنځ يوه پخوانۍ جګړه وه) هغه شعرونه وروښؤدل، چې دوی به د جنګ په حالت کښې ويل، ترڅو د انصارو په منځ کښې يو ځل بيا هغه د پخوانۍ دښمنۍ ياد او ولولې راوپاروي، هغه يهودي هلک همداسې وکړل، د أوس او خزرج د قبيلو ځوانان يو بل سره د جګړې لپاره تيار شول، خو د الله تعالی رحم وشو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له خپلو مهاجرو صحابه کرامو سره راغلو او د دوی ترمنځ د پېښېدونکې جګړې اور يې مړ کړو او د يهودو دا خطرناکه حربه يې له ماتې سره مخ کړه؛ يهودو په هر وخت کښې همداسې کوښښونه کړي ترڅو د مسلمانانو په منځ کښې دښمني پيدا کړي او يو جماعت په څو برخو تقسيم کړي. عبدالله ابن سبا يهودي چې د مسلمانانو په منځ کښې د اختلاف لپاره ظاهري مسلمان شو او د مسلمانانو ترمنځ يې داسې اختلافات پيدا کړل چې نن هم د هغه اختلاف په اساس اُمت ټوټې ټوټې دی او د يوې داسې عقيدې بنسټ يې کېښؤد چې نن يې هم د اُمت زياته برخه د کفر تر حد پورې رسولې، اُمت يې په شيعه او سُني سره تقسيم کړو؛ چې دا

د اُمت لپاره د ملا د تیر ماتېدل دي؛ د اُمت د زیاتو خلکو څخه یې خپل اصلي دین ورک کړو او د جهل په لاره یې روان کړل.

همدا ډول عیسانو هم د اُمت د اختلاف او د مسلمانانو په منځ کښې د جنګونو لپاره زیاتې هڅې کړې دي؛ یو وخت چې د مسلمانانو دبدبه او قـوّت وو، یو عیسایي ډېر هوښیار وو غوښتل یې چې د مسلمانانو ترمنځ اختلاف پیدا کړي، نو د دې لپاره یې یوه فکري حربه تیاره کړه، د یو مسجد عالم ته راغلو، زیاتې پیسې او قېمتي شیان یې ورته تحفه کړل، د عالم زیات صفت یې وکړو، عالم یې ترلاسه کړو، وروسته یې پوښتنه ورڅخه وکړه چې یوه مسئله ده، تراوسه چا نه ده حل کړې دا چې ستا سره ډېر علم دی، ستا څخه ډېر امید دی چې دا مسئله به ته حل کړې، عالم ورته ووېل چې راته ویې وایه، عیسایي پوښتنه ورڅخه وکړه چې د اصحاب کهف د سپي رنګ څنګه وو؟ عالم چې د ده زیات صفت یې کړی وو او تر احسان یې لاندې کړی وو، نه یې غوښتل چې خپل ځان ورته بې علمه معرفي کړي، نو په دروغو یې ورته ووېل چې سپین وو، عیسایي ډېره مننه ورڅخه وکړه ورته ویې ویل چې دا مسئله تراوسه چاته نه وه معلومه دا ته یوازینی شخص یې چې دا مسئله دې حل کړه، ته مهرباني وکړه دا مسئله د جمعې په ورځ په تقریر کښې خلکو ته بیان کړه، ترڅو خلک ورباندې پوه شي، عالم ورته

وويل چې سمه ده؛ عيسايي بل عالم ته لاړو، هغه ته يې هم زياتې پيسې او قيمتي شيان ورکړل زيات صفت يې د ده وکړو، وروسته يې همداسې پوښتنه ورځخه وکړه، هغه عالم ورته وويل چې د اصحاب کهف د سپي رنګ تور دی، له دې عالم څخه هم عيسايي قدردانی وکړو او ورته ويې ويل چې دا مسئله تراوسه چا نه وه حل کړې، خو ته يو کار وکړه چې دا مسئله د جمعې په ورځ خلکو ته بيان کړه ترڅو نور خلک هم ورباندې پوه شي، عالم ورته ووېل چې سمه ده دا خو به زه بيان کړم؛ د جمعې په ورځ دواړو علماؤ په تقرير کښې د اصحاب کهف د سپي په اړه بيان وکړو يو د سپين او بل د تور رنګ لپاره دلايل له ځانه بيان کړل؛ کله چې مقتديان له لمانځه څخه فارغ شول راووتل يو له بل سره په لارو کښې مخ شول، د يو مسجد مقتدي ويل چې زمونږ شيخ صاحب نن داسې مسئله حل کړې چې تراوسه چا نه ده حل کړې، ويل چې د اصحاب کهف د سپي رنګ سپين وو، د بل مسجد مقتدي ورته ويل چې ستاسو شيخ غلط ويلي، زمونږ شيخ صاحب هم نن همدا مسئله بيان کړه او دا يې راته ثابته کړه چې د اصحاب کهف د سپي رنګ تور دی، دا اختلافات عام شول تر دې اندازې ورسيدل چې په چوکونو او لارو کښې به سره ناست وو مناظرې به يې کولې او د خپلې دعوې لپاره به يې هغه د دوو علماؤ

له ځان څخه جوړ کړي غلط دلایل وړاندې کول؛ دا اختلافات آخر داسې اندازې ته ورسېدل چې یو پر بل یې د کفر ټاپې ووهلې یو طرف به ویل: که څوک وایي چې د اصحاب کهف سپی سپین دی لمونځ مه پسې کوئ، بل طرف به ویل: که څوک وایي چې د اصحاب کهف سپی تور دی لمونځ مه پسې کوئ، په دې اساس هغه هوښیار عیسایي په خپله فکري جګړه کښې کامیاب شو، د اُمت ترمنځ یې د اختلافاتو اور بل کړو، یو پر بل یې د کفر ټاپې ووهلې. عیسایان کوښښ کوي چې له هرې ممکنې لارې څخه په مسلمانانو حملې وکړي او مسلمانان د ماتې په درشل ودروي.

په اوس وخت کښې کفارو د مسلمانانو د بې لارې کولو لپاره، د مسلمانانو په خپل منځ کښې د جنګولو او مختلف کولو لپاره زیاتې هڅې او کوښښ پیل کړي، ترڅو په داسې طریقه مسلمانان کمزوري او له پښو وغورځوي چې دوی ته هېڅ تاوان پکښې ونه رسېږي، د دې کار لپاره یې اوس بېلابېلې ادارې جوړې کړې دي، خاص د همدې کار لپاره معاش او بودجه ورکوي، د مسلمانانو په منځ کښې یې کسان پیدا کړي، ترڅو د دوی د اهدافو لپاره کار وکړي؛ نو د مسلمانانو لپاره په کار ده چې د خپل وحدت او اخـوّت لپاره کار وکړي، خپل دوست او دښمن وپېژني، مسلمانانو ته په کار ده چې د کفارو په مقابل

کښې همداسې جګړه روانه کړي، همداسې باید اداري په دې کار وکړي چې له کفارو سره څه ډول مبارزه او دښمني وکړو، د هغه د فکري یرغل څخه څنګه مخنوی وکړو، څه ډول خپله ټولنه له کفري یرغل څخه وساتو؟

باغداد د عباسي خلافت مرکز او پایتخت وو، په باغداد کښې بې شمېره علماء وو، د ژوند په هره برخه کښې پرمختګونه کېدل، لیکوالانو ته معاش ټاکل شوی وو، صرف د دې لپاره چې دوی په بېلابېلو موضوګانو باندې لیکل وکړي، د علم او صنعت لوی مرکز وو، کله چې په باغداد هلاکو حمله وکړه او د مسلمانانو عام وژنه یې پیل کړه، په دې وخت کښې ابن تیمیه رحمه الله د جهاد کولو حکم ورکړو، او د جهاد لپاره یې خلک تشویق کول، ترڅو د تاتاریانو له ظلمونو او قتل عام څخه مسلمانان خلاص شي، په همدې وخت کښې نورو علماء اختلاف ورسره وکړو او د جهاد په حکم یې مناظرې وې، چا به ویل چې د تاتاریانو په خلاف جهاد جائز دی چا به ویل نه دی جائز او هلته هره ورځ مسلمانان تر تېغ تېرېدل، مغولو (تاتاریانو) عام وژنه روانه کړې وه، (لکه نن ورځ چې په فلسطین کښې مسلمان وژنه روانه ده او اسلامي نړی علماء په خپلو اختلافاتو کښې دي، په فرعي مسائلو کښې مناظرې دي، په دوولسمه، خیرات، نظر، زیارت او

داسې نورو رواجونو باندې مصروف دي؛ د جهاد په مسئله د ټولو خولې پټې دي) همدا د اختلاف نتيجه وه چې باغداد يې د مسلمانانو په وينو ولړلو، د دجلې سيند د مسلمانانو په وينو سور رنګ اخيستی وو، تر څو ورځو پورې سيند سور معلومېدو، هر خواته د مسلمانانو مړي پراته وو، لس نيم ميلونه (۱۰۶۰۰۰۰) مسلمانان يې شهيدان کړل، کتابخانې او کتابونه يې وسوزول او سيند ته يې وغورځول، د کتابونو په واسطه په سمندر باندې پول جوړ شوی وو.

د مسلمانانو ترمنځ اختلافات د مسلمانانو لپاره د وبا حيثيت لري چې له يو مخ څخه يې تباه کوي. د هلاکو د حملې سبب يو هم د وخت له خليفه مستعصم باالله سره د خپل وزير (ابن علقمي) اختلاف وو چې له هلاکو سره يې اړيکې وې او هغه ته يې ډاډ ورکولو ترڅو په باغداد حمله وکړي، نو هلاکو مطمئن وو چې د دوی ترمنځ اتحاد نشته، نو يې په ډاډه زړه حمله ورباندې وکړه، د اسلام کور او مرکز (باغداد) يې له خاورو سره خاورې کړو، هلته يې هېڅ مسلمان ژوندی پرېنښود.

هلاکو هم د دې لپاره چې د مسلمانانو پښې ماتې کړي او د زوال سره يې مخ کړي، لمړی يې کوښښ وکړو چې په مسلمانانو کښې د باغداد په منځ کښې داسې کسان پيدا کړي چې لاره ورته هواره کړي

او د مسلمانانو ترمنځ اتحاد له منځه وربانديې يوسي، چې په دې حربه کښې کامياب هم شو، له ابن علقمي سره يې اړيکه وه او د مسلمانانو رازونه يې ترلاسه کړل، بل خوا ته د علماؤ ترمنځ اختلاف دومره اندازې ته رسېدلی وو چې په مسجدونو کښې به تاتاريانو په داسې حال کښې قتلول چې دوی به په خپل منځ کښې مناظرې کولې.

مسلمانان په هره زمانه او د تاريخ په هر پړاو کښې د خپلو اختلافاتو او بې اتفاقۍ له وجې له زوال او ماتې سره مخ شوي، زياتره يې د کفارو په لمن کښې لوېدلي او د هغه د ګټو لپاره يې کار کړئ.

اندلس چې اوس هسپانيا او پرتګال دوه لوی لوی هېوادونه دي، د اموي خلافت په وخت کښې د طارق ابن زياد رحمه الله په واسطه فتحه شو، بيا څه زيات ۸۰۰ کاله مسلمانانو وربانديې حکومت کولو، په دې زمانه کښې اندلس يو اسلامي ملک وو، د علماؤ، مدارسو او کتابتونونو لوی مرکز وو، د مسلمانانو ترټولو ښايسته او ښکلي ښارونه پکښې موجود وو، خو کله چې دوی په خپل منځ کښې اتحاد له لاسه ورکړو، هر يو ښار يې جلا پاچاهي اعلان کړه او په خپل منځ کښې يې د قدرت په خاطر جنګونه شروع کړل، تر دې اندازې ورسېدل چې د خپلو مسلمانانو ورونو په مقابل کښې به يې له عيسايانو څخه

مرسته او نصرت غوښتو، د مسلمانانو په مقابل کښې به د مسلمانانو پوځونه د عیسایانو سره یو ځای په کمین کښې ناست وو، وروسته عیسایانو هغه غلامان هم پرېښښوۀدل چې د مسلمانانو په خلاف د عیسایانو سره یو ځای شوي وو، په ټوۀل اندلس کښې مسلمانانو د امن ځای ورک کړو، مسلمانانو ته یې سخت عذابونه ورکړل، مسلمانان یې خرخول، مسلمانان نر او ښځې به یې یو ځای کېنولي وو، د عیسایانو پوځیان به پکښې ګرځېدل، چې هر مسلمان (نر یا ښځه) به یې خوښ شول له ځان سره به یې روانول، په هغه ځای کښې چې ورور او خور، مور او لور، زوی او مور، پلار، پلار او لور سره جلا شوي بیا یې نه دي سره لیدلي. تاسې فکر وکړئ، داسې ذلالت او رسوایي په مسلمانانو د خپل لاس څخه راغلې وه دوی په خپل ځان ظلم وکړو، د مسلمانانو ځینې مشرانو د خپل قدرت او شهرت لپاره اختلافات وکړل او یو د بل په مقابل کښې ودرېدل، آخر نتیجه یې دا شوه چې خپله همدا د قدرت تږي هم په دې هلاکت کښې ورسره تباه شول او د مسلمانانو یو اسلامي حکومت یې په اندلس کښې راونړولو، چې نن یې له مسجدونو او مدرسو څخه سینماوې او د سپورټ ځایونه جوړ شوي

دا هرڅه د مسلمانانو بې اتفاقي او د کفارو لاسوهنه ده د مسلمانانو په منځ کښې چې مسلمانان یې د تاریخ په هر پړاو کښې ځورولي او ذلیله کړي دي.

مسلمانانو ته نه ده په کار چې د خپلو شخصي ګټو لپاره د نورو مسلمانانو سره اختلاف وکړي.

## له ماشومتوب څخه یې مجاهد رالوی کړئ!

زمونږ په ټولنه کښې لوی مشکل دا دی چې له ماشومتوب څخه خپل نسلونه د غیرت، قربانۍ، جهاد او د کفارو سره په دښمنۍ نه روزو، مونږ باید خپل بچیان له کفارو سره په سخته دښمنۍ وروزو او د قربانۍ درس ورکړو؛ خپل بچیان باید د جهاد په احکامو پوه کړو او دا ورته واضح کړو چې له کفارو سره جهاد کول له هغه اوامرو څخه دي چې الله تعالی یې له مونږ څخه غواړي، راباندې فرض کړی یې دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې تاسې به تر هغه ذلیل نشئ، تر څو مو چې د الله تعالی په لاره کښې جهاد کولو؛ خپل ماشومان مو په جهادي فکر رالوی کړئ، له لویېدو سره باید زمونږ د ماشومانو، ننګ، غیرت، د جهاد او قربانۍ جذبه وده وکړي، زمونږ ځوانان باید د الله تعالی په لاره کښې له هیڅ خطر څخه وېره ونه لري؛ زمونږ ځوانان زیاتره په دې نظر دي چې ګواکي جهاد زمونږ

مسئولیت نه دی او څوک يې چې کوي د هغه خپل شوق او محبت دی، دا هر څه له دې ځای څخه خراب دي چې مونږ خپل نسلونه د جهاد په نظريه نه لويوو او د جهاد احکام ورڅخه پټوو. صحابه کرامو به خپلو بچيانو ته د جنګ تعليم ورکولو، اسلحه به يې ورزده کوله، خپلو کوچنيو بچيانو ته به يې په غاړه کښې توره وراچولې وه، چې پورته به هم تر ماشوم توره لوړه وه او کښته به په ځمکه لګېده، دا ځکه چې صحابه کرامو رضي الله عنهم به غوښتل چې د بچيانو يې له جهاد سره مينه پيدا شي؛ دوی به غوښتل چې له ماشومتوب څخه يې بچيان د کفر سره د دښمنۍ په روحيه او زمريان رالوی شي، همدا د جهاد او قربانۍ روزنه وه چې د صحابه کرامو او تابعينو په زمانه کښې اسلام د نړۍ برخې برخې ته ورسېدو، په هغه وخت کښې د ځوانانو فکرونه داسې جوړ وو چې جهاد يې په ډېره مينه او شوق کولو، په هغه وخت کښې جهاد يو طبيعي امر وو چې هېڅوک ورڅخه محروم نه وو او هغه وخت جهاد داسې يو کار وو چې هر څوک به ورڅخه پاتې شول د هغه لپاره لوی پېغور او شرم وو.

## اې ځوانه وروره!

اې ځوانه! نن د نړۍ څخه د مسلمانانو د مظلوميت نارې پورته کېږي، نن اسلامي مقدسات د مسلمانانو په شتون پسې خفه دي، نن په

اسلامي مقدساتو باندې کفار او یا د هغه تابع مسلمانان غلامان مسلط دي، نن د کفري زندانونو څخه د مسلمانو خویندو فریادونه ستا په خوا کېږي، نن اسلامي خاورې په اسلامي حکومت پسې ژاړي؛ ته نن ولې د قربانۍ میدان ته نه رادانګې؟ نن ولې د جهاد لپاره نه یې تیار؟ نن ولې ستا ضمیر دا منلی شي چې اسلامي مقدسات دې د کفارو په لاس کې وي؟ نن ولې ستا احساس په دې نه راژوندی کېږي چې خویندې دې د کفارو سره په جیلونو کې پرتې وي او عزت یې دې کفار تر پښو لاندې کوي؟ نن ولې ستا غیرت دا منلی شي چې په اسلامي خاورو دې د کفارو حکموت او پاچاهي وي؟ اې ځوانه! ته خو نن فکر وکړه ستا ځواني او قوّت د څه لپاره دي؟ ستا مسلماني او دینداري د کوم هدف لپاره دي؟ نن ورځ ستا مسئولیت او وظیفه څه ده؟ یو څه فکر په کار دی، د کفري اشغال ختمول په کار دي، د اسلامي امت لوړول په کار دي، د اسلامي مقدساتو خپلواک کول، د غلامو علماو ورڅخه ایستل په کار دي، د غیرتي علماؤ په کنبې کېنول په کار دي، د کفارو ذلیل کول په کار دي، د خپلو خویندو له کفري زندانونو څخه راخلاصول او د عزت پړونی ورپه سر کول په کار دي؛ اې ځوانه نن ستا همدا مسئولیت دی، ستا مسئولیت دا نه دی چې

پیسې پیدا کړي، خواهشات ترلاسه کړي، آرام د کور ژوند کوي او نور د امت په اړه هېڅ احساس نه لري.

## د ځوانانو سیالی او افتخارات

که د تاریخ پاڼې واړوو د ځوانانو افتخار به پخوا دا وو چې چا به زیات کفار تر تېغ تېر کړي وو، له کفارو څخه به یې زیات غنیمتونه نیولي وو، څوک به چې د جنګ په صف کښې تر ټولو مخکې تللي وو، چا به چې زیاتې کفري خاورې لاندې کړې وې، له چا سره به چې زیاتې وینځې او مریان موجود وو، د چا به چې د دښمن په وژلو کښې تورې ماتې او کږې شوې وې، د چا به چې تورې د کفارو په وینو سرې وې، چا به چې په مبارزه کښې د کفارو پهلوانان وژلي وو، چا به چې د کفارو غټ سرداران وژلي وو، چا به چې د کفارو څخه زیات بندیان نیولي وو؛ ابودُجانه رضي الله عنه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم  خپله توره ورکړې وه د احد په غزا کښې یې داسې جنګ کولو چې د مشرکینو په وژلو کښې د نرانو له صف څخه ووتلو د ښځو صف ته ورسېدو او د هغه له وژلو څخه یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تورې د اکرام په خاطر خپله توره بنده کړه، داسې وژنه یې کوله چې کافر به ورسره مخ شو بیا یې د ژوند چانس نه وو، کعب بن مالک رضي وایي: چې ما ابودُجانه ولیدلو چې یو کافر یې په توره

ووهلو او دوه ځایه یې کړو، ده له سر څخه خول پورته کړو او راته ویې ویل چې ښنګه یې بولې یاکعب؟ زه ابودُجانه یم؛ نو مونږ هم باید د کفارو په وژلو افتخار وکړو، ځکه چې اصل د ځوانان افتخار د کفارو وژل او ذلیله کول دي.

نو په پخوا وختونو کښې د مسلمانانو او د هغوی د ځوانانو افتخارات همدا موارد وو؛ په هغه وخت کښې چې ځوانانو د جهاد لاره غوره کړې وه، ځوانان به د جهاد په ګردونو خړ وو، د ځوانانو آسونه به د جهاد لپاره تیار او روزل شوي وو، د ځوانانو تورې او نېزې به د دښمن لپاره تیارې او تېرې وې، د ځوانانو جهادي جذبې به په جوش کښې وې، ځوانانو به د شهادت په شوق او تمنا سره د جنګ میدان ته وردانګل؛ هغه د اسلام د عروج، برم او دبدبې وخت وو، چې اوس یې مونږ یوازې تاریخ تر سترګو تېروو او په خپل ځان کښې د داسې کارنامو همت او استقامت نه وینو.

## مونږ د اسلام بچیان یو

مونږ د اسلام بچیان یو، افغانی، پاکستانی، عرب او عجم مو صرف د معرفت ذریعه ده چې سره وپېژنو، د بېلوالي ذریعه هېڅکله نه ده چې سره جلا مو کړي؛ مونږ په عقیده، اسلام، دین، او اخوّت سره تړلي یو، د یو الله تعالی بندګي کوو، د یو پیغمبر صلی الله علیه وسلم

پېروي کوو؛ همدا مو تګلاره ده، په همدې به روان یو؛ د نړۍ په هره برخه کښې چې زمونږ مسلمان ورور وي، مونږ به خپله ورورګي او دوستي ورسره کوو. کافر مو دښمن دی، هغه که د هر ملک څخه وي، هرڅوک چې زمونږ د دین مخالفت کوي، زمونږ د نظام او سیاست مخالفت کوي، مونږ به یې په مقابل کښې درېږو او جـهاد به ورسره کوو.

## زمونږ په خیر او بریا الله تعالی ښه پوهېږي

له ایمان څخه وروسته باید مسلمانان له هغه کارونو څخه وېره ونه لري چې په دین کښې ورباندې لازم شوي، ځکه چې دا هر څه یو حکیم ذات جل جلاله لازم کړي، چې په هر څۀ پوره پوهه او معلومات لري او حکمتونه یې ورته معلوم دي؛ جـهاد هم یو له هغه اعمالو څخه دی چې الله تعالی په دې اُمت لازم کړی، خو زیات خلک یې په حکمت او خیر نه پوهېږي او الله تعالی د مسلمانانو لپاره لویه کامیابي او خیر پکښې ایښی دی. الله تعالی فرمایي: كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰ أَن تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ [سُوْرَةُ البَقَرَة : 216]

ژباړه: تاسې ته د جنګ امر شویدی او هغه تاسې ته ناکاره دی. کېدای شي چې یو شی تاسې ته ناکاره وي او هماغه ستاسې له پاره ډېر

غوره وي او کېدای شي چې تاسې یو شی خوښوئ او هماغه ستاسې له پاره بد وي؛ الله پوهیږي، تاسې نه پوهیږئ.

الله تعالی له مسلمانانو سره مرستندوی دی، نو ځکه الله تعالی خپلو بندګانو ته د هغه کارونو لارښوونې کوي چې مسلمانان یې په اساس کامیاب او پورته کېږي، نو مسلمانان دې هېڅ کله په هغه کارونو کښې تشویش او وسوسې نه کوي چې الله تعالی ورباندې لازم کړي وي، ځکه چې د الله تعالی په لارښوونو په اخلاص سره عمل وشي، الله تعالی خپله د هغه د خیر او کامیابی زیموار دی.

## د مجاهد صفات

په اوس وخت کښې چې په افغانستان کښې د مجاهدینو حکومت دی، دا حکومت ډېر په سختی او قربانیو سره ترلاسه شوی، مجاهدینو په ځان پورې بمونه وتړل او د کفارو په منځ کښې یې خپل ځانونه په سرو اورونو کښې لولپه کړل، د کفارو ماتول د وینو په زور وو ځه په مَوته ترلاسه نشو، بې شمېره مسلمانان شهیدان او بندیان شول، د مسلمانانو عزتونه تر پښو لاندې شول؛ له هغه ځخه وروسته د مجاهدینو د سربښیندنو نتیجه وه چې الله تعالی د دې نظام پېرزوینه راباندې وکړه، په هغه وخت کښې مجاهدینو شهادتونه، زخمونه، بندیخانې، زولنې، لوږې، تندې، یخنی، ګرمی، ستړیاوې او تکلیفونه

تېرول او هېڅ باک يې هم نه وو، خو نن چې هغه قرباني نشته، د سر او وينې خطر نشته، د سنګر ګردونه او ستړياوې نشته نو هر سړی ځان ته د مجاهد نوم ورکوي او ځان تر هرچا کلک مجاهد ګڼي، نور اعمال يې چې هر ډول وي پروا يې نه کوي، خو ځان مجاهد معرفي کوي، ترڅو وظيفه، شهرت، امتياز او پيسې ترلاسه کړي؛ زه وايم چې وروره! يقينا هم مجاهد به وې، خو ته يو ځل د مجاهد صفات وپېژنه چې مجاهد کوم صفات لري؟ په نوم خو به هر څوک مجاهد شي، خو اصل او د عمل مجاهد بيا هغه څوک دی چې د مجاهد صفات پکښې موجود وي. زه غوارم چې د مجاهد صفات په شماره وار او لنډ ډول راوړم.

1. تقواء: د الله تعالی له وېرې څخه نېک کارونه کول او ګناهونه پرېښودل. مجاهدين بايد تر ډېرې اندازې له ګناهونو څخه ځان وساتي او په ښو کارونو کښې کوښښ وکړي.

2. اخلاص: خاص د الله تعالی د رضا لپاره نېک کارونه کول او له ګناهونو څخه ځان ساتل. مجاهد بايد هر کار خاص د الله تعالی د رضا لپاره ترسره کړي؛ له ريا، شهرت، نوم او نشان څخه بايد پاک وي.

3. استقامت: په خپلو ارادو کښې کلک پاتې کېدل، په سختۍ او او آسانۍ کښې د خپل هدف په لور دوامداره مبازه کول. مجاهد بايد تر

پایه د جهاد په کارونو کښې ثابت پاتې شي، له خپل جهادي کار څخه باید مایوسه نشي، خپل کارونه باید په نیمایي کښې پرېنږدي، په مېړانه تر پایه باید مبارزه وکړي.

4. صبر: د ستونزو او مشکلاتو شکایت پرته له الله تعالی څخه بل چا ته نه کول، یوازې له الله تعالی څخه یې د ثواب هیله کول. مجاهد باید په هغه تکلیفونو چې وربانديې راځي صبر وکړي، خلکو ته شکایت ونه کړي، له الله تعالی څخه یې د ثواب هیله وکړي.

5. غیرت او شجاعت: په پوره قوت خپل جهادي کارونه ترسره کول، د دښمن څخه هېڅ وېره نه کول. مجاهد باید د کفارو له قوّت، اسبابو او زیاتوالي څخه وېره ونه کړي، په پوره مېړانه یې باید په هر ځای کښې په مقابل کښې جهاد او مبارزه وکړي.

6. الولاء (د مسلمانانو سره ورورلي، دوستي او همکاري): د مسلمانانو سره په هر وخت کښې دوستي، محبت او همکاري کول، د مسلمانانو له حقوقو څخه ساتنه کول. مجاهد باید د مسلمانانو سره ډېر په نرمی سره چلند وکړي، په پوره اندازه یې مرسته وکړي او له حقوقو څخه یې ساتنه وکړي

7. البراء (د کفارو سره دښمني، بېزاري او مبارزه): په هر وخت کښې له کفارو څخه کرکه او نفرت کول، په مېړانه یې په مقابل کښې جهاد

کول (اسلامي ټولنه د کفارو له فکري او پوځي اشغال څخه خلاصول او کفري ټولنې ته د اسلام رڼا رسول.)

8. حیا: د الله تعالی څخه د شرم له وجې (د الله تعالی په حضور کښې د درېدلو په خاطر ) ګناهونه نه کول. مجاهد باید له پوره حیا او عفت څخه برخمن وي، خپل عزت او د نورو خلکو عزت باید وساتي.

9. جهادي پوهه: په کوم څه او طریقه چې کفارو ته ماتې ورکول کېږي او له هغه سره وراندې مبارزه کېږي د هغه زدکول ( اعداد او معسکر کول) مجاهد باید د دښمن په مقابل کښې پوره قوي وي، پوځي پوهه ولري او هغه اسباب یې باید زده وي چې د کفارو په مقابل کښې ورڅخه استفاده کېږي. مجاهد باید په پوځي ډګر کښې له اسلحې سره پوره آشانيي ولري او په فکري ډګر کښې له قلم سره باید پوره بلدتیا ولري، په ژبه او قلم سره کلکه مبارزه وکړي.

10. عاجزي: حق په ښه طریقه قبلول او له خلکو څخه خپل ځان لوړ او بهتره نه ګڼل، خپل نیک اعمال هېڅکله زیات او د نجات ذریعه نه ګڼل. مجاهدین باید هېڅکله تر نورو خلکو ځان بهتره ونه ګڼي او د حق له اورېدلو سره سم باید غاړه ورته کېږدي.

11. د شهادت مینه: د الله تعالی په لاره کښې له شهادت څخه وېره نه کول، له الله تعالی څخه په دعا کښې د شهادت غوښتنه کول، د

شهادت په مینه د جهاد میدان ته راوتل. د الله تعالی د لارې رېښتیني مجاهدین هېڅکله له مرګ څخه وېره نه کوي، په پوره مېړانه له کفارو سره جهاد کوي او له الله تعالی څخه په دعا کښې د شهادت غوښتنه کوي، همدا یې یوازینۍ هیله او ارزو وي.

12. صدق (رېښتینولي): د حق سره موافق خبره او عمل کول، هېڅکله د خلکو په منځ کښې دروغ نه ویل. مجاهد باید هېڅکله خلکو ته دوکه او چل ورنکړي، خبره او عمل یې باید یو وي، د ژوند په معاملو کښې هېڅکله باید دروغ او ناحقه خبره ونه کړي.

13. ځیرکتیا: په جهادي کارونو کښې زیاته بیداري، د کفارو په مبارزه کښې ښه او کامیاب پلانونه جوړول، د کفارو له چلونو او دامونو څخه خپل ځان ساتل. مجاهد باید هر وخت په دې فکر کښې وي چې څنګه کفارو ته ماتې ورکړو؟ دېرو وړو خبرو او کارونو ته یې هم باید فکر وي، هېڅکله یې باید څوک ونه غولوي.

14. اخلاق: په خلاص تندي، ښو الفاظو د اسلامي لارښونو مطابق له خلکو سره چلند او خبرې کول. مجاهد باید د صحابه کرامو صفت په ځان کښې پیدا کړي چې د کفارو په مقابل کښې ډېر سخت وو او په خپل منځ کښې به یې انتهایي مینه، ورورولي او خواخوږي وه.

د حق د لارې رېښتيني مجاهدين پورته صفات په ځان کښې لري، زمونږ لپاره په کار ده چې که ځان ته د مجاهد لقب ورکوو، يا نورو خلکو ته د مجاهد په نامه معرفي وو، پورته د مجاهد صفات بايد په ځان کښې ولرو او که نه وي بايد کوښښ وکړو له دې صفاتو څخه ځان برخمن کړو.

## په استعمار او اشغال کښې فکري ځواک اصل دی

کله چې فکرونه اشغال شي، د ملکونو استعمار او اشغال هېڅ کار نه غواړي.

د کفارو زيات کوښښ دا دی چې د مسلمانانو فکري ځواک په هغه ځای او شکل استعمال کړي چې د مسلمانانو لپاره په زيان او کفارو لپاره په ګټه تمام شي.

د خپلې ټولنې د خلکو له فکرونو څخه ساتنه وکړئ، هېڅکله کفري، ډېموکراسي، شهواني او غير شرعي نظرياتو ته اجازه مه ورکوئ، چې په ټولنه کښې خپاره شي، په ژبه، قلم، لاس، رسنۍ، دعوت او تبليغ سره يې مخه ونيسئ؛ هېڅکله د هغه چا نظرياتو ته غوږ مه نيسئ چې له اسلامي عقيدې سره په ټکر کښې نظريات وړاندې کوي، بلکې زجر ورکړئ او پوه يې کړئ چې په اسلامي ټولنه کښې داسې نظريات نه خپروي.

د مسلمانانو د کامیابۍ راز په اسلامي عقیده او فکر کښې دی، چې په ډېرو کمو اسبابو او اشخاصو په ټول تاریخ کښې د کامیابۍ تر پولې رسېدلي؛ په خپله ټولنه کښې د قرآنکریم، احادیثو، فقهې، تاریخ، جغرافیې او سیاست تعلیم عام کړئ او د دې ټولو ټراو له جـهاد او قتال سره ورکړئ، د کفر دسیسې او پلانونه څرګند، ورپسې شنډ کړئ او د ټولنې وګړي ورباندې پوه کړئ. کله چې مونږ په اسلامي چوکاټ فکرونه برابر کړو، هېڅکله به کفار زمونږ په خلاف خپل جوړ کړي پلانونه هدف ته ونه رسوي، دا مونږ په تجربه او تاریخ سره ثابته کړې ده، چې د کفري استعمار او اشغال لپاره د مسلمانانو ځینې منحرف فکرونه کار کوي چې د کفارو اشغال او استعمار د کامیابۍ په دروازه دروي او یوه اسلامي ټولنه د کفري ټولنې لپاره د غلامۍ تر حده رسوي.

## مونږ تیار یو چې یو ځل د اُمت برم راتازه کړو!

مونږ تیار یو چې یو ځل د اُمت تېر برم راتازه کړو، دا انګرېزي استعمار جوړې کړې جعلي پولې او سرحدات ونړوو او مات یې کړو، مونږ تیار یو چې د آمو تر سیند تېر شو په تاشکند، بخارا او سمرقند باندې خپل زین کړي آسونه وځرخوو، مونږ تیار یو چې د لوی خراسان یاد تازه کړو او له ډهلي څخه تر سند، پنجاب، سیستان او اسفهان پورې خاورو ته د اسلامي نظام لمنې وغوړو، مونږ تیار یو چې یو ځل بیا د اسلامي

اُمت د وحدت او اخـوّت جنډه پورته کړو، د عثماني خلافت زوړ شوی یاد او برم یو ځل بیا په غربي نړۍ راتازه کړو، مونږ تیار یو چې د یو مرکزي خلافت اساس کېږدو ترڅو له کفارو څخه د جزیې لپاره اداري جوړې کړي او سرتاسري اسلامي حکومت قایم کړي، مونږ تیار یو چې یو ځل بیا  تاریخي اندلس ته خپل اسلامي پوځونه داخل کړو او د اسلام پخواني ښارونه په تکبیرونو او د توحید په کلیمو ډک کړو، د غرناطې، اشبیلې، طلیطلې، مرسیې، سبتې مالقې او قرطبې ښارونو له مسجدونو او مدرسو څخه د صلیب نښانونه، بیرغونه او پاپان وباسو، د قرآن او حدیثو په درسونو یې یو ځل بیا رونښانه کړو، مونږ تیار یو چې په هند کښې د بت پرستو له بتانو څخه سرونه پرې کړو او ویې نړوو، مونږ تیار یو چې یو ځل بیا د اسلام کلیمه پورته کړو او د کفارو د قدرت، غرور او دبدبې څلي راونړوو؛ مونږ تیار یو چې د تریحف شوي انجیل د ظالمانه او کفري قوانینو په واسطه ګمراه شوي خلک د اسلام رڼا ته راوباسو، مونږ تیار یو چې د خپلو وینو او سرونو په بدل کښې د نړۍ هرې برخې ته د خپل دین پلوشې او رڼاګانې خورې کړو.

اې مسلمانانو! یوازې په کوچنیو ښارونو او خاص ملکونو کښې ځانونه مه محدودوئ، د اسلامي خاورو سرحدات وپېژنئ، د اسلام زرین تاریخ

مطالعه کړې، خپلې ترلاس وتلې مقبوضه خاورې وپېژنئ، د خپل تاریخ په رڼا کښې له ځانونو څخه اتلان او د اسلام زړور سپاهیان جوړ کړئ، د تېر برم د اعادې لپاره ځانونه له مشکلاتو سره عادت کړئ، قربانۍ ورکړئ، د غزاوو لپاره تر ملا کمربند او توره وتړئ، په کفري نړۍ یو ځل بیا ځمکه راتنګه کړئ، تر پښو لاندې یې ځمکه اور کړئ، د ژوند له خوندونو او شهوتونو څخه یې وغورځوئ، په دنیا کښې د ذلت او خوارۍ ژوند ورپه برخه کړئ؛ مسلمانانو ته د عزت ژوند ورکړئ، مسلمانان له کفري ظالم او وحشي ښکېلاک څخه خلاص کړئ، په هره خوا کښې د مسلمانانو لپاره د امن فضا قائمه کړئ.

## جهاد به نه پرېږدو

الله تعالی د جهاد حکم کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم د جهاد حکم کړی، عملي جهاد یې کړی او خپل عمر یې په جهاد کښې تېر کړی، صحابه کرامو په پوره مېړانه، استقامت او پابندۍ سره همدا د جهاد لاره تعقیب کړې ده، له هغه څخه وروسته د مسلمانانو په منځ کښې د جهاد دنده جریان لري؛ نو مونږ ته هم هېڅکله نه ده په کار چې دا وجیبه، سنت او تاریخي د مسلمانانو دنده پرېږدو او هېره یې کړو.

# اې ځوانانو! پاځئ

اې د اسلامي اُمت ځوانانو! پاځئ د مېړانې میدان ته راووزئ، نن یو ځل په دښمن توره شپه جوړه کړئ، د وخت طاغوتیان مات کړئ، د جبر او کبر له دنګ کړنګ څخه یې راوغورځوئ، نن یو ځل بیا یهودو ته د عمر رضي الله عنه تاریخ وریاد کړئ چې د عربو له جزیرې څخه یې ټول یهود وایستل؛ نن بیا یو ځل د صلاح الدین ایوبي رحمه الله تاریخ تازه کړئ چې د ده په وخت کښې د یو صلیبي ارزښت یو بوټ یا چپلکه وه، د یو مسلمان تر شاه به تر سلو زیات صلیبي بندیان روان وو؛ نن یو ځل بیا د صلاح الدین ایوبي رحمه الله تاریخ را ژوندی کړئ چې بیت المقدس یې له صلیبیانو څخه آزاد کړو او دوی یې ورڅخه وایستل، نن یو ځل بیا د موسی بن نصیر رحمه الله تاریخ راژوندی کړئ، چې په افریقا کښې یې اسلامي نظام ته استقرار ورکړو، وروسته یې اندلس فتحه کړو او د فرانسې تر پولو یې د اسلام جنډه ورتېره کړه، نن بیا یو ځل د قطیبه ابن مسلم تاریخ راژوندی کړئ چې په چین یې د اسلام بیرغ رپاند کړو، نن یو ځل بیا د محمد بن قاسم رحمه الله تاریخ راژوندی کړئ، چې د هندوستان په لور یې د اسلام لښکرې رواني کړې او هلته یې د مسلمانو خویندو شالونه ورپه سر کړل، نن بیا د عقبه بن نافع رحمه الله تاریخ راژوندی کړئ چې په افریقا کښې یې خپل آس د سمندر تر څنډو د فتوحاتو په لړۍ کښې ورسولو، نن

بیا یو ځل د محمد الفاتح رحمه الله تاریخ راتازه کړئ، چې د قسطنطنیې دېوالونه یې ونړول او د صلیبیانو کور یې وران کړو. نن که د اسلامي اُمت هر ځوان عزم او توکل وکړي، پوره غیرت وکړي او د قربانۍ میدان ته راودانګي، کفار به بیا همداسې ذلیله کړي لکه څو پېړۍ پخوا به یې چې د عثماني خلافت دربار ته په ډېر ذلت او رسوایۍ سره جزیه او باج راوړلو؛ نن که په اسلامي اُمت محکومیت او مظلومیت لمن خوره کړې ده، په هر ځای کښې مسلمانان د کفارو له ظلمونو او وحشتونو څخه کړېږي، یوازینی سبب یې د اسلامي اُمت د ځوانانو بې غوري او کمزوري ده، چې نن ورځ دوی په خپل عیش او شهوتونو کښې تللي، د غیرت او ننګ ماده یې له لاسه ورکړې ده، احساس یې تر پښنو لاندې کړئ او ضمیر یې د غفلت په خوب ویده دی.

## د نفسونو مشکلات قیادتونه له منځه وړي

د قیادتونو په منځ کښې د نفسونو مشکلات، هغه ستر رنځ (مرض) دی، چې په ټول تاریخ کښې یې اسلامي امت له پښنو او حرکته غورځولی، همدا شخصي غوښتنې دي چې د قیادتونو په منځ کښې اختلافات او جنګونه رامنځ ته کوي، همدا نفسي غوښتنې دي چې د یو وجود په څېر اسلامي امت یې نن په اندامونو او ټوټو سره تقسیم

کړی، د یو دېوال په څېر امت نن داسې سره تقسیم شوی چې یو له بل سره د تللو راتللو لاره نه لري، یو د بل له حال څخه ناخبره دي، حتی دا مشکلات داسې اندازې ته رسېدلي چې په خپل منځ کښې په جنګونو سره آخته دي او هره ورځ یو بل سره وژني، دې نفسي غوښتنو نن مسلمانان داسې اندازې ته رسولي چې ځینې یې د کفارو دوستۍ ته هم زړه ښه کړی، ترڅو د خپل ورور په مقابل کښې له کفارو څخه همکاري ترلاسه کړي، په کوم حکومت او نظام کښې چې خلک خپلې شخصي او نفسي غوښتنې د نظام او حکومت په غوښتنو مقدمې کړي، پوه شه چې د داسې نظام بیا د مرګ سلګۍ دي.

په اموي خلافت کې اروپا ولې فتحه نه شوه؟

د اندلس فتحه چې کله کامله شوه، مجاهدین د فرانسې غرونو ته ورسېدل او ځینې ځمکې یې ورڅخه فتحه کړې موسی بن نصیر رحمه د خپل ملګري طارق ابن زیاد رحمه الله په همکارۍ وغوښتل چې فرانسه ټوله فتحه کړي، نو دمشق ته یې خط واستولو ترڅو د خلیفه څخه د فرانسې د فتحې اجازه واخلي او د فرانسې له لارې تر دمشق پورې د فتوحاتو دوره پوره کړي او همداسې د فتوحاتو په لړ کښې دمشق ته ځانونه ورسوي؛ دا چې د خلیفه په شاوخوا کښې درباري منافقین موجود وو، خلیفه یې ووېرولو، خلیفه ته یې وویل چې دا که

د دوی د فتحې ځمکې دومره زیاتې شي، ستا خلافت ته هم خطر دی، نو خلیفه اجازه هم ورنکړه بلکې حکم یې وکړو، موسی بن نصیر رحمه الله یې سره د خپل ملګري طارق ابن زیاد رحمه الله راوغوښتل او له خپلې دندې څخه یې ګوښه کړل، وروسته یې د دمشق په ښار کښې د فقر او ګوشنې شنی عمر په داسې حال کښې تېرولو چې سترګې یې ړندې وې.

دا هغه ستر لامل وو چې د اسلام د زمریانو مخه یې ونیوله او اروپا پوره فتحه نه شوه، له هغه ورځې څخه چې د فتحې لړی ودرېده په اندلس کښې د زوال وَینه د مسلمانانو د ملا د تیر په خوراک پیل وکړو.

کله چې مسلمانان د خپل منصب او چوکی ساتلو لپاره د نورو مسلمانانو د پرمختګ مخه نیسي، په خپلو خواهشاتو وېربېږي، نو هېڅکله هم پرمختګ نشي کولای.

مسلمانان هغه وخت ذلیل شوي چې مشرانو یې د خپل منصب ساتلو ته د اسلامي امت په پرمختګ ترجیح ورکړې ده.

هغه امیران او مشران به هېڅکله بریالي نشي او نه به هم غټ اهداف ترلاسه کړي چې په څنګ کښې یې کمزوري، خود خوا او خېټور درباریان راټول کړي وي، ځکه چې د داسې درباریانو مشورې ټولې په

شخصي غوښتنو راښکېلولو ته کار اخلي. ـ

## نن ورځ سرلارو ته اړتیا ده!

اسلامي اُمت نن داسې وینښتابه او سرلارو ته اړتیا لري چې یو ځل په ځوانانو کښې د جهاد جذبې څپاندې کړي، ویده ضمیرونه راویښ کړي، د جهاد لپاره د ټولې نړۍ مسلمانانو ته دعوت ورکړي، د ورورۍ او دوستۍ تار د مسلمانانو تر منځ قایم کړي، مسلمانانو ته د اسلامي اخوّت توصیه وکړي، مسلمانان په یو قیادت کښې راټول کړي، د سرحدونو او ملکونو نظریه له منځه یوسي او د اُمت درد په ټوّل اُمت یو شان درد او غم وګڼي؛ د کفر فکري، استعماري او دجالي رېښې ظاهرې او له منځه یوسي، په اسلامي ټولنه کښې د کفر دښمني خپره کړي، مسلمانانو ته د دې دښمنۍ دعوت او لارښوونې وکړي او کفار یو ځل بیا په سره اور کېنوي.

## له سختیو څخه مه وېرېږئ

په سختیو او تکلیفونو کښې هېڅ کله صبر او استقامت له لاسه ورنکړئ؛ سختۍ د انسان عزم او ارادې قوي کوي، سختۍ او تکلیفونه انسان د غټو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره تیاروي، سختۍ او تکلیفونه د انسان په ایمان کښې کلکوالی راولي، سختۍ او تکلیفونه انسان د

نورو سختیو تېرولو لپاره تیاروي، سختۍ او تکلیفونه د انسان جذبه او همت زیاتوي.

## د الله تعالی بندګي زمونږ د بریا راز دی

زمونږ د بریالیتوب راز په اسلام او د الله تعالی په سوچه بندګۍ کښې دی، مونږ به الله تعالی هېڅ کله خوار نه کړي، تر څو مو چې د الله تعالی ټولو اوامرو ته په اخلاص غاړه ایښې وي په هر دښمن به بریا زمونږ په نصیب وي، دښمنان به هېڅکله میدان راښخه یونسي؛ له کفارو سره دښمني او بیا په دښمنۍ کښې سختي کول زمونږ د ټینګ ایمان ښکارندویي کوي، الله تعالی همداسې امر هم راته کوي او فرمایي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا قَٰتِلُوا ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً ۚ وَٱعْلَمُوٓا أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُتَّقِينَ [سُوْرَةُ التّوبَة: 123]

ژباړه: اې مؤمنانو! د حق له هغو منکرانو سره وجنګېږئ چې تاسې ته نژدې دي او باید هغوی په تاسې کښې کلکوالی (سختوالی) ومومي او وپوهېږئ چې الله تعالی د پرهېزګارانو ملګری دی. دلته الله تعالی درې شیان خپلو مؤمنو بندګانو ته توصیه کوي؛ اول: جـهاد کول له هغه سرغړوونکو سره چې نیږدې وي، دوهم: له همدې کفارو سره چې جـهاد ورسره کوئ، باید سختي ورسره وکړئ او دریم: په دې هم پوه شئ چې الله تعالی له پرهېزګارانو سره دی، الله تعالی مرسته له هغه

بندګانو سره کوي چې هغه له ګناهونو څخه ځان ساتي او نیک اعمال کوي؛ نو په همدې اساس که چېرې مونږ په ربښتیا د الله تعالی بندګی ته وفادار شو هېڅ کله به الله تعالی خپله مرسته او نصرت راڅخه وانخلي.

## مسلمانان اتحاد نه لري

د مسلمانانو د ضُعف یو دلیل په خپل منځ کښې اختلاف کول، دي مسلمانان چې د کفارو وحشي منګولو ته لوېدلي یو سبب یې د اتحاد او یووالي نشتوالی دی، مسلمانان په هره زمانه کښې د خپل اتحاد د نشتوالي له امله د محکومیت، حسارت او غلامی تر پولو رسېدلي؛ مسلمانان که غواړي چې کفار راوپرزوي، هېڅ کله باید په خپل منځ کښې دښمنی او جګړې ته لمن ونه وهي؛ که چېرې په مسلمانانو کښې اتحاد او یووالی موجود وای، هېڅ کله به کفارو په ځمکه کښې حاکمیت نه وو ترلاسه کړئ، کفار چې نن ورځ په نړی حکومت کوي دا د مسلمانانو د بې اتفاقی نتیجه ده.

## زمونږ لپاره د الله تعالی مرسته کفایت کوي

مونږ د سپېڅلې عقیدې او ایمان په قـوّت جنګ او مبارزه کوو، د دښمن ډېروالی او اسباب مو د ایمان په مقابل کښې ډېر کمزوري دي، زمونږ سره د خپل ایمان او یقین په اساس خپل رب جل جلاله

مرسته کوي، الله تعالی فرمايي: وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِأَعْدَآئِكُمْ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَلِيًّا وَكَفَىٰ بِاللَّهِ نَصِيرًا [سُوْرَةُ النِّسَاء: 45]

ژباړه: الله (تعالی) ستاسې دښمنان ښه پېژني او ستاسې د مرستې او ملاتړ لپاره يوازې الله (تعالی) کافي دی.

کله چې الله تعالی زموږ مرستندوی وي نو د الله تعالی له مرستې څخه وروسته به کوم قـوّت او اسباب زموږ مقابله وکړي؟ نو مسلمانانو ته په کار ده چې هېڅ کله د کفارو له اسبابو څخه وېره ونه کړي، ځکه له کفارو سره د الله تعالی مرسته نشته؛ موږ بايد الله تعالی ته په نيږدې کيدلو سره د هغه مرسته ترلاسه کړو؛ الله تعالی فرمايي: إِن يَنصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ۖ [سُوْرَةُ آل عِمرَان: 160]

ژباړه: که الله تعالی مو مرستندوی وي، نو هيڅ قـوّت درباندې برلاسی کېدای نه شي.

بل ځای الله تعالی فرمايي: وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ [سُوْرَةُ التَّوبَة: 123]

ژباړه: او پوه شئ چې الله تعالی له تقوادار خلکو سره دی.

## خپلې حورې مه شرموئ!

کله چې مجاهدين جنګ کوي، د هر مجاهد حوره راځي د جنګ په صحنه کښې د خپل مجاهد دوست انتظار کوي، که چېرې مجاهد په

جنګ کښې وېرېږي، حوره يې د نورو حورو په منځ کښې ورباندې شرمېږي، نو مونږ بايد د جنګ په حالت کښې په مېړانه جګړه وکړو او خپلې حورې ونه شرموو د هغه لپاره بايد شرم جوړ نه کړو؛ مونږ بايد خپلو حورو ته د افتخار او سرلوړی سبب وګرځو، کوم مجاهد چې په مېړانه سره جګړه کوي، حوره يې د نورو حورو په منځ کښې افتخار ورباندې کوي، عبدالله ابن مبارک رحمه الله چې د وخت لوی عالم، ذاهد او مجاهد وو، خپلو مجاهدينو ته به يې وېل چې کلک شئ، په مېړانه او غيرت سره جهاد وکړئ، خپلې حورې د نورو حورو په منځ کښې مه شرموئ.

## كفار زمونږ له اسلامي فکر سره دښمني کوي

اې مسلمانانو! کفار ستاسو له اسلحې څخه وېره نه کوي او نه هم ستاسو دنيوي اسباب ورته دومره مهم دي، کفار اصلي دښمني زمونږ سره د اسلامي فکر او عقيدې په اساس کوي او بېرېږې هم زمونږ له اسلامي فکر څخه؛ چې ترڅو پورې مونږ په دې خپل دين باندې ثابت پاتې وو تر هغه به د دوی دښمني راسره روانه وي او د دوی لپاره به خطر وو، خو که خدای مکړه مونږ خپل دين ته شا کړه او اسلامي فکر مو له لاسه ورکړو، بيا نو کفار راباندې غالب کېږي او هېڅ کله به راڅخه ونه وېرېږي، ځکه چې اسلامي فکر له کفر سره دښمني لري، کله چې

اسلامي فکر ختم شي هغه د کفر سره دښمني هم پای ته رسېږي او یا هم په دوستۍ سره بدلېږي، چې په دواړو کښې د کفارو لپاره ګټه ده.

## مونږ ته دین تر هرڅه زیات ارزښت لري

مونږ به د خپل دین په خاطر ټوټه ټوټه شو، خو هېڅ کله به ورځخه تېر نشو، مونږ که په سرو اورونو کښېښ وسوزول شو خو خپل دین به بدل نه کړو، مونږ ته که د دنیا ټول نعمتونه او د ژوند اسباب راکول کېږي، خو خپل دین به وربانديې خرخ نه کړو؛ مونږ ته خپل دین تر ځان، مال، دولت، چوکۍ، مور، پلار، اولاد او قدرت زیات ارزښت لري؛ مونږ د خپل دین سره د دنیا هرې سختۍ ته تیار یو، هېڅ کله د خپل دین په قیمت د خواهشاتو، حوسونو او دنیا غوښتنه نه کوو او نه یې غواړو؛ زمونږ لپاره خپل دین بس دی، همدا مو افتخار دی چې د خپل رب جل جلاله په رالېږل شوي دین باندې له دنیا څخه رخصت کېږو او د الله تعالی سره ملاقات کوو. دار، زندان، کړۍ، مرګ، تعذیب، زمونږ ایمان نشي کمزورې کولای، بلکې زمونږ د ایمان ډېوه نوره هم روښانه کوي، سره زر هغه وخت ارزښت پیدا کوي چې په سرو اورونو کښې وسوزل شي، هغه خراب او اضافي مواد چې اوُر ته استقامت نه لري ورځخه لرې کېږي او په پای کښې سوچه سره زر پاتې کېږي، چې بیا زیات ارزښت

لري، له مونږ څخه هم دا سختۍ او تکلیفونه هغه خاصیتونه چې له یو غیرتي شخص سره مناسب نه وي لرې کوي او په پای کښې په ښو صفاتو کلک او محکم شخص ورڅخه جوړېږي، چې بیا د دین لپاره په هېڅ سختۍ باک نه کوي.

## د عزت او برم تاریخ ثبت کړئ!

مسلمانان که غواړي چې یو ځل بیا له عزت، برم، هیبت او دبدبې څخه ډک او سپېڅلی تاریخ ثبت کړي، نو دوی ته په کار ده چې د خپل تېر تاریخ په هنداره کښې وګوري، د مسلمانانو د کامیابۍ او ذلت اسباب ځان ته روښانه کړي، ورپسې په مېړانه او استقامت سره هغه کارونو ته ادامه ورکړي چې په تاریخ کښې مسلمانان ورباندې لوړ شوي، کامیاب شوي او د عزت ژوند یې ورباندې ترلاسه کړی؛ لکه: د دین تعلیم عامول، د اسلامي اصولو په رڼا کښې د خلکو فکر او نظریات جوړول، له کفري نظریاتو څخه اسلامي ټولنه پاکول، د کفارو سره د دښمنۍ روحیه عامول، د جهاد او قربانۍ لاره غوره کول، په هېڅ حالت کښې جهاد نه پرېښوول، په ټولنه کښې د تعلیم سطحه لوړول، روزنیز مراکز فعالول او زیاتول، د دین کارونو ته تر هرڅه اولیت ورکول، په الله تعالی ټینګ ایمان او یقین درلوول، د شهادت او قربانۍ سره مینه او محبت درلودل، د آخرت ژوند هېڅکله نه هېرول او د

ترلاسه کولو لپاره يې هڅې کول، د کفارو په مقابل کښې د جهاد لپاره د اسبابو په تيارولو او ترلاسه کولو کښې زيات کوښښ کول، د الله تعالی په ټاکلو قوانينو باندې ټينګې منګولې لګول او د ټولنې ځوانانو ته د جهاد او قربانی درس ورکول؛ دا ټول هغه اسباب دي چې مسلمانان د کاميابی او سرلوړی پړوا ته رسوي، چې هېڅ کله بايد غفلت پکښې ونه کړي.

همدارنګه که مسلمانان غواړي د غيرت او مېړانې تاريخ ثبت کړي، بايد له هغه کارونو څخه ځانونه وساتي چې په تاريخ کښې د مسلمانانو د ماتې، ذلت، رسوايی، نفاق، بدمرغی او ناکامی سبب ګرځيدلي وي؛ لکه: د کفارو سره نرمي او ملګرتيا، د کفارو فکرونو او نظرياتو ته په اسلامي ټولنه کښې ځای ورکول، د کفارو سره دښمني او جهاد نه کول، د آخرت له ژوند سره نه آشنايي او نه محبت، د دنيا خواهشات او شهواني کړنلارې غوره کول، د الله تعالی له ټاکل شوو اصولو څخه سرغړونه او د دين تعطيل کول، د لوړو اهدافو او نور پرمختګ څخه غفلت، په موجوده او ترلاسه شوو اهدافو قناعت او د پرمختګ هيله نه درلودل، په ټولنه کښې د اسلام، جهاد، مېړانې او نظريې د جوړولو د تعليم نشتوالی، د اقتصادي او سياسي ګټو لپاره هغه لارې غوره کول چې په شرعي اصولو نه وي برابرې، په دندو

کښېږي هغه چا ته ځای ورکول چې د پردیو خلکو د ګټو لپاره کار کوي او یا خو د اسلامي امت، مسلمانانو او اسلام هېڅ احساس نه وي ورسره او صرف خپلې شخصي ګټې یې په فکر کښېږي وي، خپل منځي ناروا شخړې او اختلافات کول چې د اُمت ملا ماتوي، په ټولنه کښېږي د تعلیم لپاره د روزل شوو روزونکو، استاذانو او معلمینو نشتوالی چې نسلونه په اسلامي نظریه وروزي، کفري نظریات ورته په نښنه کړي، د پرمختګ په لور یې وهڅوي، د مېړانې، جهاد او قربانۍ درس ورکړي؛ دا ټول هغه اسباب دي چې په اساس یې اسلامي اُمت د زوال ګندې ته لوېږي، چې باید خپل ځانونه ورڅخه وساتو.

## يهود د تاریخ ذلیله قوم وو

د خیبر د یهودو حالت نن ورځ تاسې درياد کړئ، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو په ملګرتیا سره د خیبر یهود محاصره کړل، د قلاوو په منځ کښېږي په یهودو کښېږي داسې بېره خپره شوې وه، کنانه چې د یهودو مشر وو، خپله لینده یې له ډېرې بېرې څخه نشوای ټېلای، د همدې وېرې په خاطر تسلیم هم شول، وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ووېل چې خپله اسلحه او سره زر به راکړئ مونږ ته او تاسې به له جزیرة العرب څخه وزئ، چې بیا یهودو مسلمانانو ته سختې زارۍ کولې او غوښتنه یې کوله چې مونږ

په دې ځمکو باندې د مزدورانو په شکل پرېږدئ، دا ځمکې به مونږ درته ساتو او مېوې به يې دراستوو؛ د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وخت کښې يهود ډېر ذليله وو، هېڅ قدر يې نه وو، د مسلمانانو مزدوارن وو، مسلمانانو ځمکې ورڅخه نيولې وې بيا يې بېرته همدوی ته د ډېر عجز په خاطر په مزدورۍ ورکړې وې تر څو ساتنه يې وکړي، وو مسلمانانو وېل چې که چېرې مونږ خپله په دې ځمکو مصروف شو نو زمونږ څخه به جهاد پاتې شي، نو ځکه يې د خيبر يهود همدلته ورباندې مزدوران کړل، د مدينې منورې له ښار څخه يې ټول يهود ايستلي، چې وروسته بيا د عمر رضي الله عنه په زمانه کښې د يو جرم په نتيجه کښې له ټول جزيرة العرب څخه وايستل شول، هغه وخت د اسلام د برم، عزت او عروج وخت وو؛ يهود خوار، ذليل او د مسلمانانو مزدوارن وو؛ نن ورځ همدا يهود دي چې په مسلمانانو واکمني کوي، له مسلمانانو څخه يې بيت المقدس او نورې زياتې ځمکې غصب کړې دي، په نړۍ کښې په سرو سترګو ګرځي او څوک هېڅ نشي ورته ويلای؛ دا ځکه چې مسلمانانو نن خپل دين ته شا ګرځولې ده، نن يې هغه لاره پرېښې ده چې صحابه کرام د کاميابۍ پړاو ته ورباندې رسېدلي وو؛ نن که مسلمانان يو ځل بيا غيرت وکړي، د قربانۍ لارې ته راووزي او ښه په مېړانه مقابله وکړي، نو يهود هېڅ

غیرت نه لري او نه هم د مسلمانانو په مقابل کښې استقامت کولای شي؛ نن ورځ دې مسلمانان تاریخ مطالعه کړي چې یهود د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په وخت کښې څومره ذلیل وو، له مدینې منورې څخه یې ټول وایستل او ځینې یې حلال کړل، له هغه څخه وروسته بیا عمر رضي الله عنه ټول یهود له جزیرة العرب څخه وایستل.

## رسول الله صلی الله علیه وسلم  د قربانۍ نمونه ده

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د جهاد  په ګردونو کښې خړ پړ وو، په ورځو او میاشتو به د جهاد په تشکیل کښې له مدینې منورې څخه په سفر تللی وو، د خپلو صحابه کرامو رضي الله عنهم سره به یو ځای د دښمن په مقابل کښې د جنګ په صف کښې ولاړ وو؛ نو زمونږ لپاره په کار ده چې د خپل رسول الله صلی الله علیه وسلم په قدم پسې روان شو او دا پاکه د جهاد  لاره ورپسې تعقیب کړو؛ دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول وخت په جهاد کښې تېر کړی، نو زمونږ لپاره په کار نه ده چې په خپلو خواهشاتو او دنیا ګټلو کښې خپله ځواني او قدرت مصرف کړو؛ د ځوانۍ تقاضا همدا ده چې د دین د ساتلو او له کفر څخه د مسلمانانو انتقام اخیستلو لپاره باید ورڅخه کار واخیستل شي، رسول الله صلی الله علیه وسلم چې الله تعالی په قربانۍ او جهاد امر کړی وو، نو مونږ بیا څوک یو چې ښېغمه

به په خپلو کورونو کښې ناست وو، د دنيا له ژوند او خواهشاتو څخه به خوند هم اخلو او په آخرت کښې به بيا د همغه د قربانيو او جـهاد له پيغمبر سره د يو ځای جنت ترلاسه کولو دعوه هم کوو، په حوض کوثر به د اوبو د څښلو تقاضا هم کوو؟ داسې خو هيڅ کله نشي کېدای چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په پله باندې قدم وانخلو او د هغه په شان قربانۍ ته تيار نشو، د جهاد او قربانۍ لاره ونه نيسو او د هغه ملګرتيا او يوځای والی دې ترلاسه کړو.

## اسباب په جهاد سره ترلاسه کړئ!

مسلمانان بايد په جـهاد سره د کفارو څخه هغه اسباب ترلاسه کړي چې دوی ورڅخه جنګي استفاده کوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم چې کله خيبر فتحه کولو د خيبر په يوه قلا کښې يې منجنيق(چې د هغه وخت داسې اسلحه وه لکه د نن ورځې اتوم او توپ) ونيولو او په بله برخه کښې يې د يهودو په خلاف استعمال کړو چې په نتيجه کښې يې خيبر فتحه کړو، نن که مسلمانان پرمختللې اسلحې، ټانګونه او طيارې نشي جوړولای، له کفارو څخه د زور او قـوّت په اساس خو دې يې ترلاس کړي، الله تعالى په هر وخت کښې خپله مرسته له مسلمانانو سره اعلان کړې او کوي يې؛ د صحابه کرامو رضي الله عنهم په وخت کښې د جنګ لپاره اسباب ټول د جـهاد په واسطه

ترلاسه کېدل. نن مسلمانان دومره کمزوري شوي چې نه خپله داسې اسلحه جوړولای شي او نه یې په زور او قـوّت سره له کفارو څخه ترلاسه کولای شي؛ دا ټوله د مسلمانانو د غفلت نتیجه ده چې نن یې جهاد ته شا ګرځولې او د دنیا په خواهشاتو کښې یې ځانونه مصروف کړي، د دنیا دا لنډ ژوند یې خوښ کړی، له کفارو سره دښمني او مبارزه یې له فکر څخه وتلې ده. مسلمانان باید د کفارو تقلید په بې پردګۍ، پیشن، سټایل، حرامتوب، بې حیایۍ، خبرو، حرکاتو، ظلم او وحشت کښې ونه کړي، بلکې مسلمانان باید کوښښ وکړي چې تر کفارو یې جنګی اسباب، تخنیک، صنعت، اقتصاد، ډاکټري او داسې نور پرمختللي وي ترڅو د کفارو له احتیاج څخه خلاص شي او پر خپلو اسبابو سره خپل مشکلات حل کړي او د کفارو سره وړاندې مقابله وکړي؛ نن ورځ کفارو د ټولې نړۍ نظام په خپله ګټه برابر کړی دی او مسلمانان په هره برخه کښې ورته احتیاج دي، نن د مسلمانان د نظام لپاره د رسمیت او غیر رسمیت اصول کفار ټاکي، نن مسلمانان کفارو ته وایي چې مونږ په رسمیت وپېژنئ، نن مسلمانان په ټولو برخو کښې اړ شوي ترڅو د کفارو په لارښوونو او طریقو عمل وکړي، دا هر څه د مسلمانانو غفلت، له خپل دین او تاریخ څخه بې خبري ده.

## خپل رزق د غنمیت مال وګرځوئ!

د صحابه کرامو رضي الله عنهم خوراک زیاتره د غنیمت مال وو، په کومو وختونو کښې به چې صحابه کرامو زیات جنګونه کړي وو، نو زیات به شتمن وو، د غنمیت مال الله تعالی تر ټولو مالونو پاک او حلال مال ګرځولی، کله چې مسلمانان د الله تعالی په لاره کښې جهاد کوي او په مېړانه یې همدا لاره نیولې وي د رزق لاره خپله الله تعالی ورته برابروي، نن ورځ زمونږ د خلکو لوی غم د خیټې او خوراک دی، چې زیاتره تر خپل ایمان او اسلام هم ورته تېرېږي، د کفارو غلامۍ ته هم لبیک وایي، تر څو یو څه ورځخه ترلاسه کړي، خو له خپل تاریخ او اسلام څخه نه دي خبر چې پخوانیو مسلمانانو ته الله تعالی له کومې لارې رزق ورکولو؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم به فرمایل: (جعل رزقي تحت ظل رُمحي) ژباړه: زما رزق زما د نېزې تر سیورې لاندې ګرځول شوی دی؛ یعنې زما رزق په جهاد او د کفارو د مالونو په غنیمت کولو کښې مقرر کړل شوی، زه به جهاد کوم او خپل رزق به په دې طریقه ترلاسه کوم. که چېرې مسلمانان غیرت وکړي او په مېړانه د جهاد لاره ونیسي، نو یقینا د کفارو مالونه به مسلمانان ترلاسه کوي او د کفارو مالونه د همدې لپاره دي ترڅو یې مسلمانان غنمیت کړي او خپل ژوند ورباندې جوړ کړي، استفاده ورځخه وکړي، خو نن مسلمانان دومره کمزوري شوي، چې د خپلو مالونو او ځانونو

څخه ساتنه نشي کولای، کفارو ټولې ځمکې ورڅخه نيولې دي، په هر ځای کښې په مسلمانانو وحشت او ظلم روان دی، مسلمانان د يو څه مال لپاره د کفارو غلامي او مزدوري کوي، دا ځکه چې دوی خپله لاره بدله کړې ده، دوی د جهاد په حکمت او ګټه نه پوهېږي، په الله تعالی يې يقين او باور کمزوری شوی دی، له خپل دين څخه ناخبره شوي دي.

## قبوليت داسې وي!

په څو شېبو کښې له کفر څخه تر اسلام، سنګر، شهادت او بيا تر جنت پورې لاړو!

جنت ته د تللو نېږدې لاره د جهاد ده، هېڅ کله له دې لارې څخه ځانونو مه لرې کوئ، ترڅو مو الله تعالی تر جنت پورې ورسوي، رسول الله صلی الله عليه وسلم د خيبر يوه برخه فتحه کړې وه، په هغه برخه کښې چې کوم غنيمتونه ترلاسه شوي وو هغه يې تقسيمول، چې يو صحرايي راغلو او مسلمان شو، رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپلې مهربانی له وجې امر وکړو چې له غنميت څخه برخه ورکړئ، کله چې غنيمت ورکړل شو صحرايي وېل چې دا څه دي؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل دا ستا د غنيمت برخه ده، صحرايي وويل چې ما د دې لپاره ايمان نه دی راوړی چې زه مال ترلاسه کړم

بلکې ما د دې لپاره ایمان راوړی چې په دې ځای کښې په غشي وویشتل شم (خپلې غاړې ته يې اشاره وکړه) او شهيد شم، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل چې که ته له خپل رب جل جلاله سره رېښتينی وې الله تعالی به دې شهيد کړي، لږ وروسته جنګ شروع شو دا صحرايي هم لاړو د هغه خوا ښخه يهودو غشي ويشتل شروع کړل نو دا صحرايي په هغه ځای ولګېدو او شهيد شو، وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: الهي! دا ستا بنده دی، ستا په لاره کښې مهاجر راوتلی وو او شهيد شو، زه په دې شاهدي ادا کوم؛ هلته چې کوم مشران صحابه کرام وو د ټولو همدا تمنا وه چې همداسې شهيد شوي وای. الله تعالی چې چا ته مقام ورکوي، داسې وي، په څو لحظو کښې مسلمان شو، بيا مهاجر او مجاهد شو، بيا شهيد شو او بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم شاهدي هم ورباندې ادا کړه؛ دې ته وايي قبوليت او دې ته وايي درجه چې الله تعالی يې خپلو بندګانو ته ورکوي؛ څوک چې د الله تعالی لاره ونيسي الله تعالی به د خپل ځان خوا ته لارې ورته آسانه او پرانيزي.

## زمونږ ذلالت به زمونږ د عملونو نتيجه وي

دا نن چې مونږ ذليل، خوار او کمزوري يو دا زمونږ د خپلو عملونو نتيجه ده، مونږ د خپل پېغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم لاره پرېښې

ده، د هغه له لارې ښخه بې خبره يو؛ رسول الله صلى الله عليه وسلم يوازې وو چې د مکې د مشرکينو په منځ کښې الله تعالى نبوت او رسالت په غاړه ورکړو، دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل اعمال وو چې الله تعالى مرسته او نصرت ورسره وکړو، د مکې په منځ کښې يې په يوازې ځان سره د اسلام دعوت پيل کړو، تر دې چې ملګرې يې پيدا کړل، اسلامي حکومت يې جوړ کړو، د ټول جزيرة العرب کفار يې ولړزول، يا مسلمانان شول او يا يې جزيه قبوله کړه، له رسول الله صلى الله عليه وسلم ښخه وروسته صحابه کرامو رضي الله عنهم چې د خپل پيغمبر لاره يې په پوره مېړانه تعقيب کړه او همداسې د جهاد لاره يې ونيوله په نړۍ کښې يې لوى قوي اسلامي حکومت جوړ کړو؛ له هغه ښخه وروسته چې په کوم وخت کښې مسلمانانو د خپل رسول الله صلى الله عليه وسلم لاره تعقيب کړې کامياب شوي او د عزت ژوند يې ترلاسه کړى دى؛ نن چې مونږ ذليل يو علت مو همدا دى چې د خپل پيغمبر لاره مو پرېښې ده، د هغه له سيرت، صورت او کارنامو ښخه بې خبره يو.

الله تعالى فرمايي: وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُواْ عَن كَثِيرٍ

ژباړه: پر تاسې چې هر مصیبت راغلی دی، ستاسې د خپلو لاسونو له عملونو څخه راغلی دی، او له ډېرو ګناهونو څخه (الله) همداسې تیریږي.

إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ [سُوۡرَةُ الرّعد : 11]

ژباړه: حقیقت دا دی چې الله د هیڅ قوم حالت نه بدلوي، تر څو پورې چې هغوی خپل اوصاف نه وي بدل کړي.

## صحابه کرام زمونږ مقتدایان دي

صحابه کرام رضي الله عنهم چې د الله تعالی ډېر نیږدې بندګان وو، په پوره اندازه یې په دین منګولې لګولې وې او زمونږ لپاره نمونه دي، تاسې یې تاریخ مطالعه کړئ، چې د جهاد په ډګر کښې یې څنګه کارنامې راته پاتې دي او څنګه دښمني یې له کفارو سره کړې ده؟ کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه مشوره اخیسته چې احد ته د جنګ لپاره ووزو او که پاتې شو، نو حضرت حمزه رضي الله عنه وویل چې قسم په الله ترهغو به خوراک ونه کړم ترڅو چې له مدینې منورې څخه بهر لاړ نشم او په خپله توره له مشرکانو سره ونه جنګیږم. حضرت نعمان بن مالک رضي الله عنه وویل چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! مونږ له جنت څخه مه محرومه کوه، قسم په الله چې زه به په جنت کښې داخلیږم.

حضرت حنظله رضي الله عنه دومره په جذبه کښې وو چې غسل ورڅخه پاتې شو او د جهاد میدان ته راووتلو، تر دې چې شهید شو او پرېښتو غسل ورکړو. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو، صحابه کرامو په فتوحاتو پیل وکړو عراق، قادسیه، مداین، شام، فلسطین، مصر، بابل، فارس، بهره شیر، حمص، کوفه، شام او نورې زیاتې لرې او پرتې سیمې یې فتحه کړې او هلته یې د مبارک اسلام رڼا ورسوله؛ که نن مونږ خپل ځان ته وګورو او فکر وکړو چې د الله تعالی د دین په خاطر مو څه کړي او د جهاد په لاره کښې مو کومې قربانۍ ورکړې دي؟ نو په هېڅ حساب دي نظر د صحابه کرامو قربانیو ته، په همدې اساس مونږ هم باید د صحابه کرامو لاره تعقیب کړو او د هغه په شان د دین رسولو او ساتلو لپاره جهاد خپله دنده او مسئولیت وګڼو؛ مونږ باید په صحابه کرامو پسې، په دینداری، غیرت، استقامت، صبر، جهاد، توکل، اخـوّت او همکاری کښې اقتداء وکړو او په مېړانه ورپسې روان شو، ځکه چې دوی په دې ټولو صفاتو کښې حتی د کمال درجې ته رسېدلي وو.

## بې اطاعتي

نن سبا ډېر کارونه بې اطاعتۍ خراب کړي له خپلو مشرانو سره به یې په یوه وړه خبره دوې درې ورځې جنجال او سر زوري وي خو امر به

يې نه مني؛ کله چې کارونه د اطاعت له سلسلې څخه خارج شي بيا نو په دې کښې شک نشته چې خلک به هغه کارونو ته مخه کوي چې ټول وخت د ټولنې او خلکو په تاوان وي او کارونه به د خواهشاتو تابع شي؛ اطاعت که په لمړي سر کښې سخت او ترېخ وي خو وروسته يې بيا نتيجه يا مېوه ډېره خوږه وي؛ بې اطاعتي هر وخت نفرتونو او دښمنيو ته لمن وهي د خلکو له منځ څخه محبت او مينه پورته کوي؛ اطاعت به د امير د هغه امر کېږي چې له شريعت سره په ټکر کښې نه وي؛ هېڅ کله امير ته نه ده په کار چې خپلو مأمورينو ته داسې امر وکړي چې له شريعت څخه خلاف يا اړين نه وي؛ اميران بايد خپلو ما تحت کسانو ته د کارونو په اړه په ډېر حکمت او ښه طريقه د کارونو امر او لارښوونې وکړي؛ که چېرې اميران په خپلو امرونو کښې د مأمور شخصيت په نظر کښې ونه نيسي خامخا به يې تر منځ مشکل او بې اطاعتي رامنځ ته کېږي؛ هغه اميران هېڅ کله نشي بريالي کېداى چې خپلو ما تحت کسانو ته په جبر، کبر، شدت، جديت، بد اخلاقۍ او خوشکې سره امرونه کوي او له هغه څخه د يو غلام په حيث کار اخلي.

## ځوانان د جهاد او قربانۍ لپاره دي

ځوانان د قربانۍ لپاره دي، ځوانانو ته سنګرونه انتظار کوي، ځوانانو ته الله تعالی قوّت، جرئت، غیرت او استقامت وکړی، ترڅو له سپېڅلي اسلام څخه ساتنه او دفاع وکړي.

زمونږ ځوانان د جهاد لپاره باید تیار وي، د اسلامي اُمت ځوانان باید داسې روزل شوي وي چې دښمنان په خپلو وینو کښې ولمبوي او په خپلو وینو کښې یې ولړي، زمونږ ځوانان باید د هر مغرور په مرۍ باندې قدم کېږدي، د اسلامي اُمت د ځوانانو څخه داسې هیله کیږي چې دښمن ورڅخه په هر ځای کښې په لړزه او وېره کښې وي، زمونږ ځوانان باید د دین په لاره کښې د هېڅ ډول خطر څخه وېره ونه لري، الله تعالی خپله همکاري د مسلمانانو سره کوي، د دې په خاطر چې دوی په سپېڅلي اسلام باندې ټنګ وکړي، د کفارو ماغزه وشیندي او ککرې یې ورماتې کړي؛ داسې ځوانان بیا کولای شي د اسلامي اُمت د درد دوا شي او اُمت د عروج دنګو منارو ته پورته کړي.

## د غټ هدف لپاره مو بچان وروزئ!

مور او پلار د خپل اولاد په روزنه کښې مسئول دي، له ماشومتوب څخه مو خپل بچیان د جهاد په روحیه جوړ کړئ او د غیرت درس ورکړئ؛ مجاهد باید د تقوا لوړ حد ته رسېدلی وي؛ ځکه چې فتحه او

کامیابي د الله تعالی په نصرت سره کېږي او الله تعالی له هغه بندګانو سره مرسته کوي چې پوره پوره د الله تعالی بندګی ته غاړه کېږدي، ځکه چې الله تعالی د تقوا په اساس نصرت کوي.

په دښمن د کامیابی یو سبب د راز ساتل دي؛ کله چې یوه خبره ډېره اړینه نه وي باید ونه شي په دې توګه به مو رازونه نه افشا کېږي. دښمن به مو له هغه پلانونو څخه نه خبرېږي چې تاسې لا تر اوسه نه وي ترسره کړي. محمد الفاتح رحمه الله د عثماني خلافت 7 خلیفه وو، چې 7 دولتونه او 200 ښارونه یې فتحه کړي؛ قسطنطنیه د ترکیې مرکز هم د همدې فاتح په واسطه فتحه شو، کوم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په اړه ویلي: (د قسطنطنیې فاتح به جنت ته ځي.) د دې زیاتو فتحو یو سبب یې دا وو چې ډېر هوښیار او تقوا داره وو؛ یوه ورځ یو قاضي ورته وویل چې دا لښکر دې کوم خواته روان کړی، فاتح رحمه الله ورته وویل: که چېرې زما د ږیرې یو ویښته هم په دې راز خبر شي زه به یې راوباسم او وبه یې سوزوم. بل سبب یې د کوچني والي څخه روزنه د غیرت او مېړانې په اساس شوې وه، مور به یې په غېږ کښې اخیستی وو د قسطنطنیې خواته به یې اشاره ورته وکړه او ورته وبه یې ویل چې زویه! دا ښار به ته فتحه کوې.

# په جهاد کښې ډېر زېري دي

مسلمانانو ته هېڅ کله نه ده په کار چې له مرګ څخه وېره وکړي، ځکه چې د مسلمان لپاره مرګ تحفه ده (تحفة المؤمن الموت) الحديث ژباړه: مرګ د مؤمن لپاره تحفه (ډالۍ) ده.

د مسلمانانو لپاره تر مرګ وروسته د هغه نعمتونو وعده شوې چې نه سترګو لېدلي او نه غوږونو اورېدلي.

د مسلمانانو لپاره په جهاد کښې د شهادت مرګ يو لوی نعمت دی چې هر څوک نه ورڅخه برخمن کېږي او الله تعالی يې هغه بندګانو ته ورکوي چې د زياتې پېرزوينې اراده يې ورته کړې وي؛ د شهادت په وخت کښې الله تعالی ټول ګناهونه ورته معاف کوي، له شهادت څخه وروسته به د دوه اويا حورو سره واده کوي، د اويا کسانو ګناهکارانو به د الله تعالی په دربار کښې سپارښت او مغفرت کوي، د شهيد لپاره خپله حوره انتظار وي، څنګه چې شهيد شي خپله حوره يې ورته حاضره شي او په غېږ کښې يې پورته کړي.

په جهاد کښې د فتحې او کاميابی چې کوم خوند دی، په هېڅ شي کښې نه پيدا کېږي.

د جهاد په اساس له کفارو څخه ترلاسه شوی غنيمت هغه پاک رزق دی چې تر هغه بل پاک رزق نشته.

دا چې د جهاد هر اړخ له نېکمرغۍ څخه ډک دی، نو هېڅکله مسلمانانو ته نه ده په کار چې په دې لوی او بهترین عمل کښې کمزوري وکړي.

## مسلمانان په جهاد ژوندي وي

کله چې مسلمانانو جهاد خپله دنده بللې وه او ټولو مسلمانانو به د دښمن په مقابل کښې هر وخت جهاد ته ادامه ورکړې وه، هغه وخت د مسلمانانو د عروج او لوړوالي وخت وو، کفري نړۍ به جزیه په ځان منلې وه، کفارو په ذلالت او مسلمانانو په عزت کښې ژوند کولو؛ دا ځکه چې په هغه وخت کښې د مسلمانانو اصلي او مقصودي دنده جهاد وو، له ماشومتوب څخه بیا تر آخره به یې ژوند په جهاد کښې تیرولو، همدوی وو چې د غیرت توره یې وځلوله او په ټوله نړۍ یې د اسلام لمر خپور کړو؛ هغه وخت د اسلام د راج وخت وو، چې په لویو لویو امپراتوریو یې چلاوه، هغه وخت مسلمانان په ټوله نړۍ کښې د عزت څښتنان وو، هغه وخت وو چې اسلام ته پر مختګ ورکول کېدو، هغه وخت وو چې اسلام ته کار کېدو او هغه وخت وو چې د کفارو مشرانو او سردارانو به مسلمانانو ته د تسلیمۍ او غلامۍ سر ښکته کړی وو؛ دا ټول ځکه چې مسلمانانو د دین اصل

مقصد پېژندلی وو او غوښتل يې چې په ټوله نړۍ کښې کفار ذليله کړي، نيت او اراده يې تر يو خاص ځای او ملک پورې نه وه.

يو وخت د اسلام د برم او دبدبې وخت وو، کفارو به د غلامانو په څېر ژوند کولو او جزيه به ورځخه اخيستل کېده. د عمر رضي الله عنه په وخت کښې به چې کومو کفارو جزيه ورکوله او تسليم به شول، نو عمر رضي الله عنه به په دې کفارو يو څو شرايط اېښودل؛ لکه: کله چې د مسلمانانو لښکر ستاسو په ساحه تېرېږي نو تاسې به لارې ورښيئ، په کنډوونو کښې به اورونه ورته بلوئ تر څو له مسلمانانو څخه لاره ورکه نشي او کله چې مسلمانان ستاسو په ساحه تېرېږي، نو تاسې به خپل رواجونه نه لمانځئ. تاريخ بيانوي کله به چې کفارو جزيه راوړه نو په ډېر ذليل شکل به ولاړ وو، تر ډېره وخته به مسلمان غږ نه ورته کولو وروسته به يې په ډېر سخت آواز سره ورته وويل چې کافره ذليله! کېږده جزيه او ځه په خپله لاره؛ دا ځکه چې په هغه وخت کښې مسلمانانو جهاد خپله دنده او مسئوليت ګڼلی وو او په ډېره مينه سره به يې ترسره کولو؛ اوس مسلمانان په نړۍ کښې ډېر د ذلت ژوند کوي، په ټوله نړۍ کښې مظلومان دي او هره ورځ کفار ورباندې ظلمونه او وحشتونه کوي؛ ځينې بې ضميره مسلمانان خو بيا د کفارو په دروازو کښې غلامي او سؤال کوي، د کفارو لمن يې نولې ده او

خپل د ژوند لپاره يو څه ګټه ورځخه ترلاسه کوي؛ دا هر څه ځکه راپېښ شوي چې مسلمانانو خپله د عروج او برم د اعادې دنده او مسئوليت(جهاد) ترک کړی او هغه ته په ډېره سپکه سترګه ګوري.

## زمونږ او کفارو تر منځ دښمني الهي امر دی

زمونږ دښمني الله تعالی ټاکلې ده، زمونږ او کفارو دښمني په اسلام، عقيده، ايمان او توحيد سره ده؛ د دې دښمنۍ لپار الله تعالی خپل اصول ټاکلي، هېڅوک حق نه لري چې په دې دښمنۍ کښې اساني او نرمي راولي او يا دا دښمني په دوستۍ بدله کړي؛ الله تعالی فرمايي: إِنَّ الْكَٰفِرِينَ كَانُوا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِينًا [سُوۡرَةُ النِّسَاء :101]

ژباړه: بېشکه کافران ستاسو لپاره په ښکاره دښمنان دي.

بل ځای الله تعالی فرمايي: يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّى وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَآءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوا بِمَا جَآءَكُم مِّنَ الْحَقِّ يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ ۙ أَن تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ رَبِّكُمْ إِن كُنتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَٰدًا فِى سَبِيلِى وَابْتِغَآءَ مَرْضَاتِى ۚ تُسِرُّونَ إِلَيْهِم بِالْمَوَدَّةِ وَأَنَا۠ أَعْلَمُ بِمَآ أَخْفَيْتُمْ وَمَآ أَعْلَنتُمْ ۚ وَمَن يَفْعَلْهُ مِنكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيلِ [سُوۡرَةُ المُمتَحَنَة :1]

ژباړه: اې ايمان راوړونکو! که تاسې زما په لاره کښې د جهاد کولو لپاره او زما د رضا د ګټلو په خاطر (وطن پرې ايښئ او له کورونو څخه

وتلي ياست؛ نو زما او ستاسې دښمنان، خپل دوستان مه نيسئ؛ تاسې له هغوی سره دوستانه اچوئ، پداسې حال کښې کوم حق چې تاسې ته راغلی دی، د هغه له منلو څخه هغوی انکار کړی‌دی؛ او د هغو چلند دا دی چې پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) او پخپله تاسې صرف پدې ګناه له وطن څخه باسي چې تاسې پخپل رب الله باندې ايمان راوړی دی؛ تاسې په پټه هغوی ته دوستانه پيغامونه ليږئ، پداسې حال کښې څه چې تاسې په پټه کوئ او څه چې په ښکاره کوئ، په هر څه زه پوهيږم؛ هر څوک چې ستاسې څخه داسې وکړي، هغه په يقيني توګه له سمې لارې څخه بېلارې شو.

نو په دنيا کښې هم که څوک که له کفارو سره دوستي کوي د هغه لمنه نيسي لومړی دې تاريخ وګوري چې د داسې اشخاصو آخري انجام څنګه وو؟ او څنګه له ذلت سره مخ شوي؟

تاريخ ثابته کړې ده کومو بې غيرته مسلمانانو چې د کفارو ملګرتيا کړې ده او د مسلمانانو په خلاف يې د کفارو سره همکاری ته ملا تړلې ده، ډېر زر د ذلت سره مخ شوي، د دنيا ژوند يې ډېر به ذلت او خواری سره تېر کړی دی او په آخرت کښې به هم د الله تعالی محکمې ته په محکوم ډول او ټيټو سترګو پېش شي.

## سختۍ تېرول د پخوانيو مسلمانانو سنت دي

د دين په خاطر په ځان باندې سختۍ تېرول دا يوازې مونږ نه دي تيرې کړې زمونږ څخه مخکې هم د دې دين لپاره بې شمېره قربانۍ مسلمانانو ورکړې دي او هېڅ پروا يې هم نه وه، بلکې دې سختيو خوند ورکولو او په دې سختيو کښې يې وروسته يو نېکمرغه عاقبت ليدلو چې الله تعالى به يې راکوي، دا نن چې کومې سختۍ مونږ په ځان باندې تېروو دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت ترسره کوو، هغه چې کله طائف ته لاړو، مشرکينو ته يې دعوت ورکولو، په ځاى د دې چې اسلام قبول کړي رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په کاڼو وويشتو تر دې اندازې چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له پښو مبارکو څخه وينې رواني شوې ده مبارک وېل چې يا الله! که ته راڅخه راضي وې په دې سختيو مې باک هم نشته، هېڅ پروا يې نه لرم. همداسې د مکې په لارو کښې به ابولهب ډبرې ورپسې اخيستې وې ويشتلو به يې، کنځلې به يې هم پسې کولې، رسول الله صلى الله عليه وسلم به لمونځ کولو مشرکينو به يې په غاړه د حيوان لړمون ورواچلو، په مدني دوره کښې ټوّل وخت د جهاد په ګردونو سپېره وو، د احد په غزا کښې يې غاښ مبارک شهيد او تندى مبارک يې سخت زخمي شو، کوډې ورباندې وشوې، د خيبر په غزا کښې يوې يهودنې زهر ورکړل چې تر مرګه پورې له هغه زهرو څخه کړېدو او آخر

د هغه زهرو د اثر په خاطر شهيد هم شو. زمونږ لپاره په کار ده چې په خپل مبارک دين باندې هر ډوَل سختيو ته تيار شو، د حساب په ورځ چې الله تعالی راڅخه پوښتنه وکړي چې زما رسول خو د دې دين په خاطر داسې سختی تېرې کړې دي تا زما د دين په خاطر څه وکړل، رسول الله صلی الله عليه وسلم خو ٢٣ کاله د همدې سختيو عملي درس درکړو، خپله يې هم سختی، لوږې، تندې، زخمونه، تکليفونه د دې دين په خاطر تېر کړل او دين يې تر تاسې درورسولو، وروسته بيا تاسې په دې دين عمل او غيرت کولو او که مو شاته پرېښی وو؟

الله تعالی فرمايي: أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُم مَّثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلِكُم ۖ مَّسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّىٰ يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ ءَامَنُوا مَعَهُ مَتَىٰ نَصْرُ اللَّهِ ۗ أَلَآ إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ [سُوَرَةُ الْبَقَرَة: 214]

ژباړه: ايا تاسې دا انګېرئ چې همداسې به جنت ته ننووځئ، په داسې حال کښې چې لا تر اوسه پر تاسې هغه هر څه ندي تېر شوي، چې ستاسې څخه پر مخکنيو مؤمنانو راغلي دي؟ پر هغو ستونزې راغلې، کړاوونه ورته ورسېدل، ولړزول شول، آن تر دې چې د وخت پيغمبر او د هغه مؤمنانو ملګرو فريادونه وکړل چې د الله مرسته به کله راشي؟

په هغه وخت کښې هغوی ته ډاډېنه ورکړل شوه چې هو د الله مرسته نژدې ده.

نو مونږ ته په کار ده چې د دين په خاطر په دنيا کښې خپل ژوند په سختيو، تکليفونو، زخمونو او لوږو کښې تېر کړو، تر څو په ورځ د حساب له ځان سره دا دلايل راوړو چې يا الله! مونږ هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم لاره تعقيب کړه همداسې سختۍ مو تېرې کړې، نو اؤس ته رحم راباندې وکړه او له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره مو يو ځاى جنت ته واستوه، ځکه چې هغه زمونږ رهبر وو، زمونږ امام وو، زمونږ لپاره لارښؤد وو، مونږ ډېر محبت ورسره لرلو، مونږ يې په لارښوونو عمل کولو، مونږ د همدې رسول الله صلى الله عليه وسلم په لارښوونه تر دې ځايه راغلي يو، نو مونږ ته جنت راکړه، نو بيا به الله تعالى مونږ ته داسې جنت راکړي چې د دنيا ټؤل تکليفونه به راڅخه هېر کړي، بيا به مونږ د خپل محبوب رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يو ځاى په جنت کښې د خوشحالۍ ژوند کوو، بيا به مونږ د هغه غيرتي صحابه کرامو رضي الله عنهم سره په لوږو سترګو يو ځاى په جنت کښې ګرځو کوم چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ملګري وو، دين يې تر مونږ رارسولى وو او اکثراً يې په نورو ملکونو کښې شهيدان شوي دي، بيا به صحابه کرامو رضي الله عنهم

ته ملامت نه وو، که پوښتنه راڅخه وکړي چې دا دين خو مونږ ډېر په سختيو او قربانيو سره تر تاسې پورې ورسولو نو تاسې وروسته له دې دين سره څه معامله وکړه؟ وروسته تاسې هم قرباني وربانديې ورکوله که مو هېر کړی وو؟ د دين په خاطر چې کومو اتلانو قربانۍ ورکړې دي هغه به ټول د حساب په ورځ راټول وي او الله تعالی به يې بدله ورکوي هغه څوک چې د دين لپاره يې هېڅ نه وي کړي، د الله تعالی حضور ته به په کومو سترګو ولاړ وي او الله تعالی ته به کوم دلايل پېش کوي؟

## سرحدونه زمونږ لپاره د تقسيم پلمه ده

کفار د مسلمانانو له اتحاد څخه په وېره کښې وو، د مسلمانانو اتحاد د نړۍ د کفارو لپاره د خطر زنګ وو او دا د خطر زنګ د مسلمانانو د خلافتونو له وخته د دوی په غوږونو کښې غرېدو نو په همدې اساس يې غوښتل چې په مسلمانانو کښې جلاوالی راولي، نو د همدې هدف لپاره يې په اسلامي خاورو باندې اشغال او استعمار راوړو، ورپسې يې د دوی ترمنځ هېوادونه او رسمي پولې رامنځ ته کړې او د مسلمانانو ترمنځ يې په بېلابېلو لارو سره د هېوادونو او سرحدونو په شکل بېلوالی رامنځ ته کړو او يو اسلامي اُمت يې په څو څو برخو تقسيم کړو؛ داسې يو اُمت يې سره بېل کړو چې د دوی اخـوّت او

وحدت په قرآن کريم سره ثابت وو؛ له کومې ورځې څخه چې د مسلمانانو د تقسيم لپاره کفارو د سرحدونو په نامه کومې پولې رامنځ ته کړې دي او د هېوادونو په اساس يې يو له بل څخه جلا کړې دي، له همهغه ورځې څخه مسلمانان کمزوري او خوار شوي چې بيا يې د دښمن په مقابل کښې يو پوره قـوّت نه دی جوړ کړی؛ دې پولو او سرحدونو په مسلمانانو کښې هم دومره تاثير کړی چې اوس دوی خپله هم يوازې خپل ملک، ملت او خاورې ته وفاداره دي، د دين او جـهاد ټؤل احکام يوازې تر خپل ملک پورې خاص کوي د ملک په حدودو کښې شعارونه، ترانې ستاينې او شعرونه زمزمه کوي او له خپل ملک څخه بهر په نورو ملکونو کښې جـهاد او مداخله کول ورته ناروا ښکاري؛ خو مونږ وايو چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وخت کښې او له هغه څخه وروسته تر عثماني خلافت پورې ولې دا د سرحدونو او ملکونو نظريه نه وه چې تر يو خلافت لاندې به ډېر ملکونه او دولتونه وو او په ټولو به يو خلافت حاکم وو؟ زه وايم چې که صحابه کرامو رضي الله عنهم په نورو ملکونو کښې جـهاد نه وای کړی، نو نن به مونږ هم له سپېڅلي اسلام څخه نه وو برخمن شوي، صحابه کرامو خو خپل جزيرة العرب وختي له کفر او شرک څخه پاک کړی وو، نو بيا ولې آرام او په استراحت نه کېناستل؟ خو دا د صحابه

کرامو مېړانې او قربانۍ وې چې له جزيرة العرب څخه يې د يهوديت او شرک ريښې وايستلې، صحابه کرام وو چې د کسرا او قيسر امپراتورۍ يې ولړزولې، صحابه کرام وو چې د خراسان په لور يې د اسلام رڼا راوړه، صحابه کرام وو چې اور پرست يې له شرک څخه اسلام ته راوايستل، صحابه کرام وو چې مکه يې له بت پرستۍ څخه پاکه کړه او د شرک لمن يې ورټوله کړه؛ نن خو دې په ملکونو مين مسلمانان هغه د تېرې ورځې د عربي مجاهدينو له کارنامو او قربانيو څخه عبرت واخلي چې په افغانستان او نورو عجمي هېوادونو کښې يې ترسره کړې دي؛ نن دې مسلمانان هغه د صحابه کرامو او تابعينو له زيارتونو څخه عبرت واخلي چې په افغانستان، نورو آسيايي او اروپايي هېوادونو کښې يې اوس هم د ياد او غيرت ځلي موجود دي؛ نن دې مسلمانان د اموي خلافت څخه عبرت واخلي چې له دمشق څخه يې په اروپا خراسان او هند باندې واکمني کوله؛ نن دې مسلمانان د عباسي خلافت څخه عبرت واخلي چې له بغداد څخه يې نيمه نړۍ تر قدرت لاندې راوستلې وه او ځمکه يې د پرمختګ، صنعت او تعليم څخه ډکه کړې وه؛ نن خو دې مسلمانان د عثماني خلافت څخه عبرت او درس واخلي چې د عيسويت په کور (قسطنطنيه) کښې يې د اسلام ځراغونه روښانه کړل، عيسويانو ته يې د ذلالت

ژوند وروپه برخه کړو، د لویو لویو کفري هیوادونو څخه به یې جزیه اخیسته او واکمني یې وربانديې چلوله؛ آیا د نن ورځې مسلمانان به دا خبره کوي چې پخوانیو مسلمانانو په نورو هېوادونو کښې مداخله کوله او که به دا خبره کوي چې همدا د اسلام او جـهاد تقاضا ده، خو مونږ د غفلت په خوب ویده یو؟ اصل خبره همدا ده چې مونږ د غفلت په خوب ویده یو او د خپل اسلامي تاریخ څخه بې خبره یو.

مونږ زیاتره وخت د امت د وحدت، د سرحداتو نړول، نړیوال جهاد، اسلامي اخوّت، او همکارۍ خبره کوو، خو دا خبره د داعش (خوارجو) په جامه کښې نه کوو، داعشیان خو د امت د سرطان دانه ده، داعشیان خو د امت مسلمانان بغیر له خپل ځان څخه کافران او مرتدین ګڼي، تاسې فکر پسې وکړئ چې کله یې رسالې ګورئ، په هر ځای کښې به هغه جهادي ډلې مرتدین ګڼي چې د کفر ملا یې ماته کړې وي، داعشیان د مسلمانانو وینې او مالونه روا ګڼي بغیر له خپلې ډلې څخه هېڅوک هم مسلمانان نه ورته ښکارېږي؛ خو مونږ د امت اتحاد غواړو، د اسلام په چوکاټ کې، مونږ د سرحدونو نړول غواړو خو په هغه طریقه چې د مسلمانانو ترمنځ اخوّت او د کفارو سره دښمني پکښې وي، سرحدات په هغه طریقه نړوو چې کفار او د هغه نظامونه او اشغال له اسلامي خاورو څخه وباسو، مونږ باید هېڅکله د

سرحدونو د نړولو له نظريې څخه غافل نشو، مونږ د نړوال جهاد خبره کوو خو له کفارو سره، د داعش په ډؤل د مسلمانانو په مقابل کښې نه، داعشيان خو د مسلمانانو په مقابل کښې خپل جنګ ته د بهترين جهاد نوم ورکړی، د کفارو سره د جهاد لپاره يې ملا ماته ده، په هر ځای کښې د کفارو په لاربښوونو د مسلمانانو وينې تويوي، مونږ غواړو چې په ټؤله نړی کښې د مسلمانانو مظلوميت پای ته ورسوو، اسلامي خاورې آزادې کړو، کفار او د هغه ملګري ذليل کړو، زمونږ هدف همدا دی زمونږ د اسلام تقاضا هم همدا ده.

## که څوک جهاد نه کوي د کومې سزا وړ دي؟

د يرموک په جګړه کښې چې د مسلمانانو شمېر څلوېښت زره وو او د روميانو شمېر يو نيملک کسانو ته رسېدو، ابو عبيد رضي الله عنه هغه ښځو ته وويل چې د مسلمانانو سره جهاد ته تللې وې او د صف شاته ناستې وې، اې د مسلمانانو ښځو! که کوم مسلمان له جنګ څخه راوتښتي تاسې يې په ډبرو وولئ، په لرګيو يې ووهئ او سر يې ورمات کړئ، مونږ وايو دا خو يوازې له جنګ څخه د شاته تښتېدلو لپاره په هغه وخت کښې داسې سزا ورکول کېده، نن چې هېڅ د جهاد او مېړانې ډګر ته نه ځي او نه هم د يو ځوان په حيث احساس لري، نو داسې کسان بيا د څنګه سزا وړ دي او څنګه سزا بايد

ورکړل شي؟ زه خو وایم چې ښځې باید ورځخه جلا شي او پېغور ورکړي چې تاسې ولې دومره احساس نه لرئ چې خویندې مو له کفارو سره په زندانونو کښې دي، هر ورځ کفار حملې دربانډې کوي، ځمکې یې ټولې درځخه نیولې دي تاسې ولې نن دومره غیرت نه کوئ چې یو څه ورته ووایئ، جهاد ورسره وکړئ او خپلې خویندې مو له بې عزتی او ظلم څخه خلاصې کړئ؟

## ښه اخلاق نبوي سنت او د اسلام تقاضا ده

زمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوازې لیدلو به کفار له خپل پلارني دین څخه لاس په سر شول او د اسلام دین ته به یې غاړه کېښوده؛ دا ځکه چې اخلاق او رویه له خلکو سره په اعلی درجه کښې وو؛ نو مونږ ته په کار ده چې له خلکو سره چلند او رویه په نبوي سنتو کښې راونغاړو، ترڅو خلک د اسلام خوند ووینې او کفار هم ورته غاړه کېږدي.

مونږ باید اسلام په عمل کښې راولیو صرف په خوله یې باید دعوه ونه کړو چې مونږ مسلمانان یو، اسلام د امن، عزت، خوشحالی او نېکبختی دین دی چې د یو شخص دنیا او آخرت دواړه له خوښی او عزت څخه ډکوي.

## مونږ پر خپل دین عزتمند یو

که مونږ له دین سره خیانت وکړو، ساتنه یې ونکړو، د نشرولو او تطبیق کولو لپاره یې پوره هڅې او کوښښونه ونه کړو، نو هېڅ کله به کامیاب او عزتمند نشو؛ ځکه چې الله تعالی د همدې دین په خاطر عزتمن کړي یو، که مونږ چېرې بیا هم دې دین ته شا کړو، نو هېڅ کله به خپل هدف ته ونه رسیږو او نه به هم عزت ترلاسه کړو.

## د اُمت جهادي ځوانان د پیغمبرانو په پلونو

اې د اُمت غیرتي او جهادي ځوانانو! ستاسو دا تکلیفون او ستونزې تېرول به د اُمت حالت بدلوي او اُمت به یو ځل بیا د برم ساه اخلي، د اسلامي اُمت لپاره د سختۍ لاره یوازې مېړني خلک خپلوي، اُمت دې هېڅکله الله تعالی له داسې رجالو څخه نه خالي کوي چې هرې سختۍ ته د غیرت او استقامت اوږه ورکوي او ځان د قربانۍ لپاره وقف کوي، دا د ابراهیم علیه السلام د لارې لارویان دي چې د خپل دین او دعوت لپاره په سرو اورونو کښې خپل ځان ته د نیک او غوره عاقبت غوښتنه کوي، دا د موسی علیه السلام په فکر روزل شوي چې له فرعوني او کفري نظریې سره سخته دښمني لري او په مقابل کښې یې همداسې مقابله روانه کړې ده؛ دا د رسول الله صلی الله

علیه وسلم امتیان دي چې د هغه په شان خپل ژوند د جـهاد او کفارو سره د مبارزې لپاره وقف کوي او تل د جـهاد په ګردونو خړ دي.

## سرحدونه او پولې د مسلمانانو اتحاد له منځه وړي

اسلام د سرحدونو او پولو په نامه هېڅ هم نه پېژني او دا د انګرېزانو له خوا رامنځ ته شوې چې د یو مسلمان په صفت یې منل نه دي په کار؛ اسلام ټول مسلمانان د عقیدې او ایمان په تار ترلي چې په اساس یې یو پر بل همکاري لازمه ده، هغه که د هر ملک او قوم څخه وي. دا پولې، سرحدات او مسلمانان د دولتونو په اساس سره جلا کول، دا تقسیم صرف د مسلمانانو لپاره دی، کفار هېڅکله په خپل منځ کښې د سرحد خبره نه کوي، ځکه دوی چې په افغانستان حمله کوله د ۵۲ هېوادونو فوځیان سره یو ځای شوي وو، هلته بیا سرحد ولې نه وو؟ مونږ خو چې د پاکستان یا بل هېواد په خاوره کښې قدم کېږدو راته وایي چې دا سیاسي سرغړونه ده؛ افسوس دا دی چې اوس ثوک دا خبره کوي چې د مسلمانانو تر منځ سرحد نشته، خپله مسلمانان یې په مقابل کښې درېږي، اوس خپله مونږ د همدې سرحداتو لپاره مبارزه کوو، اوس مو خپله په دې سرحدي ځنځیر کښې ځانونه ترلي دي، دا پولې انګرېزانو راته جوړې کړې دي؛ خو مونږ به تر هغه د کامیابی پړاو

ته ونه رسېږو تر څو چې دا د بېلتون ځنځيرونه ونه شلوو او د اسلام په اساس عمومي اخـوّت رامنځ ته نه کړو.

## د عمر رضي الله عنه په خلافت کښې د يو مسلمان ارزښت

د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت په وخت کښې په خيبر کښې يهودو يو مسلمان شهيد کړو، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د قاتل غوښتنه ورڅخه وکړه، خو يهودو انکار وکړو، بالاخره د خيبر، وادي القرا او فدک ټؤل يهود يې پسې واخيستل او فرار يې کړل.

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د يو مسلمان په قتل سره ټول يهود پسې واخيستل، نن په نړۍ کښې هغه يهود دي هره ورځ بې شمېره مسلمانان شهيدانوي، بې عزته کوی يې او بنديانوي يې؛ د مسلمانانو په يو حاکم کښې دومره غيرت نشته چې له يهودانو څخه د دې ظلم او وحشت پوښتنه وکړي او د دې مظلومو مسلمانو پوښتنه ورڅخه وکړي چې په څه يې قتل کوئ؟

تاسې فکر وکړئ! چې مسلمانانو ته پخوانيو حاکمانو ډېر قدر ورکړی وو او که د اوسنيو حاکمانو سره يې زيات غم دی؟ فيصله لوستونکو ته پرېږدو حالاتو او تاريخ ته په کتلو دې فيصله وکړي.

## د فکري جګړې لپار باید کار وشي

فکري جګړې ته باید په هر وخت کښې د یو منظم پلان له مخې کار وشي، ځکه چې دا جګړه د یو منظم پلان له مخې د ټولنې په خلاف مسلسله روانه ده او هدف یې دا دی چې د اسلامي ټولنې حالت بدل کړي او یوه داسې ټولنه ورخخه جوړوي چې له اسلام سره هېڅ تړاؤ ونه لري، د کومو خلکو فکرونه چې له خپل دین، عقیدې، نظام، کلتور او فرهنګ څخه منحرف شي، داسې خلک بیا خپله د دښمن د اهدافو لپاره کار کوي او خپله ټولنه د دښمن په لومو کښې ورکوي.

## الله تعالی ته د قرب لنډه لاره

الله تعالی ته نیږدې کېدل او د ولایت مقام حاصلول ډېر پړوانه لري؛ خو د الله تعالی د لارې یو خوار او کمزوری مجاهد په یوه لحظه کښې د خپل رب جل جلاله لقاء ترلاسه کوي، نو تاسې فکر وکړئ چې الله تعالی د خپلې لارې مجـــاهدینو ته څومره لوړ مقام ورکړی دی؟ نو په همدې اساس هېڅکله باید د جهاد لاره راڅخه پاتې نشي، ځکه چې په دې لاره کښې د الله تعالی رضا، کامیابۍ، نعتونو او جنت ته د رسېدلو پروانه ډېر لنډ لنډ دي او ډېر ژر انسان ورته رسوي.

## د فساد خوښوونکو علماو انجام بد وي

هغه وخت ان شاء الله نېږدې دی چې د پاکستان په خاوره به اسلامي نظام حاکم وي، ټول هغه ملایان چې د حکومت په غېږ کښې پراته دي او د نظام د مشروعیت لپاره دلایل لټوي او خلکو ته دا فکر ورکوي چې د پاکستان نظام اسلامي دی او په مقابل کښې یې جهاد فساد دی، داسې به سر ټیټي او په مړو سترګو ولاړ وي لکه څنګه چې د افغانستان د حکومت ملایان سر ټیټي او مړې سترګې ولاړ وو او الله تعالی وشرمول؛ الله تعالی هغه علماء چې باطل نظامونو ته د بېغیرتی له وجې یا هم د دنیاوي خواهشاتو له وجې د جواز دلایل لټوي او په ځنګ کښې یې پراته وي، خامخا شرموي او ذلیله کوي یې.

## غیرت اساسي ماده ده

د فکر جوړونې څخه یو لوی هدف د اسلامي اُمت په ځوانانو کښې د غیرت ماده تقویه کول دي؛ کله چې غیرت موجود وي، هغه خپله دا تقاضا کوي چې اسلامي اُمت دې قوي، په عزت او پر مختللی وي؛ همدارنګه د اسلامي اُمت ټول دښمنان دې کمزوري، ذلیله او جزیه ورکوونکي وي؛ همدا د غیرت تقاضا ده چې ډېر کار باید ورته وشي. غیرت هېڅ کله د هغه کارونو تقاضا نه کوي چې د فرد او ټولنې لپاره په زیان وي.

جهاد يوازې غيرتي خلک کولای شي او د غيرت لپاره صبر او استقامت ضروري دي.

د اسلام په تاريخ کښې د جهاد ميدان ته همېشه غيرتي خلک راوتلي په صبر او استقامت سره يې د کفر هر جابر او ظالم د ځمکې په مخ وهلی او ذليل کړی دی.

## خپلو بچيانو ته د تاريخ غزوات بيا کړئ

پخوانيو مسلمانانو به خپلو بچيانو ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم غزوات بيانول، د صحابه کرامو رضي الله عنهم د ننګ او جهاد کيسې به يې ورته کولې، د هغه څخه به يې د مېړانې او غيرت درس ورکولو او د هغه په لاره د تللو توصيه به يې ورته کوله، نو ځکه په هغه وخت کښې مسلمانان کامياب او بريالي وو؛ اوس خو په مسلمانانو کښې داسې پلرونه شته چې خپله يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم نوم نه دی زده، له غزواتو څخه خو يې د اُمت زياته برخه نا خبره ده، د صحابه کرامو رضي الله عنهم ژوند يې په فکر کښې هم نه دی تېر شوی، نو ځکه خو مسلمانان نن ذليل دي، د محکوميت شپې تېروي او خپله مستقيمه لاره يې ورکه کړې. مسلمانانو ته په کار ده چې خپلو بچيانو ته د تاريخ له پاڼو د اتلانو کارنامې بيان کړي، د هغه په پلونو د تللو جرئت او قوّت ورکړي، د رسول الله صلی الله

عليه وسلم سيرت، صورت او غزوات بايد ورته بيان کړي، د تاريخ په صفحو کښې د اسلام زمريان ورو پېژني.

## د فکري جګړې اساسي موخه

د فکري جګړې اساسي موخه دا ده چې د مسلمانانو اساسي قانون (شريعت) د عمل له ميدان څخه ووزي، تحريف او تعطيل شي؛ له هغه څخه وروسته کفار بيا په داسې ټولنه کښې خپلې ريښې ټينګولای شي چې له هغه څخه مخکې د هغه ټولنې خپلې روحاني ريښې ختلې او پرې شوې وي، مسلمانان په نړۍ کښې بل هېڅ داسې پرمختګ کوم سبب نه لري، لکه خپل د عقيدې قـوّت او په الله تعالی باندې ريښتينی ايمان او يقين؛ کفار ټؤل وخت په دې هڅه کښې دي چې له دې قـوّت څخه مو هم بې برخې کړي، چې په نتيجه کښې به د مسلمانانو جماعت د تش کالبوت حيثيت غوره کړي چې د هيڅ شي قدرت به نه‌وي ورسره او کفار يې چې په هره نظريه او فکر سره جوړوي کولای شي.

## د ځوانانو فکرونه څومره منحرف شوي؟

غـرب د فـکري جګړې په سلسله کښې زمونږ د ځوانانو اذهان دومره تسخير کړي، دا خو پر ځای پرېږده چې د جـهاد، قتـال او قربانۍ لپاره يې را دعوت کړو، بلکې زمونږ علماء، ليکوالان او مبارزين په دې بوخت

دي، ترخو دا ورته ثابت کړي چې غربي فرهنګ، رسم او رواج، بې حیایی او فحاشی ته انسان دعوتوي او غربي فرهنګ زمونږ له دین او ټولنې سره په ټکر کښې دی، زمونږ مبارزین ملګري په دې بوخت دي چې خپل ځوانان مو له غربي هلاکوونکي تقلید څخه راوباسي.

## کرکیټ او که جهاد؟

دا د انسان فطرت دی چې د کوم شي په اړه ډېرې خبرې کېږي او زیات خلک یې په اړه نظرونه وړاندې کوي له هغه شي سره د انسان محبت پیدا کېږي. نن ورځ د کرکیټ موضوع په افغانستان کښې ډېره ګرمه ده، د هر مجلس او هرې رسنۍ مرکزي موضوع ګرځېدلې ده. ځوانان ټول په کرکیټ مشغول شوي او په هر مجلس کښې د کرکیټ د اتلانو په اړه بحث او خبرې کوي. په داسې حال کښې چې جهاد ته تر هر څۀ زیاته اړتیا وي او اسلامي اُمت په مظلومیت کښې وي، هره ورځ مسلمانان شهیدان او زخمیان کېږي، د کفارو له خوا بې شمېره مسلمانان بندیان او بې عزتي یې کېږي؛ بیا هم د جهاد پر ځای په ځوانانو کښې د کرکیټ موضوع ته دومره شهرت او قوّت ورکول چې په نړیواله سطحه یې ښه تشویق کوي او په داخل د هېواد کښې یې د رسنیو له لارې لوبې پوره نشر کېږي، دا کار د اسلامي او غیرتي اُمت سره جفا بولم. نن ورځ خو په کار ده چې د ځوانانو نظریه د اسلام

او کفر تر منځ په دښمنۍ سره جوړه شي؛ د ځوانانو نظریه باید له کفارو سره په سختۍ سره جوړه شي؛ د ځوانانو نظریه باید په قربانۍ او جهاد سره جوړه شي. نن هغه ورځ ده چې مونږ باید د کفارو سره په جهاد کولو خپل ځوانان وروزو.

په کرکیټ روزلي ځوانان مونږ ته هېڅ ګټه نه رسوي او هېڅ کله به د اسلامي اُمت د درد دوا نشي. مونږ د اسلام په تاریخ کښې داسې پاڼې نه لرو چې له خپلو دښمنانو سره دې مسلمانان لوبې او بازۍ کوي. مونږ ته له خپلو پخوانیو اتلانو څخه کرکیټ او فوټبال په میراث کښې نه دي راپاتې، مونږ ته له خپلو پخوانیو اتلانو څخه جهاد او له کفارو سره دښمني په میراث کښې راپاتې ده، مونږ ته توره او ډال په میراث کښې راپاتې دي، مونږ ته د شهادت درس او قربانۍ په میراث کښې راپاتې دي، مونږ ته دین او د هغه ساتل په میراث کښې راپاتې دي. مونږ باید د خپلو پخوانیو تاریخ مطالعه کړو او د خپل ځان لپاره نمونه په تاریخ کښې وپېژنو چې د هغه په لاره روان شو او د هغه په ډول کارنامې وکړو. د کرکیټ موضوع ته دومره زور او شهرت ورکول چې ځوانان د جهاد څخه غافله شي او خپله دنده کرکیټ وګڼي ګناه بولم او داسې کار بلکل د اسلام په زیان او تاوان بولم. په کار ده چې د ځوانانو په مینځ کښې مرکزي موضوع جهاد وي، اتلولي

باید په جـهاد سره وي، غیرت او کامیابي باید په جـهاد سره وي، ځوانان باید جـهاد ته تشویق شي او جـهاد  باید له هر ممبر او هرې رسنۍ څخه نشر شي. په کار خو دا وه چې اوس باید د نړیوال جـهاد  روان حالت په رسنیو خپرېدی، د نړیوالو مجاهـدینو کارنامې او مېړانې باید له رسنیو څخه خپرېدای تر څو  ځوانان همداسې کارنامو او قربانۍ ته هڅول کېدای.

دا چې جـهاد په اسلام کښې ډېره اساسي او مرکزي فریضه ده، د اسلامي اُمت د پرمختګ، کامیابۍ، عزت، لوړوالي او حفاظت راز پکښې نغښتی دی؛ اسلامي اُمت ته ژوند او بقا ورکوي؛ نو په همدې اساس الله تعالی د جـهاد د ترسره کولو لپاره مسلمانانو ته امر کړی تاسې چې جـهاد کوئ، نو د هغه لپاره مخکې ځانونه تیار کړئ، ځانونه محکم او قوي کړئ، د هغه لپار ټول اسباب تیار کړئ. اوس دا چې د اسلامي اُمت کامیابي په جـهاد سره راځي، نو په کار دا ده چې د اسلامي اُمت د سپینږیري، ځوان، ماشوم، نر او ښځې عقیده په جـهاد  او له کفر سره په دښمنۍ جوړه شي او د اسلامي اُمت هر وګړی باید په پاکه اسلامي او جهادي روحیه روزل شوی وي. د اسلامي اُمت په منځ کښې باید له کفر سره د دښمنۍ روحیه عامه شي، باید د اسلامي اُمت هر وګړی کفر او د هغه سره دښمني

وپېژني. په جهادي روحيه د ټولنې ټول خلک هغه وخت جوړېدلای شي چې په ټولنه کښې د خلکو کارونه له اعدا سره وتړل شي په خاص ډول د ځوانانو لوبې باید هېڅ کله له داسې نظريې او عقيدې څخه خالي نشي، چې په هغه کښې ځوانان جهاد او د قربانۍ میدان ته ونه هڅول شي او یا هم د جهاد د مقدسي غيرتي دندې څخه منحرف شي. مونږ باید خپلو ځوانانو ته داسې ماحول جوړ کړو، چې هم لوبې او ساعت تېري پکښې وکړي او هم اعداد او جهاد ته پکښې تیار شي.

د صحابه کرامو له جهاد سره بې اندازې مینه او محبت وو، نو دوی به که لوبې کولې هم په دې نیت او اراده سره به یې کولې چې د جهاد لپاره ورباندې تیار شي، که به د جهاد په عملي میدان کښې نه وو بیا به یې خپله مینه د غشو په ویشتلو باندې ماتوله، رسول الله صلی الله علیه وسلم به هم خپلو صحابه کرامو ته د هغه لوبو ترغیب ورکولو چې له جهاد سره به یې تړاو وو، لکه په هغه وخت کښې د غشو ویشتل د جهاد لپاره اساسي اسلحه وه، صحابه کرامو به په نبوي مسجد کښې د غشو ویشتل کول خپلې لیندې او غشي به ورسره وو. په اوس وخت کښې که څوک اسلحه مسجد ته یوسي ملا امام هم بد ورته ګوري، د کلي خلک هم ورته وايي چې مونږ ته ځان

مه ښکاره کوه، دا زموږ د ټولنې حال دی! نن خو که مسجد دی، که د مسجد مخ او دوکان یا نور مجلسونه دي، په ټولو کښې د کرکيټ او نور د دنيا په اړه مجلسونه او کیسې روانې وي. قسم په الله چې په ټولنه کښې د ویښ ضمیر، ټینګ ایمان او با احساسه خلکو شمېر دومره کم شوی چې خپل ځان ته د مجلس او غوږ نیولو کسان نشي پیدا کولای، په ټولنه کښې هیڅ ځای نه لري. ټول مجلسونه د دنیا په اساس کېږي، د آخرت خبره، د دین او جهاد خبره ډېره کمه اورېدل کېږي. صحابه کرام ټول وخت په دین کښې مشغول وو، هر کار یې د آخرت په اساس وو، له لوبو څخه نیولي بیا تر عملي میدان پورې هر څه یې د جهاد سره تړلي وو.

د کرکیټ سره مخالفت نه لرو او نه هم دا وایو چې کرکیټ ناروا دی بلکې د یوې لوبې په حیث جائز کار دی، خو بیا موږ وایو چې د اسلامي اُمت ځوانان باید په جهاد او اسلامیت کښې نړیوالې کارنامې ترسره کړي، د وخت او حالاتو سره برابر باید هغه تمرینات وکړي چې له اعداد څخه خالي نه وي او جهاد ته وربانديې تیار شي، په اوس وخت کښې له هر ځه څخه مخکې جهاد ته ډېره اړتیا ده؛ په کار نه ده چې په کرکیټ وخت ضایع شي او د ځوانانو نظریه په داسې موضوع کښې اشغال شي چې د جهاد څخه یې فکر اوړي. اوس

اسلامي اُمت په ډېر مظلوميت کښې دی؛ جهاد بايد ترسره شي او يو ځل بايد اسلام لوړ شي، ورپسې بيا بايد لوبې په افتخار او غيرت کښې وشي. مونږ چې له کرکيټ سره مخالفت کوو د دې په خاطر چې اسلامي اُمت د ځوانانو قربانيو او جهاد ته اړتيا لري او دوی ټول په کرکيټ او لوبو کښې مشغول دي. په کار خو دا ده چې د هر مسلک کسان جلا شي او هر مسلک واله کسانو ته په خپله برخه کښې نظريه او عقيده ورکړل شي؛ اوس خو زيات زيان دا دی چې زمونږ د تعليم خاوندان او د نظام نظامي سپاهيان ټول په کرکيټ کښې مصروف دي او نظريه يې د کرکيټ د لوبې په اساس جوړه شوې ده؛ يقينا چې دا ډېره کمزورې نقطه ده. زمونږ ځوانان اوس پرته له کرکيټ اخوا په نړيواله سطحه هېڅ هم نه پېژني. نړيوال سياست، اسلامي سياست، نړوالې اړيکې د اسلام په چوکاټ کې، د جهاد مسئله او جهاد ته د اسلامي اُمت اړتيا دا هغه موضوعات دي چې زمونږ ټول ځوانان يې بايد په اړه پوره معلومات ولري؛ خو اوس پرته له کرکيټ په يوه موضوع هم معلومات نه لري. جهاد د اسلامي اُمت هغه دنده ده چې هر وګړی يې بايد ترسره کړي له هغه څخه هېڅوک هم استثناء کېدای نشي هغه که تعليم واله دی او که غير تعليم واله، هغه لوی

دی او که ځوان دی، نر دی او که ښځه، نو په همدې اساس باید له هر څه څخه د جهاد روزنې ته لومړيتوب هم ورکړل شي.

لوبې او جهاد باید یو له بل سره تړلي وي، د اسلامي اُمت د ځوانانو لپاره باید داسې لوبې انتخاب شي چې په هغه سره جهاد ته تیاري کېږي او د جهاد روحیه پکښې موجوده وي. ځوانان باید داسې لوبې ترسره کړي چې په اساس یې د جهاد احساس ژوندی شي او د جنګ لپاره ورباندې پیاوړي شي، کومه لوبه چې له اعداد او جهاد څخه جلا شوه په هغه لوبه کښې بیا د ځوانانو لپاره هېڅ خیر نشته او داسې لوبې به له ځوانانو څخه د جهاد روحیه او غیرت په کامله توګه اخلي.

دا د تاریخ څخه ثابته ده چې د اسلامي اُمت ځوانان تل په هغه لوبو کښې بوخت وو چې له جهاد سره به یې تړاو وو. دا یوه ډېره مهمه موضوع ده چې زمونږ له ځوانانو څخه یې د جهاد غیرت او احساس اخیستی، کرکیټ یوازینی هغه لوبه ده چې له جهاد سره هېڅ تړاو نه لري، خو بیا هم د اسلامي اُمت د ځوانانو اکثریت برخه پکښې مصروفه ده. د اسلام دښمنان شپه او ورځ په دې کښې دي چې څنګه مسلمانان ذلیل کړي او له خپل اسلام څخه یې واړوي خو د اسلامي اُمت ځوانان ټول وخت په هغه څه کښې تېروي چې هېڅ ګټه نه لري او هیڅ د پرمختګ فکر نه لري.

په اوس وخت کښې مسلمانان دې ته مجبور شوي چې د خپلو خاورو خپلواک کولو، خپلو عزتونو ساتلو، خپلو بندیانو آزادولو، د کفارو څخه د انتقام اخیستلو او دین لوړولو لپاره جهاد وکړي، د قربانۍ او ایثار لاره ونیسي. د مسلمانانو لپاره تر هر څۀ حق اولویت جهاد لري چې باید دا دنده او مسئولیت تر سره کړي؛ دا چې جهاد مقصودي دی باید مقصودي ترسره شي، مقصودي بلنه او دعوت باید ورته وشي، مقصودي باید معرفي شي، مقصودي باید عملي کار ورباندې وشي، مقصودي باید نصاب ورته جوړ شي، مقصودي باید له رسنیو څخه عام شي او مقصودي باید د عمل جامه ورواغوستل شي؛ ځکه چې د اسلامي اُمت د برم، کامیابۍ او پرمختګ راز یوازې په جهاد کښې دی، جهاد دی چې اسلامي اُمت ته ژوند ورکوي او د اسلامي اُمت د روح حیثیت لري. ډېر د افسوس ځای دا دی چې نن ورځ کرکېټ ته دومره ارزښت ورکړل شوی چې د ځوانانو په مینځ کښې یې د جهاد حیثیت له خاورو سره سم کړی او ځوانان جهاد ته په ډیر کښته نظر ګوري. نن ورځ په ټولنه کښې هغه اشخاص د ملي اتلانو په نامه پېژندل کېږي چې د کرکېټ په لوبه کښې ډېر پرمختګونه ولري او ښه لوبه وکړي. نن ورځ دومره محبت د ټولنې خلک او ځوانان له مجاهدینو سره نه لري لکه څومره چې د کرکېټ له لوبغاړو سره کوي. امریکا د

نړۍ تر ټولو پرمختللی هېواد دی په جنګي اسلحو او اسبابو کې، خو د کرکېټ نړیوال جام ته په 2024 کال کښې داخل شو؛ افغانستان چې په جنګي اسلحو او اسبابو کښې تر ټولو پس پاتې هېواد دی چې تر اوسه هېڅ اسلحه هم نشي جوړولی خو په کرکېټ لوبه کښې نړیوال جام ته پنځلس کاله پخوا داخل شوی وو. له دې څخه معلومېږي چې افغانانو د کرکېټ لوبه مقصودي ترسره کړې ده او پرمختګ ته یې خاص پاملرنه نه ده کړې؛ خو امریکا پرمختګ کړی او مقصودي هڅې یې د پرمختګ په لور کړې دي او د کرکېټ لوبې ته یې خاص پاملرنه نه ده کړې. کوم څه ته چې ډېره پاملرنه کېږي او ډېر ارزښت ورکول کېږي په هغه کښې پرمختګ او کامیابي هم طبعي خبره ده.

هغه دښمنان چې د مسلمانانو په ځان، مال، خاوره او عزت یې معامله روانه کړې ده، هره ورځ بې شمېره مسلمانان شهیدانوي، بې عزته کوي یې، مالونه یې لوټ کوي، په اسلامي خاورو یې قبضه لګولې ده او مسلمانان هېڅ په آرامه نه پرېږدي؛ له داسې کافرانو او دښمنانو سره د کرکېټ لوبې کول، په یو میدان کښې ورسره ګرځېدل او دا لوبې یو ډول سولییز ترون بلل؛ دا بلکل خیانت او د خپلې لارې ورکول دي، داسې کار په مسلمانانو کښې د جهاد روحیه له منځه وړي، داسې کار د کفارو سره په اساسي دښمنۍ کښې چې الله تعالی

يې امر کړی دی آساني او نرمي راولي، داسې لوبې د مسلمانانو دښمني چې له کفارو سره يې بايد ولري په يو سولييز ډول تعبيروي، په همدې اساس د مسلمانانو لپاره په هېڅ وجه داسې نه ده روا چې له کفارو سره د دښمنۍ اړيکې په دوستانه اړيکو بدلې کړي. که چېرې زمونږ د ټولنې او حکومت له خوا کرکيټ او داسې نورو بې ځايه لوبو ته زيات ارزښت ورکړل شي، بيا به مسلمانان هغه ځوک اتل بولي چې له کفارو څخه لوبه وګټي، بيا به له مسلمانانو څخه خپل اصلي اتلان هېر شي، کوم چې د کفر بنياد يې نړولی وو، کوم چې د کفارو خاورې ته د جهاد په نيت داخليدل او هلته يې د اسلام رښا رسوله چې د دې اتلانو ښه مثال ټول صحابه کرام رضي الله عنهم يادولی شو، د اسلام رسولو لپاره يې بې شمېره قربانۍ ورکړې او د نړۍ زياتو برخو ته يې د اسلام رڼا په خپلو سرونو او مالونو قربانولو سره ورسوله؛ خو افسوس دا دی چې د اسلامي اُمت له ځوانانو څخه دا اتلان هېر دي او د کرکيټ هغه لوبغاړي پېژني او محبت ورسره کوي چې د دين او اسلام لپاره يې هېڅ نه دي کړي او ټول وخت په بې ګټې او بې معنی لوبو کښې آخته دي. کفارو چې کوم ظلمونه په مسلمانانو کړي د دې ظلمونو او وحشتونو انتقام بايد له کفارو څخه په جهاد سره واخيستل شي او همداسې وځورول شي څنګه يې چې مسلمانان ځورولي، خو

زمونږ د ټولنې زيات خلک دا فکر کوي چې له دوی څخه د کرکيټ لوبه وګټل شي دا لوی انتقام او غچ دی، خو داسې نه ده، له کفارو بايد همداسې وينې وبهول شي څنګه يې چې د مسلمانانو وينې بهولې دي، همداسې بايد له خپلو کورونو څخه وايستل شي څنګه يې چې مسلمانان له خپلو کورنو او ځمکو څخه ايستلي او همداسې بايد بنديان شي څنګه يې چې مسلمانان او مسلمانې ښځې بنديانې کړې دي؛ له کفارو څخه انتقام په کرکيټ او بازيو نه اخيستل کېږي، انتقام اخيستل د تورې او ټوپک په زور وي، نه د بېټ او بال په واسطه؛ انتقام اخيستل د سرونو او مالونو په قربانيو اخيستل کېږي، چې دا کار رجال غواړي، انتقام اخيستل د کرکيټيانو کار نه دی او نه يې تر سره کولای شي. نو په دې اساس ويلای شو چې کرکيټ د مسلمانانو لپاره يوه فکري دسيسه ده، ترڅو د اسلامي اُمت د ځوانانو فکر له جهاد څخه په بې ګټو لوبو سره واړوي چې نه جهاد په کښې شته او نه هم اعداد په کښې شته. کرکيټ د ځوانانو فکر د هغه هېوادونو په اړه چې غير اسلامي دي، له دښمنی څخه په دوستی بدلوي، دا ځکه چې په اسلام کښې له حربي کافرانو (هغه کافرانو سره چې په يو ډول د مسلمانانو په خلاف ولاړ وي) لوبې کول هېڅ اساس نه لري، خو کله چې د ټولنې خلک داسې لوبې ووينې نو هغه بيا فکر کوي چې دومره

سخته دښمني هم نه ده ځکه چې زمونږ مسلمانان ورونه لوبې ورسره کوي؛ نو په همدې اساس ويلای شو چې له کفارو سره بايد لوبې ونشي ځکه چې داسې لوبې مو په دښمنۍ کښې اساني راولي او هر کله چې له کفارو سره په دښمنۍ کښې اساني رامنځ ته شوه نو مونږ بايد پوه شو چې په ديندارۍ او غيرت کښې مو کمزوري راغلې ده، ځکه چې د اسلام او غيرت تقاضا دا ده چې له کفارو سره په دښمنۍ کښې بايد ډېره سختي وشي او آساني له کفارو سره په دښمنۍ کښې انسان د دنيا او آخرت له رسوايۍ، شرم او ناکامۍ سره مخ کوي. د صحابه کرامو رضي الله عنهم صفت الله تعالی په قرآن کريم کښې کړی (محمد الرسول الله والذين معه أشداء على الكفار رحماء بينهم) ژباړه: محمد صلی الله عليه وسلم د الله تعالی رسول دی او له هغه سره هغه ځوک ملګري دي چې په کفارو سخت دي او په خپلو منځونو کښې خواخوږي او رحم واله دي. زمونږ لپاره بايد صحابه کرام رضي الله عنهم نمونه او الګو وي، مونږ بايد د صحابه کرامو رضي الله عنهم په قدم باندې قدم کېږدو او د هغه په شان بايد له کفارو سره په دښمنۍ کښې سختي وکړو، جهاد بايد ورسره وکړو او په خپلو منځونو کښې وروړګلوي او غم شريکي وکړو، يو د بل له

غم او درد څخه باید خبر شو او یو له بل سره د خپلې وسې په اندازه مرسته وکړو.

ټول د فکر څښتنان باید لمړی ټولنه، د ټولنې طبیعت او د ټولنې خلک وپېژني؛ داسې د فکر څښتنان بیا له هغه څخه وروسته کولای شي د ټولنې درد او دوا وپېژني او په ټولنه کښې خپل تاثرات ولري.

مونږ هم د افغاني ټولنې خلک یو، په همدې ټولنه کښې رالوی شوي یو، د ټولنې خلک او طبیعت راته معلومېږي، په ټولنه کښې مثبت او منفي تاثیرات راته معلومېږي، د هغه لاملونه او اسباب راته څرګند شوي؛ نو په همدې اساس ویلای شو چې قسم په الله تعالی د ځوانانو په بې لارې کولو او غافله کولو کښې کرکټ په پوره اندازه ونډه لري، له ځوانانو څخه یې د جهاد، قربانۍ او اتلولۍ فکر اخیستی دی. ځوانان اوس په کرکیټ کښې بریالیتوب او کامیابي لویه بریا او اتلولي ګڼي، له ځوانانو څخه یې د اسلامي تاریخ اتلان او د هغه کارنامې هېرې کړې دي، په ځوانانو کښې نن ورځ د هغه اتلانو د تاریخ تاثیرات نه لیدل کېږي چې اسلام ته یې لوړوالی ورکړی او ټولې نړۍ ته یې د اسلام رڼا رسولې وه، د جهاد لاره یې په قربانیو او سختیو لمانځله.

زمونږ ځوانانو نن ورځ په عصري نړۍ پسې اقتداء کړې او په هغه پسې روان دي. عصري نړۍ له جهاد څخه کرکه لري، عصري نړۍ نن ورځ

غواړي چې له مسلمانانو څخه د جهاد او قربانۍ جذبې لرې کړي او په يوه داسې لاره کښې يې مصروف کړي چې په اساس يې د جهاد مقدسه لاره هېره شي. نن کرکيټ ځوانان داسې اندازې ته رسولي چې هر څه يې ورته پرېښوُدلي او په همدې لوبه کښې خپل قېمتي وخت ضايع کوي.

يادونه: د دې ليکنې څخه وروسته لوستونکو ته قضاوت ورکوو، چې آيا د کرکيټ سره دومره محبت او دومره ورته پاملرنه کول مناسب دي؟ آيا په نن عصر کښې جهاد ډېر تشويق ته ضرورت لري او که د کرکيټ لپاره د ځوانانو تشويق اړين دی؟ آيا نن د اُمت حالت د دې سره مناسب دی چې مونږ کرکيټ ته چکچکې ووهو او ټوله ورځ، تلوېزيون او راډيو ته ناست وو؟

## د مسجد نبوي ممبر

د مسجد نبوي له ممبر څخه يو وخت د ټول اُمت پيغمبر صلی الله عليه وسلم د حق فتوا ورکوله، د جهاد لپاره يې ټولې عربي جزيرې ته د مجاهدينو تشکيلات استول، د ټولې نړۍ کفارو ته يې د اسلام دعوت ورکولو او له هغه څخه يې غوښتنه کوله چې د اسلام په امن دين کښې د خپلو ځانونو لپاره امن ترلاسه کړي، يو وخت د مسجد نبوي څخه د قرآن، جهاد او قربانۍ تعليم ورکول کېدو، په مسجد

نبوی کښې به د جهاد لپاره اعداد او روزنه کېدله، د مسجد نبوی ممبر هغه وخت د جهاد لپاره تاند ځوانان تیارول، د مسجد نبوي له ممبر څخه به هغه وخت ټوله کفري نړی په لړزه او وېره کښې وه، د مسجد نبوي له ممبر څخه هغه وخت کفري مفکورې ماتېدې او مردودېدې ، د مسجد نبوي له ممبر څخه د اسلام احکام تشریح کېدل، د مسجد نبوي څخه تر عرش پورې د وحیې سلسله جاري وه او د الله تعالی حکمونه د نفاذ لپاره نازلېدل، د مسجد نبوي څخه یو وخت په ټوله نړی کښې د مجاهدینو لښکرې رهبري کېدې، د مسجد نبوي څخه په ټوله نړی کښې د اسلام پلوشې خپرېدې، د مسجد نبوي ممبر هغه وخت د حق ممبر وو، د جهاد ممبر وو، د اسلام، ممبر وو او په پوره معنی د مسلمانانو ممبر وو؛ افسوس چې اوس مسجد نبوي هغه دی، ممبر هغه دی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیارت اوس هم پکښې دی او مدینه هغه ده، خو مسلمانان بدل شوي، اوس هلته ځوک د حق خبره نشي کولای، اؤس هلته ځوک د جهاد او له کفارو سره د دښمنی خبره نشي کولای، اوس هلته ځوک د کفري نظریاتو مخالفت نشي کولای، اوس د مسجد نبوي ممبر اشغال دی، اوس د مسجد نبوي ممبر یتیم دی، اوس د مسجد نبوي ممبر د حق، تکبیر او جهاد په نارو پسې خفه دی، اوس د مسجد نبوي ممبر اسیر دی،

اوس د مسجد نبوي ممبر مظلوم دی، نن د مسجد نبوي څخه د اسلام لښکرې فارس، روم او هندوستان ته نه استول کېږي، نن د مسجد نبوي له ممبر څخه کفار وېره نه لري، نن د مسجد نبوي ممبر شته خو د حق داعیان نشته.

## ګرانو ځوانانو!

اې د اُمت غښتلو ځوانانو! مونږ ډېر د لوی کار لپاره پیدا شوي یو، مونږ ته الله تعالی ډېر د عزت دین راپه برخه کړئ، مونږ ته الله تعالی د خپلې بندګۍ نعمت راکړی، مونږ الله تعالی په ټولو امتونو بهترین او غوره اُمت ګرځولي یو، مونږ یې اهل حق، اهل اسلام او اهل جهاد ګرځولي یو؛ نو راځئ چې مونږ خو یو څه فکر وکړو چې د دومره بهتروالي سره مونږ د خپل رب جل جلاله لپاره څه کړي؟ مونږ د خپل دین لپاره څه کړي؟ مونږ د جنت او نعمتونو لپاره څه کړي؟ مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کوم سنت عمل کړی؟ مونږ کومه ورځ د خپل دین لپاره په ځان سختۍ تېرې کړې دي؟ مونږ څه وخت د خپل رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت او غزوات مطالعه کړي؟ تاسې خو خپله د خپل تاریخ څخه لږ لیدنه وکړئ، یو ځل خو تاسې د اسلام تاریخ ته سر ورښکاره کړئ، چې زمونږ پیشوایانو کومې کارنامې کړې دي؟ د تاریخ په صفحو یې څه راته ثبت کړي دي؟ رسول الله

صلی الله علیه وسلم ته چې کله د جهاد کولو حکم وشو، بیا د عربو کفارو په آرام خوب ورځخه ونه کړو، بیا له هغه ورځې ځخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم قدمونه او ځنې د جهاد له ګردونو ځخه پاک نه شول، له هغه ورځې ځخه بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم غاړه مبارکه له اسلحې او تورې ځخه خالي نشوه، له هغه ورځې ځخه بیا د صحابه کرامو آسونو آرام ونه کړو، له هغه ورځې ځخه بیا شرک او بت پرستي له مکې ځخه کډه وکړه؛ نن هم اې ځوانانو! په همدې تګلاره قدم کېږدئ، نن دا د نړۍ کفري سرزوري راوپرزوئ، دا ظالمه او جابره کفري نړۍ د خاورو سره خاورې کړئ، نن د مغرورو سرونو ځخه تنې پرې کړئ، نن اسلام په نړۍ کښې لوړ کړئ، مسلمانان په امن کړئ، له دښمنانو ځخه د کړو ظلمونو انتقام واخلئ؛ نن خپلې جذبې ځپاندې کړئ، خپل احساسات راوپاروئ، خپل غیرتونه قوي کړئ، خپل ضمیرونه راویښ کړئ، د غزاؤ میدانونه ګرم کړئ، د جهاد لپاره له خپلو کورونو ځخه ووزئ، د قربانۍ لاره ونیسئ، د آخرت او جنت لپاره خپل ځانونه شهیدان کړئ؛ د اسلامي تاریخ غوښتنه ده چې په هر وخت کښې باید ځوانان داسې کارنامې په خپل تاریخ کښې ثبت کړي، هېڅ کله باید ځوانان خپل تاریخ ونه شرموي.

## په ټولو برخو کښې جهاد وکړئ

جهاد یوازې دا نه دی چې له کفارو سره د اسلحې په مټ یوازې عملي جنګ وکړه، بلکې د هغه د پرمختګ مخه ونیسه، د کفري فکر سرچینې څرګندې کړه ، د کفري فکر خپروونکي اشخاص په نښه کړه او مخه یې ونیسه، د کفر په مقابل کښې د حق دین برى او کامیابي تشریح کړه او همدارنګه د کفر دنیوي او اخروي بد عواقب واضح کړه، د جهاد لپاره په ځوانانو کښې تاندې جذبې راوپاروه، د اسلامي اُمت ځوانان په دې پوه کړه چې ستاسې عزت او آزادي په جهاد سره ساتل کېږي. هیڅکله یو اسلامي ملک کفار تر هغه وخته تر خپل تسلط لاندې نشي راوستلی چې د هغه ملک مسلمانان د جهاد ګرمې جذبې په خپلو سینو کښې ولري.

## زمونږ وینې او ځان دې تر دین قربان شي

مونږ د خپلو وینو په بدل کښې د دین ساتنه کوو، زمونږ دین مونږ ته تر خپل ځان ډېر ارزښت لري، مونږ تر خپل ځان تېر یو خو د اسلام کلیمه او بیرغ دې لوړ او رپاند شي. کله چې په الله تعالی پوره توکل وشي، بیا نو د دین په خاطر انسان ته د خپلې وینې او بدن ارزښت ډېر کمېږي، خو د الله تعالی په وړاندې همداسې خلک د لوړ ارزښت خاوندان دي؛ د دین خدمت همداسې مېړني خلک کوي چې د خپل

بدن ارزښت د دین په مقابل کښې هېڅ ګڼي نو ځکه د خپل ځان په صدقه سره د اسلام ساتنه کوي.

## علماء دې خپل مسئولیت ترسره کړي

د وخت علماء دې خپل مسئولیت وپېژني، د اسلامي اُمت د مظلومیت په اړه دې خپله غاړه خلاصه کړي، حاکمان دې پوه کړي، که څه هم په دې خبره تر داره پورې ځي؛ نن د اسلامي اُمت وحدت ته اړتیا ده، د پولو او سرحداتو نړول ضروري دي، د مرستې او همکارۍ اورده رسۍ جوړه کړئ، تر څو اسلامي اُمت له مظلومیت او محکومیت څخه خلاص شي.

## بهترین او د قدر وړ جسدونه

بهترین او د قدر وړ جسدونه د شهیدانو دي، ځکه له شهیدانو سره وعده شوې ده چې د دوی جسدونه به تر او تازه وي، نه به خاورې کېږي، د شهیدانو وینې به د مښکو بوی کوي، دا د الله تعالی لوی عزت دی چې شهیدانو ته یې ورکوي، تر محشر پورې به همداسې ثابت پاتې وي.

## د فکري جګړې تاثيرات څه وخت زياتېږي؟

کله چې مسلمانان له جهاد څخه مخ واړوي نو په همدې وخت کښې د کفارو د فکري جګړې ثاتيرات هم زيات شي، چې په اسلامي ټولنه کښې په هر ډول نفوذ کوي، تر دې چې په تدريجي ډؤل يوه اسلامي ټولنه داسې اندازې ته ورسوي چې صرف يې نوم اسلامي وي، نور د اسلام هېڅ هم نه وي پکښې پاتې؛ کفارو فکري جګړه د همدې لپاره روانه کړې تر څو د مسلمانانو څخه د عملي جهاد قدرت ختم شي، کله چې په مسلمانانو کښې د عملي جهاد قدرت ختم شي، بيا نو کفار له داسې مسلمانانو څخه هېڅ وېره نه لري او کولای شي هر څه ورباندې ومني.

## افکار مهم دي

د افکارو اصلاح ډېره مهمه ده، مخکې تر دې چې مونږ ځوانان جهاد ته دعوت کړو يو ځل يې بايد افکار په اسلامي لارښونو اصلاح کړو، له کفارو سره د دښمنۍ او له مسلمانانو سره د اخـوّت او همکارۍ نظريه بايد ورکړو؛ هغه ځوانان چې افکار يې د اسلامي لارښونو په اساس جوړ شوي وي، بيا خپله د جهاد، قتال او قربانۍ ميدان ته راوځي؛ بيا به هېڅکله د کفارو او نورو د اسلام دښمنانو همکاري او

ملګرتیا ته زړه ښه نه کړي؛ همېشه به نفرت ورځخه کوي او د زوال هيله به يې لري.

## كفار خپل فکرونه زمونږ په ټولنه کښې ترويج کوي

كفار په بېلابېلو لارو سره زمونږ په ټولنه کښې په پراخه توګه کوښښ کوي، تر څو دلته خپل نظريات او فکرونه د ځوانانو ذهنونو ته ترويج کړي او په دې ډول غواړي زمونږ ځوانان د خپل اسلام، عقيدې، فرهنګ، تاريخ او مسير څخه لرې، ناخبره او بې پروا کړي؛ ترڅو دا ځوانان د كفارو په مقابل کښې خپله د دښمنۍ او جهاد روحيه له لاسه ورکړي او د كفارو د لاس آله او وسيله وګرځي.

## د نن ورځې حاكمان دې خبر وي!

هغه وخت لرې نه دی چې د فلسطين له مظلوميت څخه خبر خو غافله حاكمان به د الله تعالی په حضور کښې ټيټې سترګې ولاړ وي؛ د دې مظلومو او دردېدلو مسلمانانو په اړه به ورځخه پوښتنه کېږي، نن که دا ظلمونه د اُمت په هغه برخه کښې روان دي، سبا به يې په بله برخه کښې ګورئ، ترڅو پورې چې مسلمانان يو له بل سره همکاري ونه کړي او يو د بل په غم غمجن نشي، کامياب به نشي او نه به د الله تعالی په وړاندې خپلې غاړې خلاصې کړي.

## د قيامت په ورځ شهيد بې غمه وي

د محشر په ورځ به ټبه او بې غمه حشر د شهيدانو وي ځکه چې له دوی سره وعده شوې چې په ورځ د محشر (چې ډېره سخته ورځ ده) شهيدان به بې غمه وي، له دوی سره وروسته له شهادت څخه حساب نه کېږي، ځکه چې دوی په دنيا کښې د جنګ په ميدان کښې امتحان ته ځان ورکړی وو.

## کفار زمونږ له اسلامي فکر سره دښمني کوي

اې مسلمانانو! کفار ستاسو له اسلحې څخه وېره نه کوي او نه هم ستاسو دنيوي اسباب ورته دومره مهم دي، کفار اصلي دښمني زمونږ سره د اسلامي فکر او عقيدې په اساس کوي او بېرېږي هم زمونږ له اسلامي فکر څخه؛ چې ترڅو پورې مونږ په دې خپل دين باندې ثابت پاتې وو تر هغه به د دوی دښمني راسره روانه وي او د دوی لپاره به خطر وو، خو که خدای مکړه مونږ خپل دين ته شا کړه او اسلامي فکر مو له لاسه ورکړو، بيا نو کفار راباندې غالب کېږي او هېڅ کله به راڅخه ونه وېرېږي، ځکه چې اسلامي فکر له کفر سره دښمني لري، کله چې اسلامي فکر ختم شي هغه د کفر سره دښمني هم پای ته رسېږي او يا هم په دوستۍ سره بدلېږي، چې په دواړو کښې د کفارو لپاره ګټه ده

## مونږ به بریالي یو

زمونږ رب غالب او قوي دی، زمونږ دین حق دی، زمونږ لاره مقدسه ده، زمونږ بریا یقیني ده؛ الله تعالی به مونږ ته د خپل ایمان او اسلام په خاطر په ځمکه کښې حکومت او قدرت راکوي، الله تعالی به د نړی دا مغرور او جابر کافران یوه ورځ راته ذلیله کوي، خو که مونږ له خپل رب جل جلاله سره په خپل حق دین او ایمان سره وفا وکړو، تر څو پورې چې مونږ او ایمان سره جلا شوي نه وو تر هغه پورې مونږ په هر حالت کښې بریالي او کامیاب یو.

## شهادت یو ښه هدف دی

هغه خلک چې د الله تعالی په دین خپل ځانونه او وینې قربانی ته وړکوي، په ځمکه کښې تر ټولو خلکو د ښه هدف ټاکونکي دي، شهـادت هغه هدف دی چې ترلاسه کوؤنکي یې په ځمکه کښې کم او خاص خلک وي، داسې مرتبې هغه خلک ترلاسه کوي چې له الله تعالی سره پوره د محبت تعلق ولري او له دنیاوي خواهشاتو لاس په سر وي.

## شهادت د الله تعالی پېرزوینه ده

کوم اشخاص چې الله تعالی ته محبوب شي، د خپل دین او جـهاد لاره ورته انتخاب کړي او وروسته یې د قبـولیت لپاره د قربانی تر حده

ورسوي، الله تعالی چې په خپلو خاصو بندګانو زیاته پېرزوینه کوي د شـهادت په نازولي انعام یې نازوي، نو اې لوستونکیه! دا لوړ مقامات له الله تعالی څخه وغواړه، مونږ ته دې الله تعالی رانصیب کړي.

## دین خپرول قربانی غواړي

دین خپرول او خپل اسلام ته غلبه ورکول د سر له ماتولو څخه پرته نه کېږي، په بدن به زخمونه او قربانی قبلوې ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د احد په غـزا کښې همداسې زخمي شوی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم، ټول عمر د دین لپاره په قربانی کښې تېر کړی، که پرته له قربانیو دا کار کېدلای بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم قربانی ته څه اړتیا نه وه!

## د جهاد پایله هېڅکله بده نه وي

جـــهاد د اسلامي اُمت داسې اسلـحه ده چې پایله به یې هېڅ کله مسـلمانانو ته په تاوان تمامه نشي، دا د تاریخ ثابت سنت دي، د اسـلامي اُمت برم او ژوند له جـهاد سره تړلی دی، خو افسوس چې ډېر کم خلک یې په ارزښت او قدر پوهېږي، نن اسلامي اُمت د دې لارې لارویان ورک کړي، نن د اسلامي اُمت د دې لارې ځوانان په نورو کارونو کښې مصروف دي، نن د اسلامي اُمت د دې لارې رجال ډېر کم شوي، د اسلامي اُمت غیرتي خلک به د همدې لارې لارویان وي.

## قېمتي وينې

قېمتي وينې هغه دي چې د الله تعالی د دين په خاطر د انسان له بدن څخه وبهېږي؛ ځکه چې د لمړي ځاځکي تويېدلو سره الله تعالی انسان ته ټول ګناهونه وربښي. په کومو ځمکو کښې چې د قربانۍ وينې تويې شوې وي، هغه ځمکې به بيا د نېکمرغۍ او عزت څخه برخمنې وي، په کوم ځای کښې چې د دين لپاره قربانۍ ورکول کېږي، هلته بيا د نسلونو له غلامۍ سره کرکه او نفرتونه پيدا کېږي، هلته بيا نسلونه د قربانۍ او غيرت درس اخلي.

## عزتمند روح

عزتمند روح هغه دی چې د شهادت په واسطه له جسد څخه واخيستل شي، ارزښت او عزت يې ځکه زيات دی چې د شهيدانو روح خپله الله تعالی اخلي او له خپل جسد سره په برزخي ژوند سره ژوند ورکوي. د شهادت په واسطه روح اخيستل هېڅ تکليف نه لري، بلکې د روح ختلو سره شهيد ته داسې خوند محسوس کېږي چې له جنت څخه بيا راوتل خوښوي، ترڅو د شهادت خوند بيا ترلاسه کړي.

## د جنګ په وخت کښې د جنت تصور

د الله تعالی په لاره کښې جهاد کول هغه عمل دی چې د ترسره کولو په وخت کښې انسان ته دا اطمينان حاصلېږي چې زما عمل الله

تعالی قبول کړی او بله دا چې انسان ته د جنګ په حالت کښې د جنت کوم تصور کېږي قسم دی که بل هېڅ وخت دومره خوند لري او نه هم داسې تصور کېږي، دا یو داسې عمل دی چې په تجربه سره ثابت شوی او مونږ باید د جنت له تصور څخه د جنګ په حالت کښې خوند واخلو.

## ترک الجهاد عامه وبا ده

ترک الـجهاد هغه لوی مرض او وبا ده چې مسلمانان وربانديې اخته شي ټۆل اُمت د هلاکت په سیند لاهو کوي. مسلمانان چې په کومه زمانه کښې له جـهاد څخه غافله شوي، بیا یې عزت له لاسه ورکړی او ذلیله شوي دي، مسلمانانو ته په کار ده چې د دې عمومي مرض څخه ځان وساتي، ترڅو اُمت له تباهی څخه وساتل شي.

## مسلمانان جـهاد په مینه کوي

مسلمانان د الله تعالی په لاره کښې جـهاد ځکه په محبت او مینه سره کوي چې د الله تعالی په لاره کښې د جـهاد کولو دوې نتیجې دي؛ یا به الله تعالی مجاهد ته فتحه ورکوي او یا به یې شهید کوي چې د دې دواړو غوښتنه مؤمنان له الله تعالی څخه په پنځه وخته لمانځه کښې کوي؛ نو ځکه د الله تعالی ریښتیني بندګانو ته جـهاد د

يو تفريح او ساعت تېري ذريعه ښکاري، چې ډېر په مينه يې ترسره کوي.

## جنت په سختيو ترلاسه کېږي

د اسلام دين له سختيو سره مل دی، ځوک چې د اسلام دين ته داخلېږي بيا به په ځان سختی هم تېروي، قرباني به ورکوي، د جهاد لاره به اختياروي، د خواهشاتو او شهوتونو څخه به ځان ساتي، د کفارو له دوستی څخه به ځان ساتي، ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه کرامو په سختيو کښې ژوند کړی، نو ځوک دې دا هيله نه کوي چې همداسې هوسا به ژوند کوو او په آخرت کښې به جنت هم زمونږ وي.

## د يو مسلمان ځوان په صفت

د يو مسلمان ځوان په حيث دا خپله دنده ګڼم چې په ټوله نړی کښې له هغه دښمنانو سره وجنګېږم او سرونه يې ورمات کړم چې زما د خويندو عزت يې تر پښو لاندې کړی، مظلوم مسلمانان ځوروي او شهيدانوي؛ تر دې چې په دې لاره کښې يا شهيد شم او يا د دې ټولو وحشتونو او ظلمونو انتقام واخلم، د يو بااحساسه ځوان په صفت دا خوند نه راکوي او نه يې خپل ضمير راسره مني، چې زمونږ په دين، خاوره، مقدساتو او مسلمانانو ورونو دې کفار پسخند وهي، د هغه

عزت او اکرام دې تر پښو لاندې کوي او زه دې آرام د خواهشاتو ژوند کوم، تر داسې ژوند د خپل ځان لپاره مرګ ډېر ښه ګڼم.

## خواهشات

خواهشات، هوسايي او حسرت مسلمانان کمزوري کوي! نن ورځ د خپل ژوند محاسبه وکړئ، چې تاسې نن ورځ او که هغه په سختو شپو او ورځو کښې د الله تعالی بندګی او اسلام ته زيات وفاداره وئ؟

## قلمول دې اړين موضوعات تشريح کړي

د ټولنې په جوړښت کښې قلموال ډېر ارزښت او رول لري، قلموال دې خپل قلمونه په هغه موضوعاتو وڅرخوي چې له وخت سره جوخت ډېره اړتيا وي ورته، په کار نه ده چې داسې موضوعات تشريح شي چې هېڅ ګټه نه لري، نن ورځ د اُمت يووالي، جهاد او قربانی ته انتهايي زياته اړتيا ده که ليکوالان په دې برخه کښې غفلت وکړي او خپل مسئوليت ترسره نه کړي د الله تعالی په وړاندې به مسئول وي.

## جهادي احساس غنيمت وګڼه

د يو ځوان په صفت که نن د قربانی او جهاد لاره اختيار نه کړې بيا نو څه معلومه ده چې يو څه وخت وروسته دا همت او احساس هم له لاسه ورکړې او يو داسې شخص درڅخه جوړ شي چې هېڅ د جهاد،

اُمت او مسلمانانو احساس ونۀ لرې؟ نو همدا نن چې د جهاد او قرباني احساس لرې همدا نن اقدام وکړه، د سبا په هیله به دې د دنیا خواهشات او محبت داسې حال ته ورسوي چې جهاد به یو اضافي او بې ځایه کار درته معلومېږي، د دنیا خواته چې انسان ځومره نیږدې کېږي په هغه اندازه یې محبت هم ورسره زیاتېږي، تر دې چې یوه ورځ به د دنیا څخه جلا کېدل ورته په هېڅ صورت د زغملو وړ نه وي، نو داسې کسان به بیا څنګه د جهاد سنګر او سختیو ته ځان ورکړي؟

## ځوانان دې د نړۍ مظلومان نه هېروي

د اسلامي اُمت د با احساسه ځوانانو په صفت باید هېڅ کله د نړۍ د مسلمانانو له مظلومیت څخه غافله نه شئ؛ تاسې وګورئ محمد بن قاسم رحمه الله (چې ۱۸ کلن ځوان وو) د یوې مسلمانې ښځې فریاد یې له سند څخه واورېدو، د مرستې لپاره ئې لښکر کشي وکړه، د هغه ښځې عزت یې په ځای کړو او ټول سند یې هم ورسره فتحه کړو، مونږ ته په کار ده چې د داسې ځوانانو په قدم پسې روان شو او د داسې ځوانانو سنت راتازه کړو، مونږ په تاریخ کښې د غیرت، قربانۍ، مېړانې او شهامت لپاره ډېرې نمونې لرو، خو افسوس چې مونږ یې نه پېژنو.

## د الله تعالی رضا ترلاسه کړه

له هغه کارونو څخه هېڅ کله په شا نه شې چې، ستا څخه خپل رب جل جلاله ورباندې راضي کېږي، ځکه چې نن یې الله تعالی د ترسره کولو توفیق درکړی، نو دا توفیق غنیمت وګڼه او په مېړانه عمل وکړه، الله تعالی زموږ څخه په ټولو نېکو کارونو کولو او بدو کارونو پرېښودلو راضي کېږي، چې په هغه کښې یو مهم او خوندور عبادت د جهاد لپاره وتل او د قربانی لاره اختیارول دي، چې هېڅ کله موږ ته نه ده په کار چې کمزوري او غفلت پکښې وکړو، بلکې باید په مېړانه، استقامت او غیرت سره دا سپېڅلې لاره د ځان لپاره اختیار کړو.

## خپلې ارادې کلکې کړئ

خپلې ارادې کلکې کړئ، خپل ایمانونه قوي کړئ، خپلې عقیدې راسخې کړئ، د ژوند ډېر انقلابونه په مخ کښې درته پراته دي؛ چې د کامیابی لپاره یې پوره ایماني قـوّت ته اړتیا لیدل کېږي.

## ځوانان څنګه وروزو؟

خپل بچیان او ځوانان مو په جهادي فکر باندې وروزئ، د کفارو سره دښمني وروښیئ، ترڅو غرب ته د پیسو او غلامی لپاره نه بلکې د جهاد لپاره لاړ شي، ترڅو د غرب په دروازه له توري سره ورداخل شي، د صلیبیانو او یهودیانو وینې وبهوي، ترڅو د ظالمو کفارو په مری خپل

د ارادې قدمونه کېږدي او مظلوم مسلمانان ورڅخه خلاص کړي؛ تاسې که د خپلو بچیانو د روژنې پوره حق ترسره کوئ، نو د روژنې حق یې همدا دی چې د اسلام زمریان ورڅخه جوړ کړئ.

## استقامت مهم دی

د آخرت نعمتونو ته رسېدل له انسان څخه په دین کښې تر مرګه پورې استقامت غواړي، هېڅ کله مو په خپلو نېکو ارادو او کارونو کښې له استقامت څخه لاس په سر نشئ، ځکه که په ځینې دیني امورو کښې استقامت ونه شي همداسې په تدریجي ډول انسان دې ته اړ کېږي چې آخر د دین د ټولو امورو استقامت له لاسه ورکړي، چې همدا حالت د انسان د هلاکت ښکارندویي کوي.

## د ځوانانو قربانۍ د تاریخ سنت دي

امت د تاریخ په هر سیر کښې د ځوانانو قربانۍ غواړي؛ قربانۍ او ښربښیندنې د تاریخ په سیر کښې د ځوانانو سنت دي؛ نن ورځ که ځوانان دا سنت ترسره نه کړي نو د ځوانۍ حق به یې نه وي تر سره کړی، د ځوانانو څخه په هر وخت کښې د مېړانې او غیرت هیله کېږي.

## يوازې په نفلونو تقواء دار نه يې

يوازې په ذکرونو او نفلونو سره چې په آرام ډول يې کوې، ځان ته تقوادار او متقي لقب مه ورکوه؛ اصل تقوا دا ده چې د الله تعالی په دين او د مسلمانانو په عزت ننګ وکړې او د الله تعالی لپاره د دنيا په ژوند کښې په ځان باندې سختی تېرې کړې او د قربانی لاره ونيسې، مسلمانان د کفارو له ظلم او وحشت څخه خلاص کړې، او د ظالم څخه انتقام واخلې.

## د يو مجاهد په حيث وېره نه لرم

د خپل رب جل جلاله د لارې د يو مجاهد په حيث د قربانی او جهاد په لاره کښې د هېڅ شي او شخص پروا نه لرم، ځکه چې په دې لاره کښې هر څه مخ ته راځي زما د کاميابی د راز ښکارندويي کوي، زه چې په دې لاره کښې هر څومره کړېږم او په تکليف کېږم، نور مې هم د خپل رب جل جلاله خواته نيږدې کوي او د الله تعالی خواته نيږدې کېدل د کاميابی آخري حد دی.

## فرض عين جهاد  بايد تعطيل نشي

که چېرې په فرض عين جهاد  نه کولو کښې حکمت او مصلحت وای او د قدرت مساوي کېدل ضروري وای، الله تعالی به د مدينې منورې کمزورو صحابه کرامو ته د ټول جزيرة العرب د کفارو سره د جهاد

کولو حکم نه کولو؛ کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د جهاد حکم وشو نړی څه چې د مدینې منورې په شاوخوا کښې د کفارو قبیلې پرتې وې، خو د ایمان او اسلام زور وو چې د مکې قوي او جابرو مشرکینو ته یې ماتې ورکړه، د خیبر د یهودو یې جرړې وایستې اؤ د کفر ملا یې ماته کړه؛ که له دښمن سره د دې په خاطر جهاد ځوک نه کوي چې ګواکې دښمن قوي دی، نو که همداسې پرېښوؤدل شي دښمن خو نور هم قوي کېږي، دښمن تر مونږ ډېر د پرمختګ او زمونږ د دښمنی په هڅه کښې دی؛ نو مونږ ته هېڅ کله نه ده په کار چې په مونږ جهاد فرض عین وي او مونږ د اسبابو او قوّت انتظار کوو؛ د اُمت د مشکلاتو حل او د کفارو ماتولو یوازینی لاره جهاد دی او الله تعالی جهاد د همدې کار لپاره په اُمت فرض کړی هم دی.

## دا امکان لري؟

آیا دا امکان لري چې د اُمت یوه برخه دې د الله تعالی په دین په سرو اورونو کښې سوزي او خپل ځانونه دې د الله تعالی لپاره ټوټه ټوټه کوي او بله ډله دې له دین او اُمت څخه هېڅ خبره نه وي او د دین د ساتنې او غیرت هېڅ احساس دې نه لري، خو بیا دې هم په جنت کښې یو ځای وي او یو شان نعمتونه دې ترلاسه کوي؟ هېڅ امکان نه

لري، انساني عقل يې هم نه مني چې دوی دواړه ډلې دې يو شان عاقبت ولري.

## د دين کاروونه غيرت غواړي

دنيا او د دنيا خواهشات له انسان څخه د غيرت ماده اخلي، کوم خلک چې د دنيا سره ډېر تعلقات ساتي، کار او ژوند يې له دنيا سره وي، په تدريجي ډول به د غيرت له مادې څخه هم خلاص شي؛ کله چې انسان خپل غيرت له لاسه ورکړي بيا د دين هېڅ چاره په ښه توګه نشي ترسره کولای، ځکه چې د دين هر کار په سختۍ سره کېږي او سختۍ تېرول د غيرت بنستيزې مادې ته اړتيا لري. حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه به فرمايل: هغه سخته يخه شپه چې زه يې د دښمن په مقابل کښې په انتظار کښې تېره کړم او سهار وربانديې حمله وکړم، تر هغه شپې راته ډېره خوښه ده چې زه يې د خپلې محبوبې سره په خپل کور کښې تېره کړم.

## اې د سختيو مجاهده!

اې د سختيو سره مل مجاهده! هېڅ فکر او غم مه کوه، په دې دنيا کښې که هر څومره په سختيو او مشکلاتو کښې ژوند تېر کړې، هېڅ پروا يې مه کوه؛ الله تعالی ستا لپاره په آخرت کښې داسې نعمتونه او حسرتونه تيار کړي چې په يو ځل ليدلو سره به يې ستا د دنيا ټول

غمونه او سختی هېر شي، ستا سره خپل رب وعده کړې، ستا لپاره د جنت ټول نعمتونه او حورې دي، ته هېڅکله غم مه کوه؛ خو هېڅ کله به الله تعالی دا نعمتونه کافرانو او د هغه ملګرو ته ورنکړي.

## اې د نړۍ بې غمه مسلمانانو!

اې د نړۍ بې غمه مسلمانانو! تاسې ته دا آرام د خواهشاتو ژوند څنګه خوند درکوي؟ څنګه د دنیا له نعمتونو څخه خوند اخلئ؟

آیا د اسلامي اخوّت په اساس په نړۍ کښې په مسلمانانو د وحشتونو په اړه یو څه د اقدام او غیرت احساس درسره پیدا کېږي او که د دنیا خواهشاتو خپلې غېږې ته نیږدې کړي یاست؟ نن له مسلمانانو څخه د دنیا خواهشاتو غلامان جوړ کړي، نن مسلمانان پیسو او خواهشاتو ته ایمان غورځولی، نن مسلمانان له مرګ څخه وېره لري، نن مسلمانان له جنګ او تورې سره نابلده دي، نن مسلمانان د جهاد او قربانۍ څخه بې خبره دي، نن مسلمانان د دنیا په بنګلو، محلونو او خواهشاتو کښې نیشه دي او د اسلامي اُمت د حالت احساس په خوب کښې هم نه ورته راځي.

## نن ورځ اُمت او جهاد سره لرې شوي

نن ورځ قسم دی چې مسلمانان او جهاد ډېر سره لرې شوي؛ نن ورځ په ځوانانو کښې د جهاد او غیرت جذبه ورکه شوې؛ نن ورځ د اُمت

درد څوک درد نه ګڼي؛ نن ورځ اُمت په داسې حال کښې دی چې يوازې ډېر کم خلک يې د دين لپاره قرباني ورکوي او ډېر کم خلک د اُمت احساس لري، دا ولې نن خپل اُمت په داسې حال کښې وينو؟ نن ولې مونږ ته د دنيا ژوند خوند راکوي په داسې حال کښې چې په نړۍ د کفارو پاچاهي، قـوّت او دبدبه ده؟

## چې نن ځوانان جهـاد ونه کړي بيا نو کله؟

اې د اُمت ځوانانو! پاڅئ د مېرانې ډګر ته راووزئ، د غيرت احساس مو راويښ کړئ، د اُمت له حالاتو څخه ځان خبر کړئ، ستاسو خويندې او وروڼه نن د کفارو په قبضه کښې دي، ظلم او وحشت ورباندې کوي؛ نو اې ځوانانو! نن چې د قربانۍ لپاره ځانونه تيار نه کړئ، هېڅ کله به مو الله تعالی ونه بښي، سبا ورځ چې د الله تعالی په دربار کښې ټيټې سترګې ولاړ وئ، تر هغه دا ښه ده چې نن د خپل ځان په قېمت له خپلو خويندو او وروڼو څخه دفاع وکړئ، عزت يې په ځای کړئ، او د کفري ښکيلاک څخه يې خلاص کړئ؛ مونږ که نن د الله تعالی په لاره کښې خپل ځان قربان کړو، نو د قيامت په ورځ به ملامت او سر ټيټي نه وو ولاړ، که مسلمانان له مظلوميت څخه نشو خلاصولای دومره خو کولای شو چې دا خپل ځان ورباندې قرباني کړو.

## امت نن یو بدن نه دی

الله تعالی دې هم په مظلوم او هم په چوپ اُمت رحم وکړي! نن ورځ ډېر د درد شېبې دي چې د اُمت د یوې برخې خلک د خپلو شهیدانو د غوښو په ټولو پسې نه رسېږي او نوره اسلامي نړی په خپلو خواهشاتو کښې ارامه ژوند کوي، اُمت نن د یو بدن مثال نه لري، اُمت نن د یو دېوال مثال نه لري، مسلمانان نن ورځ په پوره معنی اخـوّت نه لري، مسلمانان نن ورځ یو د بل له درد، غم او تکلیف څخه ناخبره دي.

## د ایمان کړی مو قوي کړئ

د فولادو په څېر قوي ارادې او د توحید په عقیده ټینګ ایمانونه مو د بریا نخښه ده، چې د نړی کفارو ته په هېڅ صورت کښې د زغملو وړ نه ده او تل هڅه کوي چې د دې اساسي قـوّت څخه مو محروم کړي، خو مونږ ته په کار ده چې د خپل ایمان کړی په مستحباتو کښې محکمې کړو او د جـهاد په قـوّت له خپلو ټولو دیني امورو څخه ساتنه وکړو.

## مونږ ځانونه دین ته وقف کړي

که چیرې مونږ خپل ځان او ژوند د الله تعالی دین او جـهاد ته وقف کړو، نو هغه ورځ لرې نه ده چې الله تعالی به د جنت حورې او نور

نعمتونه مونږ ته وقف کړي، مونږ د خپل رب جل جلاله په لاره کښې دلته قربانۍ ورکوو، په آخرت کښې د جنت، نعمتونو او حورو هیله کوو، مونږ د دې دنیا په خواهشاتو، شهوتونو، ښځو او خوندونو پسې نه ګرځو؛ مونږ ته دا دنیا د آخرت په بدل کښې هېڅ ارزښت نه لري، مونږ د آخرت ژوند او نعمتونه پېژندلي، د هغه د ترلاسه کولو لپاره مو د جهاد او شهادت لاره نیولې ده؛ الله تعالی دې مونږ ته په همدې لاره استقامت راکړي، نور تر هرڅه تېر یو.

## ځوانان دې خپل مسئولیت وپېژني

امت نن دومره مظلوم شوی چې له هرې خوا څخه کفري لېوان وربانديې حملې کوي او داړي یې؛ خو د اُمت ځوانان داسې د غفلت په خوب ویده شوي چې هېڅ تصور نه شي کولای چې زما دنده او مسولیت دی چې د دې کفري لېوانو خولې ور ماتې کړم او اُمت له مظلومیت څخه خلاص کړم، نن د اُمت سترګې د ځوانانو په خوا دي، د ځوانانو څخه د نجات هیله کوي، ځوانان دې نور د غفلت له خوبه پاڅي خپل مسئولیت او هدف دې وپېژني، په غیرت سره دې عمل وکړي او کفارو ته دې د اسلام قـوّت روښانه کړي.

## د اسلامي اُمت ځوانانو څوک دي؟

د اسلامي اُمت ځوانان او اتلان هغه څوک دي چې د دښمن سرونه په منګولو کښې راوړي، د دښمن پښې ماتې کړي، د دښمن څخه سرونه پرې کړي؛ د اسلامي اُمت ځوانان او اتلان هغه څوک دي چې له کفارو څخه د انتقام جذبې او احساسات ولري؛ د جهاد په سختیو مین وي، له شهادت سره محبت ولري، د اسلامي اُمت همدا ځوانان دي، همدا هغه خلک دي چې اُمت پورته کوي، همدا هغه خلک دي چې اسلامي اُمت يې غوښتنه کوي؛ الله تعالی ته سؤال کوو چې مونږ ته هم په همدې ځوانانو کښې استقامت راکړي او همداسې ځوانان راڅخه جوړ کړي، چې کفارو ته د سر درد او مسلمانانو ته د زخم پټۍ وګرځو.

## د ځوانانو شمېرنه د جهاد په صف کښې کېږي

هغه ځوانان چې د جهاد احساس ونهٔ لري؛ په هېڅ حساب دي، داسې ځوانان د اُمت په اوږو بار دي، داسې ځوانان دې د غیرت خبره نه کوي، داسې ځوانان دې خپل ځان په نرانو نه حسابوي، ځکه چې د اسلامي اُمت د ځوانانو شمېرنه د جهاد په صف کښې کېږي، د اسلامي اُمت واقعي ځوانان د جهاد او قربانۍ لاره نيسي، تر خپلو سرونو

تېرېږي؛ کوم ځوانان چې د جـهـاد په صف کښې حاضر نه وي په ښځو حساب دي.

## خپل فکر مجاهد کړئ

مجاهد فکر به هېڅکله غلام نشي، مجاهد فکر به همیشه د قربانۍ خیالات کوي، مجاهد فکر به تل د کفارو په خلاف د مبارزې پلانونه او لارې جوړوي؛ کوم فکر چې د جـهـاد سره تعلق ولري هېڅ کله به د دنیا په خواهشاتو دوکه نشي؛ غلام فکر هېڅ کله د قربانۍ خیالات نشي کولای، غلام فکر تل د دښمنانو د ګټې لپاره خیال او تصور کوي، د غلام فکر خاوندان هېڅ کله په خپلو لاسونو او پښو کښې زولنې نشي زغملای، تر څو یې چې په فکر باندې د غلامۍ زولنې پرتې وي.

## د نفس غوښتنې د دنیا دي

زموږ نفسونه چې کوم څه له موږ څخه غواړي ټول هغه شیان دي چې آخرت ته هېڅ ګټه نه کوي، موږ هم خپل د جهل او نفسي خواهشاتو له وجې مادیاتو داسې اندازې ته رسولي یو چې دارالبقا راڅخه هېر دی او ټول فکر مو په دارلفناء کښې دی، د دنیا له مادیاتو سره مو محبت تر داسې اندازې رسېدلی چې د آخرت عظیم نعمتونه یې هم راڅخه هېر کړي.

## دښمن نور هم قوي کېږي

هېڅ کله باید داسې فکر ونه کړو او نه هم په دې پلمه له جهاد څخه پاتې شو چې ګواکې دښمن مو قوي دی؛ ځکه چې دښمن مو نور هم قوي کېږي او زمونږ څخه الله تعالی د جهاد نه کولو په واسطه نور هم ناراضه کېږي، تر دې چې یوه ورځ به بیا د جهاد عزم او احساس هم ونه لرو.

## د آخرت هیله لرو نو ځکه د قربانۍ لاره نیسو

مونږ د اخرت په هیله د دنیا له هر نعمت څخه بې پروا یو او د قربانۍ لاره نیسو؛ ځکه د الله تعالی په لاره کښې تر خپل ځان، مال، اولاد او کورنۍ تېرېدل او د مقدس جهاد لاره نیول؛ د اُمت د هغه زلمیانو کار دی چې په الله تعالی پوره یقین لري، د آخرت لپاره ډېرې هیلې لري او د دنیا ژوند ورته بې ارزښته وي.

## پوهېږې؟

پوهېږې؟! په اسلامي اُمت کښې اوس هم داسې رجال شته چې د دین او د الله تعالی د رضا لپاره خپل ځان، ژوند او مال هېڅ ارزښت نه ورته لري او دا ټول یې د الله تعالی په دین د قربانۍ لپاره تیار کړي؛ خو اې لوستونکیه! زه نه پوهېږم چې ته به هم په دې رجالو کښې

شامل وې او که نه؟ همدا نن فکر وکړه که په داسې رجالو کښې شامل نه وې نو مرګ ټاکلی وخت نه لري.

## ځوانان دې يو ځل تاريخ مطالعه کړي

ځوانان دې يو ځل د اسلامي اُمت تاريخ مطالعه کړي او ودې ګوري چې د اُمت ځوانانو څنګه کارنامې په تاريخ کښې ثبت کړې دي؟ کوم ځوانان چې له جهاد سره مينه او عملي تړاؤ ونه لري؛ هغه صرف د ځوانانو په نامه ياديږي او د ځوانانو هيڅ صفات په ځان کښې نه لري، ځوانانو خو د خپلو وينو په بدل کښې تاريخ ته د عزت، وقار او غيرت پاڼې ورزياتوي، ځوانان خو په خپلو وينو د تاريخ صفحې ليکي، ځوانان تاريخونه جوړوي او په هغه کښې داسې کارنامې ثبت کوي چې راتلونکي نسلونه د قربانۍ ميدان ته راوکاږي او د غيرت درس ورځخه واخلي.

## جهاد تر څه وخته دی؟

جهاد به هيڅکله پای ته ونه رسيږي او په اسلامي اُمت به داسې زمانه هيڅ رانشي چې جهاد پکښې نه وي، څوک چې د جهاد سره محبت لري کولای شي په هر وخت کښې جهاد وکړي، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي چې جهاد به د قيامت تر ورځې روان وي البته نن ورځ مسلمانان د مجبورۍ او لازمي جهاد کوي نن ورځ

جـهاد فرض عين دی؛ ځکه چې مسلمانان مغلوب، محکوم او مظلوم دي، کفارو له هرې خوا وربانديې يرغل کړی، ځمکې يې ورڅخه قبضه کړې دي، مالونه، عزتونه او وينې يې ورڅخه لوټ کړې دي؛ نو په داسې حال کښې مسلمانانو ته يوه ورځ هم نه ده په کار چې له جـهاد څخه پاتې شي او غفلت وکړي.

## له هغه کارونو څخه مه وېرېږه چې ثواب لري

له هغه کارونو څخه هېڅ کله مه وېرېږه او مه يې ترسره کول سخت ګڼه چې ثواب وربانديې ترلاسه کېږي او په مقابل کښې يې الله تعالی درڅخه راضي کېږي؛ ځکه چې په دنيا کښې که هره سختي وي تېرېږي خو د آخرت ژوند بيا بې پايانه دی، نو کوم کارونه چې په آخرت کښې ګټه درته کوي، بيا يې بايد هېڅ کله د ترسره کولو څخه وېره ونه لرې او نه هم ځان ورڅخه بې خبره کړې.

## يا الله تعالی کفار په قـوّت کښې دي

يا الله تعالی! په دې دنيا کښې زمونږ د کمزورۍ له وجې اوس د کفارو دبدبه او قـوّت دی، نو ته مونږ ته توفيق راکړې چې دا قـوّت يې له خاورو سره خاورې کړو او يا شهادت راکړې چې نور يې دا دبدبه او قـوّت راته د زغملو او ليدلو نه دي، خو هېڅ کله زمونږ او دوی ترمنځ

داسې حالت مه راولې چې راځخه راضي وي، مونږ دښمني نه ورسره کوو او مونږ ژوندي وو.

## جنت ترلاسه کړه!

په الله تعالی توکل وکړه، د الله تعالی رضا هدف کړه، له الله تعالی مرسته وغواړه، د الله تعالی د دين په خاطر د الله تعالی لارې جهاد ته راووزه؛ لرې نه ده چې له داسې جنت سره به دې يو ځای کړي چې تر دنيا لوی دی او نعمتونه يې سترګو نه دي ليدلي او نه هم تصور شوي دي.

## د جنت نعمتونه څنګه زمونږ حق دی؟

تاسې فکر وکړئ، د جنت حورې او نور نعمتونه د کومو اعمالو په مقابل کښې خلک د خپل ځان حق ګڼي؟ آيا الله تعالی به د جنت نعمتونه هغه اشخاصو ته ورکړي چې يوه ورځ يې هم د الله تعالی د دين په خاطر مخ نه وي سور شوی او يوه ورځ يې هم په دين ننګ نه وي کړی؟ آيا هغه څوک چې په دنيا کښې يې ټول وخت د اسلام څخه په ناخبری کښې تېر کړی وي، له مسلمانانو، اسلامي خاورو او اسلامي مقدساتو څخه يې ساتنه نه وي کړې بيا به هم حورو ته غاړه ورکوي او د ځان حق به يې ګڼي؟ تاسې خپله فيصله وکړئ، چې د جنت هغه ښايسته حورې به له داسې چا سره نکاح وکړي چې په دنيا

کنبې يې د دين لپاره هېڅ سختي په ځان نه وي تېره کړې؟ تاسې نن خپله له خپل ځان سره فکر وکړئ، د جنت حورې او نور نعمتونه د کوم عمل په مقابل کنبې د خپل ځان حق ګڼئ؟

## قرباني خو نيکبختي ده

د الله تعالی په دين قربان کېدل لويه نېکبختي ده، الله تعالی هغه ځوک په خپل دين قربان کوي چې زيات ورته محبوب وي او د آخرت لوی اجرونه يې ورته ساتلي وي؛ کوم چا سره چې د الله تعالی محبت په پوره اندازه پيدا شي، هغه بيا پرته د قربانۍ بله لاره نه نيسي، الله تعالی دې مونږ د خپلې لارې قربانۍ ته قبول کړي.

## کفار د مسلمانانو دوستان نشي کېدای

غربيان هڅه کوي تر څو له مسلمانانو سره خپله زهرجنه دښمني د دوستۍ په بڼه کنبې وپالي او په همدې اساس ورڅخه ايماني قـوّت واخلي؛ خو مسلمانان بايد هېڅ کله د خپل رب جل جلاله دا قول له فکر څخه ونه باسي چې وايي: وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ۗ

ژباړه: يهوديان او عيسويان به هيڅکله له تا څخه خوشحاله نشي، تر څو ته د هغو په لاره (دين) لاړ نشې.

## زمونږ مرګ دې د شهادت شي

مونږ په دې يقين لرو چې يوه ورځ به خامخا د ځمکې له مخ څخه د ځمکې ژړه ته په ابدي سفر ځو، نو ځکه غواړو چې د شهادت او افتخار په مرګ لاړ شو؛ نو اې وروره! که په دې يقين لرې چې يوه ورځ به خامخا مړ کېږم او په دې هم ايمان لرې چې جنت او دوزخ دواړه شته، بيا نو څه پروا کوي چې ښه په غيرت د الله تعالی په لاره کښې شهيد شې، مخکې له دې چې يو څه وخت وروسته په خپله بستره خپله د مجبورئ ساه ورکوې؟

## ګرانه لوستونکيه!

اسلامي اُمت نن په ډېر کمزوري حالت کښې دی او د اُمت د هر وګړي جلا جلا قربانۍ او کوښښ ته اړتيا لري؛ نو اې لوستونکيه! آيا ته دې قربانۍ ته تيار يې؟ که تيار وې نو اقدام به کله کوې؟ که دې اقدام کړی وي، استقامت وکړه، نو ستا لپاره به کاميابي وي.

## مسلماني په جهاد سره کېږي

نن ورځ که مسلمانان د عام جهاد اعلان ونکړي او ټؤل په يو ځای د جهاد او غزاوو ميدان ته راونه دانګي، لرې نه ده چې کفار به تر دومره اندازې آزادي ورخڅه واخلي چې د لمونځ او روژې اجازه به هم نه لري، ځکه چې د کفارو قدرت په جهاد سره له منځه ځي او که کفار قدرت

ترلاسه کړي يو مسلمان به هم په خپل اسلام ثابت پرېنږدي، مسلمانان که په دنيا کښې ژوند کوي، که مسلماني کوي او که عبادت کوي، د جهاد په مټ يې کوي، که جهاد پرېږدي بيا به د خپلې مسلمانۍ لپاره هم وخت پيدا نه کړي.

## کفار غواړي چې له جهاد څخه مؤ منعه کړي

کفارو دا درک کړې چې تر څو پورې د مسلمانانو سره د توحيد عقيده او جهادي جذبه موجوده وي، هېڅ کله به مات نشي، نو ځکه يې نن زمونږ په خلاف فکري جګړه روانه کړې ترڅو د ايمان له رڼا څخه مو په غير فزيکي شکل بې برخې کړي او د جهاد جذبه راڅخه په داسې طريقه واخلي چې مونږ به خبر هم نه وو.

## د ځوان عزم

د يو غيرتي ځوان په صفت زمونږ هر ځوان بايد دا عزم او اراده ولري چې زه به د خپل مظلوم او محکوم اُمت حالت بدلوم، له کفر سره به د دښمنۍ په آخري حد کښې مقابله کوم او د اُمت استحکام به راولم، هېڅ کله بايد ځوانان خپلې ارادې کمزورې نه کړي، هېڅ کله بايد ځوانان له جهاد او مبارزې څخه ستړي نشي.

## د وفاداره خلکو ملګرتيا وکړه

په دنيا کښې له هغه خلکو سره ملګرتيا وکړه چې هغه د الله تعالى او د هغه له دين سره وفاداره وي، ځکه چې له داسې کسانو سره ناسته ولاړه په انسان کښې غيرت او جهادي جذبه پيدا کوي. هېڅکله له داسې کسانو سره ناسته ولاړه مه کوه چې هغه د الله تعالى له دين او بندګۍ څخه بې پروا وي، ځکه چې له داسې کسانو سره ناسته ولاړه په انسان کښې بې ديني او بې غيرتي پيدا کوي.

## ځوانان د اُمت قـوّت دی

ځوانان د اُمت هغه قـوّت دی چې که د دښمن په مقابل کښې په سالمه عقيده وروزل شي او په صحيح رهبرۍ استعمال شي، هېڅکله به دښمن په اُمت برياليتوب ترلاسه نه کړي، د اُمت قـوّت په ځوانانو کښې نغښتی دی چې هېڅکله بايد ضايع نشي او نه هم ورڅخه غافله شو؛ د اسلامي اُمت د پاتې والي لوی دليل همدا دی چې ټولو ځوانانو مو د کفارو سره د دښمنۍ روحيه او تربيه نه ده اخيستې؛ که چېرې مونږ خپل ځوانان له کفارو سره په کرکه، نفرت، دښمنۍ او سختۍ سره تربيه کړو، هېڅکله به کفار په مسلمانانو غلبه ترلاسه نه کړي.

## خپل تاريخ مطالعه کړئ

مونږ د خپل تاريخ څخه په ناخبرۍ کښې خپلې د کاميابۍ لارې ورکې کړې دي، مونږ له خپل تاريخ څخه دومره ناخبره شوي يو، چې د اُمت هغه مېړني راڅخه هېر شوي د چا په قربانيو چې نن مونږ په اسلام کښې ژوند کوو؛ تاريخ زمونږ لپاره د ژوند تېرولو تګلاره ده، هېڅ کله بايد ورڅخه بې خبره پاتې نشو، مونږ بايد د خپل تاريخ په هنداره کښې وګورو او عمل وکړو.

## مسلمانان بايد جهاد د لمانځه په شان ادا کړي

که چيرته دا ټول مسلمانان د لمانځه په شان جهاد  هم خپله فريضه وګڼي او همداسې يې ترسره کړي لکه لمونځ چې ترسره کوي، هېڅ کله به اسلامي اُمت د کفارو تر تسلط لاندې رانشي، تل به کفار ذليله وي او د مسلمانانو رزق به د غنيمت حلال او تر ټولو پاک مال وي، خو مشکل دا دی چې په اسلامي اُمت کښې د جهاد  کسان ډېر کم دي، د لمانځه کوونکو په اندازه نه دي، په داسې حال کښې چې دواړه يو ډول په مسلمانانو فرض دي، که جهاد دی او که لمونځ.

## بچيان مو د دين په ارزښت پوه کړئ

مونږ بايد خپلو بچيانو ته د دين داسې تعليم ورکړو چې په ځوانۍ کښې د همدې دين لپاره هرې قربانۍ ته تيار شي، مونږ بايد خپل

اولادونه د دين په ارزښت پوه کړو چې وروسته يې بيا د دنيا په مقابل کښې په دښمن ونه پلوري، دين بايد زمونږ د بچيانو لپاره تر هرڅه زيات ارزښت ولري، دين زمونږ لپاره اصل دی، که چېرې زمونږ دين نه وي بيا نو زمونږ ژوند هېڅ ارزښت نه لري، زمونږ ژوند پرته له دين څخه بې معنی او بې هدفه دی.

## زمونږ بريا زمونږ په عقيده کښې ده

زمونږ کاميابي زمونږ په سپېڅلې اسلامي عقيده کښې ده، د اسبابو په لحاظ خو مونږ غير مسلح يو، خو د ايمان اسلحه راته د لوی رب جل جلاله مرستې ته لار پرانيزي، چې د الله تعالی له مرستې څخه وروسته د نړی هېڅ قـوّت راباندې بريالی کېدای نشي، همدا سبب دی چې مسلمانان په ټوّل تاريخ کښې په لږو اسبابو او اشخاصو په ډېرو کفارو او مسلح پوځونو کامياب شوي دي.

## د جـهاد عبادت خوند لري

په جـهاد کښې يو راز دا هم دی چې د انسان سره د عبادت خوند پيدا کېږي او هر عمل ډېر په خوند ترسره کوي، دا ځکه چې انسان هر وخت په داسې حالت کښې وي چې مرګ ورته ځان ښکاره کوي، نو د انسان توجو له دنيا څخه آخرت ته واوړي، کله چې د آخرت فکر پيدا شي، دنيايي خواهشات هېر شي، کله چې خواهشات هېر شي د انسان

په عبادت کښې خوند پیدا شي. تاسې به مجاهدین لیدلي وي د قرآن کریم ډېر زیات تلاوت کوي، دا ځکه چې د قرآن کریم په تلاوت کښې خوند پیدا شوی وي.

## قلم او توره مه پرېږدئ

مسلمانان باید قلم او اسلحه دواړه پورته کړي او د خپل نظام د پرمختګ لپاره یې باید په صحیح شکل وچلوي، مسلمانان به هېڅکله مات نشي ترڅو پورې چې دوی قلم او توره د الله تعالی په لاره کښې چلوي؛ نو په همدې خاطر د قلم په مټ غلطې مفکورې نسکورې کړئ، د ټوپک په زور مغرورې ککرئ، داسې عمل مو د پرمختګ ضمانت کوي.

## د الله تعالی لپاره د قربانۍ لاره ونیسئ

که چېرې د الله تعالی د رضا لپاره د قربانۍ او جهاد لاره ونیسو؛ الله تعالی به د هغه کارونو لاربسوونه راته وکړي او هغه لارې به راته پرانیزي چې په اساس یې د کامیابۍ تر منزله رسېدلای شو او په همدې خپله لار کښې به تر آخره د ثابت پاتې کېدلو توفیق راکړي.

## په صبر د الله تعالی مرسته ترلاسه کړئ

په ژوند کښې که له هر ځومره ستونزو او مشکلاتو سره مخ شئ، که هر ځومره مو خلک وځوري، که هر ځومره غريب او بې وسه شوئ؛ تاسې صبر وکړئ نو الله تعالی مو خامخا مرسته کوي، ځکه چې الله تعالی په دې ريښتيني قول سره وعده درسره کړې ده چې وايي: إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّـٰبِرِينَ

ژباړه: بې‌شکه الله تعالی د صبر لرونکو ملګرى دى.

## مسلمانان الله تعالی کامياب کوي

الله تعالی همېشه له خپلو بندګانو سره نصرت او همکاري کوي؛ که چېرې د مسلمانانو يوه کوچنۍ ډله د پوره ايمان، صبر او استقامت سره د دښمن په مقابل کښې ودرېږي، په دې کښې شک نشته چې په زيات او قوي دښمن به الله تعالی بريا ورنصيب کړي؛ ځکه چې الله تعالی خپلو بندګانو ته د ايمان په قـوّت فتحه ورکوي، کثرت او اسباب بيا مهم نه دي، که تاريخ وکتل شي په اکثريت جنګونو کښې د مسلمانانو تعداد او اسباب ډېر کم وو خو فتحه به د دوی په نصيب وه؛ بېله مثال يې د بدر غزا يادولای شو چې ۳۱۳ اکثريت غير مسلح صحابه کرامو د ۱۰۰۰ کسانو د مکې مشرکينو ته چې پوره مسلح او درې چنده وو ماتې ورکړه.

## نېک بندګان الله تعالی جهاد ته انتخابوي

د جهاد له خوند څخه ډک ژوند به الله تعالی هغه خلکو ته نصیب کوي چې الله تعالی ته محبوب وي، دا ځکه چې الله تعالی ته صحابه کرام محبوب وو ټولو ته يې د جهاد په سپېڅلې لاره توفيق او استقامت ورکړی وو؛ له هغه څخه وروسته الله تعالی په تاريخ کښې خپل نېک بندګان د همدې جهادي لارې څخه تر خپل ديداره پورې رسولي دي او د جنت له حورو او نعمتونو څخه يې لويې برخې ورکړې دي.

## د جهاد ارزښت پېژندل مهم دي

هغه قومونه چې د جهاد په ارزښت پوه شوي، هېڅ کله يې د غلامی زولنې پښو ته نه دي لوېدلې، هېڅ کله يې ذليل او خوار ژوند نه دی کړی، هېڅ کله يې د ټيټو سترګو ژوند نه دی کړی، چا چې د جهاد ارزښت پېژندلی بيا يې د قربانی لارې ته لبيک ويلي دي، بيا يې د دين له دښمنانو څخه خرمنې ايستلې دي، بيا يې اسلامي نظامونه ساتلي دي، بيا يې په شهادت خپلې د بقا تندې خړوبې کړې دي، بيا يې اسلام لوړ کړی دی او د عروج دنګو منارونو ته يې رسولی دی.

## ځوک چې جهادي نظريه نه لري فکري اشغال دي

هغه اشخاص له فکري جګړې څخه متاثره شوي او فکرونه يې خراب شوي چې د جهاد نظريه نه لري؛ کوم عالم چې د جهاد نظريه ونه لري، حقاني عالم نه بلل کېږي؛ کوم مشر چې د جهاد نظريه ونه لري، له کفارو سره دښمني ونه لري حقاني مشر او رهبر نه بلل کېږي؛ کوم ځوان چې د جهاد احساس او په جهاد کلکه عقيده ونه لري غيرتي ځوان او د اسلامي اُمت سپاهي نه بلل کېږي؛ هغه سپينږيري او پلرونه چې د جهاد نظريه ونه لري هېڅ کله داسې ځوک نشو ورته ويلای چې اُمت او اسلام ته ژمن وي؛ همدا هغه اشخاص دي چې له فکري جګړې څخه متاثره شوي او يا خپلو خواهشاتو د جهاد فکر ورڅخه اخيستی دی.

## مسلمانان بايد فخر ونه کړي

مسلمانان بايد تر هغه د فخر او وياړ ږغ پورته نه کړي ترڅو يې چې ټول مسلمانان ورونه او خويندې له کفري زندانونو څخه را خلاص نه کړي، اسلام لوړ نه کړي، ټولې اسلامي خاورې او مقدسات له کفارو څخه ازاد نه کړي، نن ولې مسلمانان فخر او وياړ کوي، چې ښځې او ماشومان يې له کفارو سره په زندانونو کښې پراته دي، اسلامي پاکې

خاورې يې د کفارو تر قدمونو لاندې دي، اسلامي مقدسات يې اشغال دي، په هر ځای کښې د مسلمانانو عزتونه لوټ کېږي؟

## مسلمانانو ته له خپل لاس ورپېښه ده

مسلمانانو ته هر وخت له خپله لاسه ورپېښه وي، کله چې مسلمانان د الله تعالی نافرماني وکړي او د الله تعالی په بندګۍ کښې غفلت او کمزوري پيل کړي نو الله تعالی ورڅخه خپل نصرت او همکاري واخلي، تر دې چې له ذلت، محکوميت او خوارۍ سره مخ شي.

## د قرآن کريم تعليم بچيانو ته ورکړئ

خپلو بچيانو ته د قرآن کريم تعليم ورکړئ، قرآن کريم هغه غيرتي کتاب دی چې کوم فکر وربانديې جوړ شي، هېڅ کله به بيا د غلامۍ او بزدلۍ لاره اختيار نه کړي، کفار کوښښ کوي، تر څو زمونږ له ټولنې څخه د قرآن کريم تعليم او درس لرې کړي او د خپلو فلسفو د تطبيق لپاره لاره پرانيزي.

مسلمانان په هر وخت کښې بايد له قرآن کريم څخه لارښوونې ترلاسه کړي، د ژوند په هره برخه کښې بايد د قرآن کريم په لارښوونو عمل وکړي، قرآن کريم قومونه پورته کوي او عزت ورکوي؛ قرآن کريم قومونه کښته کوي او له ذلت سره يې مخ کوي، که چېرې مونږ په خپل ژوند کښې قرآن کريم فيصله کوونکی جوړ کړو او د ژوند قانون

مو قرآن وي، هېڅ کله به د خوارۍ او ذلت سره مخ نشو؛ دا قرآن کریم وو چې د غرونو او دښتو له بې علمه او ناپوهه خلکو څخه یې د نړۍ، حاکمان او عالمان جوړ کړل، دا قرآن کریم وو چې د دښتو عربو ته یې د نړۍ حکومت ورکړو، دا قرآن کریم وو چې له عربانو څخه یې سیاستمداران جوړ کړل، قرآن کریم وو چې په نړۍ کښې یې مسلمانانو ته د عزت او قدر ژوند ورکړو.

## په دین عمل مو کامیابي ده

مونږ باید تل په خپل دین عمل وکړو، ځکه چې دین زمونږ لپاره داسې لارښوونې کړې دي چې عمل ورباندې وکړو هېڅ کله به خوار نشو او نه به له ذلت سره مخ شو، دین زمونږ لپاره د دنیا او آخرت د نېکمرغۍ او کامیابۍ ضمانت کوي، خو په هغه صورت کښې چې مونږ پوره عمل ورباندې وکړو، نن چې مسلمانان ذلیل او خوار دي یوازینۍ سبب یې همدا دی چې دوی خپل دین ته شا کړې ده او په خپل ژوند کښې یې پوره نه عملي کوي.

## په الله تعالی یقین په کار دی

د مسلمان لپاره یقین کول ډېر مهم دي، ځکه چې څومره یقین قوي کېږي په هغه اندازه د انسان د غیرت او اقدام کولو ماده قوي کېږي، مونږ ته په کار ده، چې د الله تعالی په کړو وعدو پوره یقین او باور

ولرو، هغه وعدې چې هېڅ کله به خپل مؤمنان بندګان ورڅخه محرومه نه کړي.

## د جهاد کولو بدله درک کړئ

په جهاد کښې پرته له شکه چې ډېرې ستړياوې، تکليفونه، دردونه او زخمونه وي، خو که چېرې، مسلمانان هغه بدله په صحيح ډول درک کړي، چې الله تعالی يې مجاهدينو ته ورکوي، نو سنګرونه به له مجاهدينو څخه ډک شي؛ دا نن چې مجاهدين له سنګرونو څخه کرکه لري او سنګرونه له مجاهدينو څخه تش دي اصل خبره همدا ده چې دوی د جهاد بدله نه ده درک کړې چې الله تعالی يې ورکوي.

## د الله تعالی رضا ترلاسه کړئ

په دې خو د هر چا يقين شته چې يوه ورځ خو به له دې دنيا څخه رخصت کېږو او د الله تعالی حضور ته به ورځو، نو بيا ولې په داسې حال کښې د الله تعالی حضور ته ځان حاضر نه کړو چې هغه راڅخه راضي وي؟ تر څو چې الله تعالی جنت، حورې او نور نعمتونه راته تحفه کړي؛ مونږ ته په کار ده چې له دنيا څخه په داسې حال کښې رخصتي واخلو چې الله تعالی راڅخه راضي وي، ترڅو مو وروسته کارونه راته برابر کړي او جنت ته مو ورسوي.

## مونږ باید د جنت ژوند درک کړو

مونږ که جنت په صحیح معنی درک کړو، د نعمتونو قدر یې پوره راته ځرګند شي او د دنیا خواهشات مو ورځخه سترګې پټې نه کړي؛ باور وکړئ چې یوه ورځ ژوند به هم په دنیا کښې راباندې سخت شي او د ترلاسه کولو هڅه به یې وکړو؛ زمونږ لپاره په کار دا ده چې آخرت وپېژنو، د دنیا په ترلاسه کولو او معرفت ځانونه مصروف نه کړو؛ ځکه چې دنیا خو راځخه پاتې کېږي او آخرت مو د تول عمر ځای دی.

## مسلمانان باید خپله د پرمختګ دنده وپېژني

دا نن چې د ځمکې پر مخ مسلمانانو خپل قدرت، برم او استقلال له لاسه ورکړی، سبب یې همدا دی چې دوی خپله هغه وسله شا ته غورځولې ده چې الله تعالی دې اُمت ته د کامیابی او پرمختګ لپاره ورکړې وه؛ نیکونه او پلرونه یې ورباندې قرباني شوي؛ د اسلام په تاریخ کښې که وګورو، کوم وخت چې جهاد ته ارزښت ورکړل شوی او مسلمانانو خپله وجیبه او دنده ګڼلې ده، همهغه وخت د مسلمانانو د قدرت، برم او استقلال وخت دی.

## سیاسي او اقتصادي اړیکو مو دښمني کمه کړه

په دې وروستیو کښې چې کله د هېوادونو تر منځ دا سیاسي او اقتصادي اړیکې تعریف شوې دي، د مسلمانانو یې په هغه اساسي

دښمنۍ کښې آساني او نرمي راوستلې ده چې د دوی د ایمان برخه ده؛ عمر رضي الله عنه چې د مکې د بندیانو مشرکینو په اړه فیصله کوله ویل یې چې مونږ له مشرکینو سره هیڅ محبت نه لرو، دوی باید هر یو خپل قریب قتل کړي. کله چې د کفارو سره د دوستۍ اړیکې پیل او د دښمنۍ اړیکې پای ته ورسیږي نو د مسلمانانو لپاره همدا لوی د خطر زنګ دی چې د دنیاوي او اخروي بد عاقبت سره به مخ شي.

## غیرت مهم دی

غیرت په انسان کښې هغه مرکزي ماده ده چې په اساس یې انسان ټول هغه کارونه ترسره کوي، چې نفس یې نه خوښوي، خو د همدې مادې په اساس هغه کارونو ته مجبوره شي، لکه: د جهاد کارونه نفس نه خوښوي، ځکه چې په جهاد کښې نفس له ډېرو ستونزو او مشکلاتو سره مخ کیږي، خو مسلمانان یې د غیرت په اساس ترسره کوي.

## جهاد وکړئ

جهاد وکړئ، مخکې تر دې چې کفار مو عزتونه لوټ کړي او مخکې تر دې چې له خپلو کورونو مو وباسي.

قربانۍ ورکړئ مخکې تر دې چې نور خلک مو قرباني کړي.

## د دښمن څخه د دوست هیله نه کېږي

له دښمن څخه هېڅ کله د دوست او دوستۍ هیله نشي کېدای، دښمن له مستقیمې ماتې څخه وروسته کوښښ کوي چې په غیر مستقیمه توګه خپله دښمني په بېلابېلو لارو ترسره کړي، چې ځینې وخت دښمن په دې لړ کښې د غولونکې دوستۍ تمثیل هم کوي.

## د مسلمان لپاره مرګ بې غمي ده

د مسلمان لپاره هېڅ کله نه ده په کار چې له مرګ څخه وېرېږي، ځکه چې له مرګ څخه وروسته مسلمان ته هغه نعمتونه ورکول کېږي چې الله تعالی په دنیا کښې وعده ورسره کړې ده، له مرګ څخه وروسته د مسلمان د غمونو، مشکلاتو او دردونو سلسله پای ته رسېږي او د خوشحالۍ، نعمتونو او حوسونو سلسله یې پیل کېږي؛ خالد بن ولید رضي الله عنه کسرا ته لیک واستولو ورته ویې ویل چې ایمان راوړئ، یا جزیه قبوله کړئ او که نه وي بیا نو داسې پوځ راسره دی مرګ داسې خوښوي لکه څنګه چې تاسې دنیا او د دنیا خواهشات خوښوئ؛ صحابه کرامو رضي الله عنهم د آخرت ژوند پېژندلی وو، ځکه یې له مرګ سره مینه لرله او د آخرت نعمتونو ته یې زړه ختلی وو ترڅو ځان ورته ورسوي.

## جهاد ته الله تعالی قدر ورکړی

الله تعالی جهاد ته دومره لوی قدر ورکړی چې که یو څوک یې ونه کړي او اراده یې هم ونه لري او مړ شي، نو دا شخص یو ډول د منافقت په مرګ مړ شو، څکه چې همدا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو حدیث شریف مفهوم دی.

## جهاد د څه لاره ده؟

جهاد د سپېڅلي اسلام لاره ده، د جنت او نعمتونو لاره ده، د حورو سره د نکاح کولو لاره ده، کفارو ته د عذاب ورکولو او د هغه ذلیله کولو لاره ده؛ ځوانانو ته هېڅکله نه ده په کار چې ورڅخه غافله شي، ځوانانو ته په کار ده چې په دې لاره کښې خپله مېړانه او شجاعت وښیي؛ ځوانانو ته په کار ده چې د دې لارې څخه کفارو ته سزا او عذاب ورکړي؛ ځوانان باید د همدې لارې څخه د کفارو څخه جزیې واخلي او د هغه مالونه غنیمت کړي؛ ځوانان باید په دې لاره له ځانونو څخه د استقامت او صبر غرونه جوړ کړي، ځوانان د همدې لارې لپاره دي، ترڅو وربانديې روان شي، ځوانان باید په دې لاره کښې قربانی او سختی په ځان تېرې کړي، لوږې او تندې وګالي؛ سفرونو او هجرتونو ته باید ملا وتړي؛ ترڅو د اسلامي اُمت پخوانی برم بیا راژوندی شي او د مسلمانانو رُعب یو ځل بیا په کفارو ولوري.

## عمير رضي الله عنه ۱۶ کلن شهيد شو

تاسې وګورئ! صحابه کرامو په څنګه محبت او شوق سره د جهاد دنده ترسره کوله؟ کله به چې له کوم جنګ څخه پاتې کېدل دوی به ژړل، کله به چې په کوم جنګ کښې روان وو، دوی به د شهادت او د الله تعالی د ديدار تمنا کوله، دوی به د جهاد په ميدان کښې د خپل ځان لپاره ژوند لټولو؛ حضرت عمير رضي الله عنه د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ورور وو، د بدر په ورځ په لښکر کښې پټ پټ ګرځېدو سعد رضي الله عنه ورته ووېل چې اې وروره! ولې پټ پټ ګرځې، عمير رضي الله عنه ورته وويل چې که رسول الله صلی الله عليه وسلم مې ووينې له تللو څخه به مې منعه کړي او راته وبه وايي چې ته کشر يې، په داسې حال کښې چې زه جنګ ته تلل خوښم او اميد دی چې شهادت مې نصيب شي؛ کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وليدو ورته ويې ويل چې ته کوچنی يې واپس کورته لاړ شه، دی په ژړا شو، رسول الله صلی الله عليه وسلم چې د ده مينه وليده د تللو اجازه يې ورکړه او په داسې حال کښې جهاد ته روان وو چې توره يې په ځمکه لګېده ځکه هغه کوچنی وو، وروسته سعد رضي الله عنه د هغه د توري پټې ته غوټه واچوله؛ بيا په همدې جنګ کښې شهيد هم شو چې په دې وخت کښې يې عمر ۱۶ کاله وو؛ دا محبت او شوق وو د جهاد سره د هغه وخت د ماشومانو او

ځوانانو، صحابه کرام زمونږ لپاره د تاریخ ستوري دي، مونږ باید د صحابه کرامو په پلونو روان شو، مونږ باید د صحابه کرامو له ژوند او کارنامو څخه عبرت واخلو، مونږ نن هم باید د جهاد او قربانۍ سره همداسې مینه ولرو، نن هم مونږ باید جهاد ته ځانونه وقف کړو، نن هم مونږ باید د جهاد لپاره په هره طریقه چې وي ووزو.

## د کشرانو صحابه کرامو له جهاد سره مینه

د صحابه کرامو رضي الله عنهم له جهاد سره دومره محبت وو چې په کشرواليِ کښې به یې کوښښ کولو ترڅو په یوه طریقه په جنګ کښې شریک شي او څوک یې منعه نه کړي؛ د احد په غزا کښې چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم وکتل زیات کشران مجاهدین موجود وو هغه یې له تللو څخه منعه کړل، خو حضرت رافع بن خدیج رضي الله عنه چې کشر صحابي وو پښې یې له ځمکې څخه لوړې کړې وې او غاړه یې هم اوږده کړې وه ترڅو لوړ معلوم شي او له جنګ څخه یې ونه ګرځوي؛ نو په همدې خاطر په لښکر کښې پاتې شو او جنګ ته لاړو. کوم صحابه کرام به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له جنګ څخه وګرځول چې تاسې کشران یاست دوی به ژړل او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به یې سپارښت کولو، د نورو صحابه کرامو په واسطه به یې له رسول الله صلی الله علیه

وسلم  ځخه غوښتنه کوله ترڅو یې جـهاد ته بوزي؛ د جـهاد او شهادت سره چې د چا ریښتینې مینه وي، د الله تعالی دیدار ته یې زړه بې صبره وي، په جنت او حورو مین وي، هغه بیا په هره طریقه چې وي د جـهاد  میدان ته ځان رسوي او د جـهاد  له لښکر سره یو ځای کېږي؛ دا د صحابه کرامو رضي الله عنهم محبت او مینه وه، غوښتل یې چې له جـهاد ځخه پاتې نشي او په کم عمر کښې له مجاهدینو سره یو ځای جـهاد  ته لاړ شي؛ زمونږ ځوانان خو اوس له جـهاد ځخه ویره لري، د دښمن سره مخ کېدل وربانديې لړزه راولي؛ د جهاد، شهادت، قربانی، جنت، حورو او نعمتونو سره هېڅ محبت نه لري، نه یې د ترلاسه کولو هڅه کوي، نه یې د ترلاسه کولو لاره پېژني او نه یې د ترلاسه کولو غیرت او همت لري.

## مرګ په جـهاد  کښې نه دی

هېڅکله باید دا تصور څوک ونه کړي چې په جـهاد کښې مرګ دی او د دښمن له خوا وژل دي، د انسان لپاره الله تعالی مرګ ټاکلی، په خپل وخت او ځای کښې به راځي.

حضرت خالد بن ولید رضي الله عنه ټول عمر په جـهاد کښې تېر کړو، داسې جنګونه یې وکړل، چې د کفارو پاچاهی یې ولړزولې، ټوله کفري نړی ورڅخه په ویره او ډار کښې وه، د مجاهدینو د رهبری لپاره

د يو قوماندان ټؤل صفات پکښې موجود وو، په زياتو جنګونو کښې شريک شوی وو، خو بيا هم الله تعالی د ده مرګ په خپل بستر سره ليکلی وو، کله چې وفات کېدو دا خبره يې وکړه: افسوس چې په بدن کښې داسې ځای خالي نه لرم چې په هغه ځای زخمي شوی نه وم خو نن په خپله بيستره کښې په خپل مرګ له دنيا څخه رخصت اخلم؛ دلته دا خبره واضح کېږي که چېرې په جهاد کښې مرګ وای بيا خو بايد خالد بن وليد رضي الله عنه نه وای پاتې شوی، ځکه چې هغه ټؤل عمر په جهاد او سنګرونو کښې د يو غيرتي، شجاع او قوي مجاهد په حيث تېر کړی وو؛ بل دا خبره هم ښکاره شوه چې خالد بن وليد رضي الله عنه له شهادت سره زياته مينه لرله، د مرګ په وخت کښې يې د شهادت زيات ارمان وکړو. د دې په خاطر چې په جهاد کښې به زه شهيد شم، جهاد ته نه تلل او له دښمن څخه وېره کول، ډېره لويه ناپوهي ده ځکه چې مرګ په خپل وخت راځي، الله تعالی فرمايي: وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ كِتَابًا مُّؤَجَّلًا ۗ [سُورَةُ آل عِمرَان: 145]

ژباړه: هېڅ ساکښ د الله د حُکم څخه پرته مړ کېدای نشي، د مرګ نېټه ليکل شوېده.

که چېرې مونږ په سنګر کښې وو، د جهاد په تشکيل کښې وو، د قربانۍ لپاره راوتلي وو، بيا خو چې الله تعالی شهادت راکړي دا ډېر لوی نعمت او پېرزوينه ده چې په مونږ يې کوي، مونږ خو بايد هېڅکله دا د ځان لپاره بد ونه ګڼو او نه هم سخت راته معلوم شي، که چېرې مونږ ته د شهيد منزلت په دنيا کښې ښکاره شي، دا قسم کوم چې يو ساعت وخت به هم په ډېره سختۍ سره راباندې تېر شي؛ د يو صحابي سره څو دانې خورماوې وې، رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته ووېل چې له شهادت څخه وروسته جنت او د هغه نعمتونه ستا دي، نو د ده سره دا فکر پيدا شو چې دا خورماوې خورم دا خو ډېر وخت اخلي، هغه خورماوې يې وغورځولې او د کفارو په پوځ يې حمله وکړه، تر دې چې شهيد شو؛ نو په همدې اساس څوک چې د آخرت نعمتونه، حورې او باغونه په يقيني ډول وپېژني، هغه ته بيا په دنيا کښې ژوند ډېر سخت وي، همېشه د آخرت او د هغه نعمتونو په فکر کښې وي.

## حق وايه چې په هر قيمت وي

په مونږ باندې لازمه ده چې په هر ځای کښې د حق خبره وکړو، هغه خبره چې په نه کولو سره يې دين ته تاوان رسېږي هېڅکله يې مه پټوئ، خپل ځان په دين قربان کړئ، خو دين د خواهشاتو، وېرې،

خپلوی، منصب او قدرت په خاطر مه قرباني کوئ، خپل ځان بندي کړئ، خو دين په حقيقي معنی بيان کړئ، هېڅکله د يو مشر په مخ کښې د حق له خبرې څخه مخ مه اړوئ، مشرانو او قوماندانانو ته د چاپلوسی او غوړمالی وزرې مه غوړئ، ځکه چې رزق الله تعالی درکوي، عزت ربّ العالمين درکوي، مرګ او ژوند دې د الله تعالی په لاس کښې دي، ښه په نره او غيرت سره د هرچا د اصلاح کوښښ کوئ، هغه که امير وي، که وزير وي، که رئيس وي، که قوماندان وي، که دوست وي، که ملګرى وي او که عادي شخص وي؛ ټؤل خلک د حق په مقابل کښې يو شان ګڼه، د هېچا خاطر د حق په مقابل کښې نشته، که چېرې د مسئولينو په بدو کړنو سترګې پټې شي او د اصلاح کوښښ يې ونه شي، لرې نه ده چې همدا مسئولين به په داسې کارونو لاس پورې کړي چې د يو نظام تباهی ته به لمن وهي، اميرالمؤمنين حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته يو عادي صحابي دا خبره کوي چې ستا کالي ولې دومره غټ دي او زمونږ کوچني دي دا خو له بيت المال څخه جوړ شوي، بايد چې د ټولو يو شان وای، هغه صحابي رضي الله عنه له دې څخه نه وېرېږي چې ما به بندي کړي، ما به تعذيب کړي، له ما څخه به منصب واخلي او يا به حضرت عمر فاروق رضي الله راڅخه خوابدی شي، خپله خبره ښه په مېړانه

کوي؛ حضرت عمر فاروق رضي الله عنه یې خپل زوی ته ووېل چې دا زما کالي ولې غټ دي؟ زوی یې ورته ووېل چې ما د خپلې برخې کالي هم تاته درکړي، ځکه ستا کالي غټ دي؛ نو هغه مسئله حل شوه.

نن ورځ ډېر غټ مشکل دا دی چې د یو قوماندان یا یو مسئول په مخ کښې حق څوک نشي ویلای، په ځای د دې چې حق ورته ووایي نوره چاپلوسي او بوټ پاکي هم ورته کوي ترڅو یو څه شی ورڅخه لاسته راوړي، له منصب او چوکۍ څخه یې لرې نه کړي، زه وایم چې په داسې ذلیل منصب کښېناستل ستا ضمیر څنګه برداشت کوي؟ څنګه خپل احساس اجازه درکوي چې حق نشې ویلای او د منصب ساتلو ته هر ډول بې‌غیرتي منلی شې؟

د عباسي خلیفه (منصور) په وخت کې د حضرت حسن رضي الله عنه لمسي د عباسیانو په خلاف قیام وکړو ویل یې چې خلافت حق د علویانو دی، د امام صاحب څخه پوښتنه وشوه چې خلافت حق د علویانو دی که د عباسیانو؟ نو امام صاحب ورته ووېل چې خلافت حق د علویانو دی، ځکه چې له حضرت حسن رضي الله عنه سره وعده شوې وه چې د حضرت معاویه رضي الله عنه څخه وروسته به خلیفه کېږي، کله چې عباسیان پوه شول چې حضرت امام ابو حنیفه رحمه

الله دا فتوا ورکوي چې خلافت حق د علويانو دی، نو په همدې اساس عباسيانو د امام صاحب لپاره قضا وړاندې کړه، چې يا به قضا قبوله کړي او يا به مو پلمه ورته جوړه شي بندي به يې کړو، چې اطاعت نه کوي، نو امام صاحب ته يې ووېل چې راشه د قضاوت مسئوليت په غاړه واخله، امام صاحب انکار وکړو او قضاوت يې قبول نه کړو، وروسته يې امام صاحب ونيولو او بندي يې کړو، په زندان کښې له ډېر تعذيب څخه وروسته هلته وفات شو، خو له خپلې خبرې او دريځ څخه تېر نشو، هغه قضاوت يې قبول نه کړو چې د علويانو د خلافت حق عباسيانو ته پکښې ورکول کېدو، مونږ هم د همدې غيرتي امام مقلدين يو، هېڅکله بايد په داسی منصب د ځان لپاره استقرار خير ونه ګڼو چې په هغه کښې د خلکو حقوق نه ورکول کېږي او يا عدالت نه وي موجود، خپل ځان مرګ ته ورکړئ، خو حق مه پټوئ، حق روښانه کړئ، که څه هم ستاسو له بدن څخه ورباندې وينې وبهېږي، که څه هم تاسې ورباندې قربان شئ، که څه هم تاسې زندان ته ورباندې لاړ شئ، خو هېڅ ځای حق کمزوری مه راولئ؛ ځکه چې حق زمونږ ترځان او هرڅه ډېر ارزښت لري، که مونږ وو خو حق نه وي راسره، زمونږ موجودوالی هېڅ ارزښت نه لري، مونږ که درانه يو خو په حق يو، مونږ که عزتمند يو حق دا عزت راکړی، مونږ که کامياب يو خو حق راته لاره

پرانيستې، مونږ که الله تعالی راضي کوو په حق سره به يې راضي کوو، مونږ که د رسول الله صلی الله عليه وسلم امتيان ځانونه بولو خو په حق سره به يې بولو، مونږ که په پل صراط تېرېږو خو د حق په واسطه به تېرېږو، مونږ که له جهنم څخه خلاصېږو خو په حق سره به خلاصېږو، مونږ که جنت ته داخلېږو خو په حق سره به داخلېږو. مونږ بايد په دنيا کښې د حق په اصولو ژوند وکړو او د حق لارويان شو په آخرت کښې به د همدې حق په واسطه له دوزخ څخه نجات او جنت ترلاسه کړو.

حضرت امام احمد رحمه الله په مسئله د (خلق القرآن) کښې بندي شو د وخت حاکم او قاضي چې معتزليان شوي وو وېل يې چې قرآن (کلام الله) مخلوق دی، حضرت امام احمد بن حنبل صاحب رحمه الله مسئله ورکړې وه چې قرآن (کلام الله) د الله تعالی کلام دی مخلوق نه دی، په همدې مسئلې سره يې بندي کړو زيات بحثونه يې ورسره وکړل حاکم ورته ويل چې ته ووايه قرآن مخلوق دی، امام صاحب انکار کولو او وېل يې چې قرآن کلام الله دی، وروسته يې په زندان کښې ډېر سخت تعذيب کړو، په کوټي کښې يې واچولو، د کوټي په غاړه به يې شاګردان ورته ناست وو امام صاحب رحمه الله به درس ورکولو، د حق دين يې له کوټي (څاه) څخه خلکو ته رسولو، بيا د وخت حاکم

زر کوړې ووهلو، خو دا خبره یې ونه کړه چې قرآن خلق الله دی، شاګردانو به یې ورته ویل چې تقیه وکړه مړ یې کړې! امام صاحب ورته وویل چې (جاهل خو نه پوهېږي عالم هم چې تقیه وکړي نو د حق خبره به څوک کوي؟) وروسته له امام صاحب څخه پوښتنه وشوه چې تا دومره صبر او استقامت څنګه وکړو چې ته زر کوړې ووهل شوې خو بیا هم تر حق تېر نشوې؟ امام صاحب ورته ووېل چې ما صبر له یو غله څخه زده کړو، هغه په زندان کښې راته وویل چې زه په غلا باندې نیول شوی یم او زیاتې کوړې وهل شوی یم، تراوسه مې اقرار نه دی کړی، نو ته خو د الله تعالی په قرآن بندي شوی یې ګوره چې کمزوري ونه کړې، ته خو د الله تعالی د قرآن په ننګ بندي شوی یې ګوره چې ترخپله خبره تېر نشې، حضرت امام صاحب وایي چې همدې د غله خبرې دومره استقامت راکړو چې زر کوړې وزغمم خو ترحق خبره تېر نشم، دلته د امام صاحب لپاره رخصت هم وو د خپل ځان د خلاصولو لپاره یې کولای شوی چې هغه خبره وکړي، خو امام صاحب په رخصت عمل ونه کړو، د عظیمت لاره یې غوره کړه، د قربانی او ایثار لاره یې غوره کړه.

زمونږ لپاره په کار ده چې هېڅکله د حق لاره پرېنږدو، په حق دې ټوټې ټوټې شو خو چې الله تعالی راڅخه راضي وي، حق دې لوړ وي که څه

هم زمونږ د هډونو او غوښو په قيمت وي، د حق ډېوه دې روښانه وي که څه هم زمونږ په وينو باندې وي، حق به بيانوو که څه هم مونږ زندان ته لاړ شو او په زولنو کښې وتړل شو.

د نن ورځې ډېرو علماو له حق څخه مخ اړولی، په حق يې سترګې پټې کړې دي، د پاکستان په لکهاوو علماء چې نن د انګرېزي نظام په غېږ کښې پراته دي، نن د دې کفري او جمهوري نظام لپاره د دين په رڼا کښې دلايل لټوي، نن خپل ژوند د دې کفري نظام په سيوره کښې کوي، ولې د حضرت امام صاحب له ژوند څخه عبرت نه اخلي؟ ولې نن په خپل علم عمل نه کوي، ولې يې نن دا د خواهشاتو دنيا خوښه کړې ده؟ ولې نن د امام أبو حنيفه رحمه الله په شان زندان ته نه دي تيار؟ ولې نن د امام احمد رحمه الله په شان قربانۍ ته نه تيارېږي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته أبو جهل پشنهاد وکړو چې صرف زمونږ بوتانو ته بد مه وايه، چې هرڅه غواړې مونږ به يې درکړو، رسول الله صلى الله عليه وسلم ووېل چې که چېرې لمر په ښي لاس کښې راکړي او سپوږمۍ په چپ لاس کښې راکړي، ترڅو زه له دې کار څخه تېر شم، هېڅ کله به تر دې خبره تېر نشم، ترڅو دا دعوت ترسره کړم او يا په دې لاره کښې مړ (شهيد) شم. رسول الله صلى الله عليه وسلم ته مشرکينو پاچاهي هم ورکوله، د عربو ښايسته نجونې يې

هم ورکولې چې نکاح ورسره وکړي، د دعوت اجازه یې هم ورکړې وه، سره زر او پیسې یې هم ورکولې، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره ونه منله، ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم هدف د شرک ختمول، د توحید بیانول او هغه ته دعوت وو؛ نن هم د علماؤ همدا دنده او میراث دی، علماء باید د شرک او جمهوري نظام باطل والی بیان کړي، علماء دې نن د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه روان شي، باطل ته دې د حق جامه نه ورکوي، دا د علماؤ دنده ده چې باطل رد کړي او حق روښانه کړي، د باطل رد د توحید په کلیمه کښې مقدم شوی دی (لااله) د عبادت وړ څوک نشته، د نظام قانون جوړوونکی څوک نشته، شارع نشته (الاالله) مګر الله تعالی د عبادت وړ دی، قانون الله تعالی جوړوي او حقیقي شارع الله تعالی دی؛ څوک که د توحید په دې یوه برخه عمل کوي او په دې بله برخه عمل نه کوي هغه ته مؤمن نشي ویلای.

حضرت بلال رضي الله عنه چې کله ایمان راوړو، خپل مالک یې ورباندې خبر شو، ډېر سخت یې ووهلو، ترڅو له خپل اسلام څخه تېر شي، خو بلال رضي الله عنه په خپل ایمان کلک وو، تر دې چې په ګرمو شګو یې واچولو د بدن غوښې یې په سکروټو باندې ویلې کېدې خو له خپل راوړي ایمان څخه یې انکار ونه کړو، تر ډېره وخته په همدې

تعذيب کښېٻ پروت وو، تر دې چې ابوبکر صديق رضي الله عنه آزاد کړو او له هغه تعذيب څخه يې خلاص کړو؛ خو مونږ حيران يو چې بلال رضي الله عنه په سرو اورونو او سکروټو پروت وو تر دين تېر نشو، نن ورځ مسلمانان ولې په خپل اختيار له دين څخه وزي او د کفر لاره اختياروي؟ نن ورځ مسلمانانو ته ولې ايمان دومره ارزښت نه لري چې د پيسو په خاطر يا دنياوي خواهشاتو په خاطر ورڅخه تېرېږي؟ نن ولې ايمانونه دومره کمزوري شوي چې د باطل په لمن کښې ژوند تېرول اختياروي؟ نن ولې ايمانونه دومره نه دي قوي چې د قربانۍ او ايثار لاره اختيار کړي؟ نن ورځ ايمانونه ولې دومره کمزوري شوي چې حق روښانه او بيان کړي؟ نن ورځ ايمانونه ولې دومره کمزوري شول چې د باطل په غېږه کښې د ژوند اجازه ورکوي؟

دين ډېر ارزښت لري، د دين لپاره به تر ژوند هم تېرېږې، د دين لپاره به تر منصب او چوکۍ هم تېرېږې، د دين لپاره به تر دنيا او دولت هم تېرېږې، د دين لپاره به تر ښځه او اولاد هم تېرېږې، د دين لپاره به د قربانۍ لاره هم نيسې، د دين لپاره به شهادت هم قبلوې، د دين لپاره به زندان او کړۍ هم قبلوې، د دين لپاره به په دنيا کښې هرڅه قبلوې، خو هېڅکله به تر دين نه تېرېږې، د دين تر يو کوچني کار به هم قدم نه اړوې؛ ځکه چې همدا دين ستا ابدي ژوند نيکمرغه کوي، همدا دين

به دې له جهنم څخه خلاصوي، همدا دین به دې جنت ته رسوي، همدا دین به دې د جنت له نعمتونو سره یو ځای کوي، همدا دین به دې د الله تعالی رضا ته رسوي، نو د دین په خاطر باید د هېڅ شي او شخص خاطر ونشي.

## غیرت څنګه وي؟

دا غیرت نه دی چې مسلمانان درڅخه په ویره کې وي او له مسلمانانو څخه حقوق وخورې، په خپل کور کې چې سترګې برګې برګې کوې دې ته غیرت نه وایي؛ بلکې غیرت دا دی چې کفار درڅخه په وېره کې وي، د کفارو سرونه ورمات کړې، له کفارو څخه انتقام واخلې، له کفارو څخه اسلامي خاورې آزادې کړې، مسلمانان ورونه او خویندې د کفارو له ظلمونو او زندانونو څخه راخلاص کړې؛ دا بیا غیرت دی، همدا کار د ځوانانو او رجالو دی همدې ته غیرت وایي.

## د کفارو د ذلت ورځې لرې نه دي

مسلمانان دې هېڅکله نه مایوسه کېږي، نن که د کفارو دبدبه، قوّت او پاچاهي ده؛ هغه ورځې لرې نه دي چې مسلمانان به یو ځل بیا پخوانی برم راتازه کړي او کفار به له لوی ذلت او خوارۍ سره مخ کړي، کفارو ته به یو ځل زمونږ د نیکونو او باباګانو په شان د عبرت درسونه

ورکوو، ان شاء الله؛ هغه ورځې به هم راشي چې د نړۍ کفار به ذليله او خوار وي، د مسلمانانو به وربانديې حکومت او سياست وي.

## عاقبت هر وخت د مسلمانانو دی

عاقبت هر وخت د مسلمانانو په خير دی، هېڅکله مو د کفارو دبدبه او قوّت له خپل استقامت او صبر څخه په شا نه کړي، يوه ورځ به خامخا الله تعالى مسلمانانو ته بريا نصيب کوي، ځکه چې الله تعالى له خپلو بندګانو سره د کاميابۍ وعدې کړې دي، که په دنيا کې په دښمن بريالي نشو په آخرت کې خو به بريالي وو ان شاء الله؛ مونږ ته په کار ده چې صرف د خپل دين لاره ونيسو وروسته فيصلې به الله تعالى ته پرېږدو.

## کفار د مسلمانانو دوستان نشي کېدای

کفار په هېڅ وجه د مسلمانانو دوستان نشي جوړېدلای، په هره ممکنه لاره کوښښ کوي چې مونږ له دې خپل مسير او لارې څخه واړوي، مسلمانانو ته په کار ده چې د کفارو په هره خبره او هر عمل کې دښمني وګڼي، کفار هم په دې پوهيږي چې زمونږ دين حق دی او مونږ يې لارويان يو، په همدې خاطر زمونږ سره سخت حسد او دښمني لري، خپله دښمني زمونږ سره په بشر دوستۍ، روشنفکرۍ،

تعليم او داسې نورو ظاهري پوښونو کې رانغاړي او خپل د ګمراهۍ زهر زموږ په ټولنه کې شيندي.

## بيت المقدس زموږ ټولو مسلمانانو دی

د ټولنې په ځوانانو کې د بيت المقدس نظريه عامه کړئ، خپلو بې خبره مسلمانانو ته د بيت المقدس ارزښت او قدر وروښيئ، په دې خلک پوه کړئ، چې زموږ لمړی کعبه اوس د ظالمو يهودو په لاس کې ده او موږ ته د ازادۍ نارې وهي، د بيت المقدس فتحه کول يوازې د فلسطينيانو وجيبه نه ده، هر مسلمان مکلف دی چې دا د پيغمبرانو مسکن آزاد کړي او په بيت المقدس کې د فتحې لمونځ ادا کړي، ځکه چې په اسلامي مقدساتو کښې ټؤل مسلمانان سره شريک دي او ټول مسلمانان ورباندې مکلف دی، ترڅو يې آزاد کي.

## نن د اُمت د امتحان مرحله ده

نن ورځ چې مسلمانان کمزوري او مظلومان دي، دا د الله تعالی د امتحان يوه مرحله ده چې تېره به شي، ځينې مسلمانان به په دې امتحاني مرحله کښې بريالي شي او ځينې مسلمانان به پکښې ناکام او نا مراده شي، خو مسلمانانو ته په کار ده چې په هر حالت کښې خپل استقامت او صبر له لاسه ورنکړي، مسلمانان بايد هېڅکله هغه اصول او لارښوونې پرېنږدي چې الله تعالی يې ورباندې بريالي کوي،

مسلمانان باید هېڅکله له خپل دین څخه لرې نشي، هر وخت باید خپل دین په ځنګ کښې ورسره وي او د ژوند په هر پړاو کښې باید ورڅخه کار واخلي، ترڅو د ژوند په سختۍ او آسانۍ دواړو کښې بریالیتوب ترلاسه کړي.

## زمونږ ایمان زمونږ د کامیابۍ نخښه ده

زمونږ مسلماني او ایمان زمونږ د کامیابۍ نخښه ده، که په دنیا کښې هرڅومره په سختۍ سره ژوند وکړو، بیا هم له مرګ څخه وروسته زمونږ کامیابي او نیکمرغي ده، همدا زمونږ مسلماني او ایمان دی چې په دنیا کښې یې د سختیو صبر او استقامت راکړی، ځکه چې له مرګ څخه وروسته په جنت او نعمتونو ډاډمن یو.

## د دین خدمت د الله تعالی پېرزوینه ده

د دین په سر که مونږ څوک ځوروي او تعذیبوي، دا زمونږ لپاره افتخار دی، چې الله تعالی دې دین ته مونږ انتخاب کړي یو او وربانديې قرباني کوي مو، ځکه چې زمونږ قربانۍ تر دین زیات ارزښت نه لري، ارزښت خو دیدن لري چې مونږ ته د دنیا څخه تر جنت پورې لاره پرانیزي؛ الله تعالی د خپل دین ساتنه په حیواناتو او مرغانو هم کولای شي، خو دا چې مونږ یې د دین ساتنې ته انتخاب کړي یو، دا یې په مونږ لویه پېرزوینه کړې ده.

## د اسلامي امت ځوانان څوک دي؟

هغه ځوانان چې توره نشي پورته کولای، د تورې د چلولو طاقت نه لري، داسې ځوانان د اسلامي امت د ځوانانو نمایندګي نشي کولای، ځکه چې اسلامي امت د تورې او ټوپک امت دی، اسلامي امت د جهاد امت دی، د اسلامي امت ځوانان هغه څوک دي چې له کفارو او د هغه له قوّت څخه نه وېرېږي، د جهاد لاره نیسي، د تورې او ټوپک سره محبت لري، د اسلامي امت ځوانانو ته دا خوند ورکوي چې کفار وژنه وکړي؛ همدا ځوانان بیا کولای شي د امت قیادت او مشري وکړي، د امت اصیل بیچان او نمایندګان همدا دي.

## دښمن خپل ظلم نه پرېږدي

دښمن تر هغه وخته په مسلمانانو باندې مستقیم ګزارونه کوي ترڅو پورې چې دوی پوهېږي چې مسلمانان مو په مقابل کښې نه درېږي، انتقام نشي راڅخه اخیستی؛ خو کله چې پوه شي چې مسلمانان مو په مقابل کښې درېږي او د ظلم انتقام راڅخه اخلي، بیا نو له فکري اړخ څخه حمله کوي، ترڅو خپل ظلم ته په غیر مستقیم ډول دوام ورکړي او دا هم روښانه کړي چې مونږ ظلم نه بلکې بشر دوستي کوو. کفار خپل ظلم ته دوام ورکوي، هېڅکله له مسلمانانو څخه لاس نه اخلي.

## د دین لاره سختی لري

کله چې د دين خدمت ته ځان وقف کوې، له أول څخه به د سختیو او مشکلاتو تېرولو ته ځان تیاروې، ځکه چې د اسلام دين په ځمکه کښې زيات دښمنان لري، نو ځکه د دې دین سره زياتې سختی هم مل دي، خو ته په خپل سپېڅلي خدمت کښې دوه شيان خامخا درسره واخله، یو صبر درسره واخله، په خپل خدمت کښې په هر مشکل صبر کوه او د الله تعالی څخه د اجر او ثواب غوښتنه او هیله کوه، دوهم استقامت درسره واخله، د خدمت په لاره کښې به له هر مشکل سره مخ کېږې، خو هېڅکله بايد خپله اراده بدله نه کړې او خپل هدف درڅخه پاتې نشي، د دين لاره سختی او قربانی لري، خو ناکامی نه لري؛ خپل خدمت خاص د الله تعالی لپاره ترسره کوه، ستا همکاري الله تعالی کوي، هېڅکله به په نيمه لار کښې پاتې نشې.

الله تعالی فرمايي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ [سُوۡرَةُ محمّد: 7]

ژباړه: اې مؤمنانو! که تاسې د الله (د دين) سره مرسته وکړئ، نو هغه به ستاسې سره مرسته وکړي او ستاسې قدمونه به کلك کړي.

زمونږ د مرستې او نصرت وعده الله تعالی کړې ده، هېڅکله به مونږ خپل مسير او تګلاره، د ستونزو او کړاوونو په خاطر بدله نه کړو او نه به د سپېڅلي خدمت څخه په شا شو، دښمنان که هرڅو زيات او قوي

وي، مونږ په خپل رب جل جلاله ایمان لرو او د هغه د مرستې هیله کوو؛ دا د سپېڅلي خدمت لاره مونږ په پوره استقامت او صبر نیولې ده.

## کفار زمونږ له دښمنۍ څخه نه غافل کېږي

کفارو هر وخت زمونږ په خلاف خپله جګړه او دښمني روانه کړې ده او زمونږ سره په دښمنۍ کښې واقع دي، یوه لحظه له دې څخه نه غافله کېږي، د کفارو دښمني د اسلام په خلاف دوام لري، یا مستقیمه جګړه کوي چې هغه ته پوځي جګړه وایي یا غیر مستقیمه جګړه کوي چې هغه ته فکري جګړه وایي؛ په فکري جګړه کښې کفار کوښښ کوي چې په مسلمانانو کښې د دنیا او خواهشاتو محبت پیدا کړي، د جهاد جذبه پکښې کمه کړي او سپېڅلی دین راته کمزوری معرفي کړي، کفار دا دښمني په داسې حال کښې زمونږ سره کوي چې کوم دلیل او حکم هم نه لري چې په واسطه یې زمونږ په خلاف اسلحه پورته کړي، خو بیا هم ټول کوښښ کوي چې مسلمانان له منځه یوسي او یا یې د خپلې لارې ملګري کړي؛ خو مسلمانان بیا زیاتره د دې دښمنۍ څخه غافل دي، د کفارو سره دښمني په فکر کښې هم نه ورګرځي، د کفارو ظلمونه او وحشتونه یې احساس او ضمیر نه راویښوي، په داسې حال کښې چې الله تعالی په مسلمانانو دا

دښمني لازمه کړې ده، په مسلمانانو دا لازمه ده چې د کفارو سره دښمني او جهاد وکړي، خو بيا هم دې کار ته هسې څو محدود مسلمانان تيار دي، نور زياتره اوس صرف د خپلې خېټې او خواهشاتو په غم کښې تللي، تؤل په دې هڅه کښې دي چې خپله دنيا جوړه کړي، د آخرت فکر له خلکو سره نشته؛ د فکري جګړې يو هدف هم دا دی چې په مسلمانانو کښې د جهاد او قربانۍ جذبه ختمه کړي او په ځای يې د دنيا او خواهشاتو محبت پيدا کړي.

ومن الله توفيق

همت الله (حقمل) ستاسو د نيکو دعاګانو په هيله

الله تعالی دې ماته او د دغه کتاب لوستونکي ته په سپېڅلي جهاد توفيق او استقامت نصيب کړي.

# د ليکوال نور کتابونه

- جهادي فکر او روزنه (ناچاپ)
- احساس مې (شعري ټولګه) (ناچاپ)
- مجاهد پوليس او ټولنه (ناچاپ)
- لمړنی روغتيايي مرستې (ناچاپ)
- خبرې ملغلرې (ناچاپ)